

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ښاغلي مساوت خان دردان

# او ښاغلي شېر اغا هېوادمل

# ته دې په پښتنه مینه

# "ډالۍ"

# وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د هغو پتمنو پښتنو په**

**نوم چې د خپلې مورنۍ ژبې**

**"پښتو"**

**د پرمختګ لپاره له هیڅ**

**قربانۍ مخ نه اړوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کتاب نوم: پښتو ګرامر
لیکوال: کامران منګل افغان
اوډونکر: مساوت خان دردان
پښتی (ټایټل): مساوت خان دردان
پروف ریډنګ: شېر اغا هېوادمل
نېټه: ۲۰۲۰
شمېر: x
خپرونکی: معماذ خپروندویه ټولنه
د موندلو درک: بیلابیل کتابتونه

ددې کتاب ټول حقوق د کتاب لیکوال سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


انسان د خپل پیداوښت له وخته یعنې کله چې ادم علیه السلام پیدا شو، نو خبرې یې کولای شوې. لوی خدای جله جلاله د ځمکې پر مخ ټول موجودات د ادم علیه السلام مخته راوستل او ورته ویې ویل چې نومونه ورته وټاکه. د دغه نومونو په غوره کولو سره د ژبې لومړنی بنسټ اېښودل شوی دی. ددې نه جوتیږي چې انسان د ژبې سره یو ځای پیدا شوی دی.
د یو اټکل له مخې په ټوله نړۍ کې د ژبو شمېر د اووو زرو په شاوخوا کې دی. په دې ژبو کې یوه ژبه پښتو هم ده چې له اریایي ژبو څخه ګڼل کیږي، یوه بډایه او لرغونې ژبه ده چې عمر یې زرګونو کلونو ته رسیږي، او هر مهال یې ورته ویونکو چوپړ وهلی دی او تر مونږ یې ژوندۍ رارسولې ده. هره ژبه دوې بڼې لري چې یوه یې ګړدودي او بله لیکنۍ بڼه ده. ګړدود د هر سیمې بدل کېدای شي، خو لیکنۍ بڼه یې یولیکدود او ژبدود ته اړمنه ده. ځکه خو ښاغلي کامران منګل افغان صیب په ډېر زیار سره د کره ژبدود کار سر ته د رسولو لپاره ډېر زیار باسلی دی چې موږ ته د کره پښتو په هکله ډېر ګټور مالومات راکړي. د پښتو ژبې کراړه او للمه سیمه به په ښه ډول وځړوبوي. هیله ده چې دا کتاب به په لروبره پښتونخوا کې د دودیزو زدکړو لپاره وکارېږي، نو له زدکړیالانو سره به ښوونکي هم ترینه ګټه ترلاسه کړي. Musawat Khan

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سریزه

پښتو ژبه، چې له اریایي ژبو څخه ګڼل کېږي، یوه بډایه او لرغونې ژبه ده چې د منځته راتلو مخینه یې زرګونو کلونو ته رسېږي، او هر مهال یې ورته ویونکو چوپړ وهلی دی او تر مونږ یې ژوندۍ رارسولې ده. دا زموږ د نیکونو د چوپړونو پایله ده چې نن موږ چې نن موږ د یوې ژوندۍ ژبې څښتنان یو. د تاریخ په اوږدو کې پښتو له ځلېدا او ځوړرتیا سره د وخت واکمنو مخ کړې ده، خو له ښه مرغه د ژمنو پښتنو د هڅو او بلهاریو له لامله پښتو خپل ټینګاو او پایښت وساته او نن د ژوندیو ژبو په لیکه کې خپله ځلا نورو ته ښیي، خو دا بهیر بیا هم له ستونزو او ننګونو خالي نه دی، بلکې پر وړاندې یې ډېرې نادودې اوس هم شته چې د هڅو او زیار له کولو پرته یې هوارول ستونزمن دي. د کره پښتو د زدکړې په پار د یېګانو زده کړه او په لیکنه کې یې په بشپړه توګه کارول هغه څه دي چې نن یې ارزښت ټولو ته جوت دی او هغوی چې دې برخې ته یې پام نه دی کړی، نن یې په لیکنو کې له ورایه ناسمې جوتېږي او د لیکنو نیمګړتیاوې یې ټولو ته برېښي. د دې کتاب لوستل به له لوستونکو سره مرسته وکړي، چې د لیکدود او ژبدود یا ګرامر پر ارزښت او کارونې وپوهېږي او په لیکدودیزو توپیرونو یې ځانونه پوه کړي. یوه کره او معیاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنۍ ژبه هغه ده چې د لیکدود او ژبدود (ګرامر) له مخې سمه وي. دا هم د یادونې وړ ده چې لیکدود او ژبدود د ژبې بنسټیزې متې یا ستنې دي او د ژبپوهنې په چوکاټ کې ډېر مهم رول لوبوي. د پښتو ژبې د سمون او خوندیتوب په موخه دغه کتاب لیکل شوی دی او هیله ده چې د لوستونکو ته په ګټه تمام شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لړليک


| شمېر | سرليکونه | مخ شمېر |
|---|---|---|
| 1 | ژبه او ارزښت يې (پېژندون) | 15 |
| 2 | د ژبې اړخونه | 15-16 |
| 3 | د پښتو توري او غږونه<br>(د پښتو توري يا الفبېڅې، توري او بېلګې، د 'ه' ډولونه، د پښتو ژبې ځانګړي توري، د پارسۍ او پښتو ګډ توري، د عربۍ او پښتو ګډ توري) | 17 |
| 4 | د غږ ډولونه<br>* خپلواک غږ<br>* بېواک غږ<br>* غبرګ غږ<br>* د IPA له مخې نړيوال غږونه | 19 |
| 5 | ګړپوهنه<br>* ګړ<br>* (خپلواک ګړ، نيم خپلواک ګړ، ناخپلواک ګړ)<br>* (تاړی، وروستاړی، مختاړی) | 21 |
| 6 | د ويېونو (لغتونو) ډولونه | 35 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | * تړښت<br>(تړښتی نوم، تړښتی کړ، تړښتی ستاینوم، تړښتی کړول)<br>* بیلښت (اشتقاق) | |
| 7 | د وېنا مهمې برخې | 41 |
| 8 | نوم<br>* د نوم ډولونه<br>(ټولنوم، ځانګړنوم، ذات نوم، مانا نوم) | 41 |
| 9 | کړ<br>* د کړ پېژندون<br>* د کړ ډولونه<br>* متعدي کړ (سیده مفعول،ناسیده مفعول)<br>* (لازمي کړ، چارکړ، مرستیال کړ)<br>* ناخبرۍ وجه<br>(ارماني تېرمهال، شرطي تېرمهال، ټینګاري تېرمهال، تواني تېرمهال، ګوماني تېرمهال، سپارښتي تېرمهال، اړوتي یا شرطي، تواني)<br>* د ناخبرۍ وجې حالتونه په نابشپړ اوسمهال کې | 43 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | (سپارښتي، ټينګاري، دعايي او غوښتني، امري او جريان، ارماني)<br>* د ناخبري وجې حالتونه په بشپړ اوسمهال کې<br>( اړوتي يا شرطي، تواني، سپارښتي، ټينګاري، امري، ارماني) | |
| 10 | ستاينوم<br>د ستاينوم ډولونه<br>[برستاينوم، لرستاينوم، بېواک غږونه، بېلښتي ستاينومونه (له کړونو رغېدلي، له نومونو رغېدلي)]<br>د ستاينومونو درجې | 58 |
| 11 | نومځري<br>[پياوړي ځاني نومځري، کمزوري ځاني نومځري، د تول يا څښتنوالي نومځري، مفعولي نومځري (ناسيده مفعولي نومځرى) پوښتنومځري، د نغوتې/اشارې نومځري، اړيکنومځري] | 68 |
| 12 | کړول<br>(ستاينوميز کړولونه، مهالي کړولونه، ځايي کړولونه، د څرنګوالي کړولونه، د | 76 |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| | اندازې کړولونه، د نفي کړولونه، د لامل کړولونه، د شونتیا کړولونه) | |
| 13 | اړیکوییکی<br>(تړ اړیکوییکي، رابطه اړیکوییکې، همکار یا بشپړاند اړیکوییکي) | 78 |
| 14 | سربل او وستربل | 82 |
| 15 | نرینه او ښځینه نومونه پېژندل<br>د نرینه او ښځینه نومونو یوګړی او ډېر ګړی | 84-88 |
| 16 | ژبنی سمون | 93 |
| 17 | د پښتو یېګانې | 95 |
| 18 | نرمه "ی" | 95 |
| 19 | اوږده "ې" | 99 |
| 20 | څرګنده "ي" | 104 |
| 21 | ښځینه "ۍ" | 107 |
| 22 | همزواله "ئ" | 111 |
| 23 | لومړۍ کیسه | 115 |
| 24 | دویمه کیسه | 117 |
| 25 | یو واو (و) که دوه واوونه (وو)؟ | 120 |
| 26 | يځ، یز او ییز وروستاړي | 121 |
| 27 | مهالونه | 123 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| 28 | نابشپړ اوسمهال<br>* د نابشپړ اوسمهال جوړښت<br>جاري اوسمهال | 126<br><br>129 |
| 29 | ساده بشپړ تېرمهال<br>* د ساده بشپړ تېرمهال جوړښت<br>* د متعدي کړونو اوړون<br>* د لازمي کړونو اوړون<br>* ځینې لازمي کړونه<br>* د چار کړ اوړون<br>* ځینې چار کړونه | 130 |
| 30 | نابشپړ تېرمهال<br>* ځینې لازمي کړونه<br>* ځینې چار کړونه | 139 |
| 31 | نژدې بشپړ تېرمهال<br>* د نژدې بشپړ تېرمهال جوړښت<br>* ځینې چار کړونه<br>* لیرې بشپړتېرمهال<br>* جوړښت<br>* د لازمي کړونو جوړښت<br>* ځینې چار کړونه | 144<br><br><br>150 |
| 32 | روږدني (اعتیاري) نابشپړ تېرمهال<br>* جوړښت | 155 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | * ځینې لازمي کړونه<br>* ځینې چار کړونه | |
| 33 | ساده بشپړ راتلونکی مهال<br>نژدې بشپړ راتلونکی مهال<br>نابشپړ راتلونکی مهال | 158<br>161<br>164 |
| 34 | بېچار غږ | 171 |
| 35 | ناسیده وینا<br>* د راتلونکو مهالونو بڼې نه بدلیږي<br>* فرضي او شرطي مهالونه نه بدلیږي | 177 |
| 36 | د پښتو ژبدودیز پېرونه<br>* کړند پېر<br>* اوښتی یا مغیره پېر<br>ا. لومړی حالت: تولپېر<br>ب. دویم حالت: سربلپېر<br>ج. دریېم حالت: بلنپېر<br>د. څلورم حالت: تېرمهال<br>ر. مفعول پېر | 182 |
| 37 | غونډله او ډولونه یې<br>* د غونډلې پېژندون<br>ا. ستاینوم غونډله<br>ب. کړولغونډله | 192 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| 38 | مهم لیکدودیز توپیرونه<br>[زدکړه/زده کړه، یوازې/یواځې، کلیځه/<br>کالیځه، پیل/پېل، ښیي/ښایي، اوس/وس،<br>زه/ځه، پرخه/پرښه، پښه/پخه،<br>پر او په توپیر،<br>(* د 'پر' د کارونې حالتونه<br>* د 'په' د کارونې حالتونه)<br>په کې/پکې، په خپله/پخپله، له خوا/لخوا،<br>همداسې/هم داسې، که نه/ کنه] | 198 |
| 39 | تړ وییونه او ارزښت یې په لیکنه کې | 212 |
| | د تمرین ځوابونه | 226 |
| 40 | وییپانګه | 240 |
| 41 | اخځلیکونه | 244 |

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ژبه اوارزښت يې

**پيژندون:**

ژبه په ربښتينې بڼه يوه ټولنيزه، کلتوري ښکارنده (پديده) ده او په ټوليزه توګه د ټولنې د غړو ترمنځ د هر ډول اړيکو وسيله بلل کيږي، که هغه اړيکې په اشاروي توګه دي او يا د نښو له لارې. ژبه په ورته ډول د يو لړويزو او اوريزو سېمبولونو يوه ټولګه بلل کيږي چې هر يو يې زموږ د ذهني انځور استازيتوب کوي.

**د ژبې اړخونه:**

هره ژبه يوه ګړنۍ او يوه ليکنۍ بڼه لري. ګړنۍ ژبه ډېر بېلابېل ډولونه لري چې ګړدودونه يا لهجې ورته ويلای شو. ياده ژبه په ورځني او کورني ژوند کې د ټولنيزو خلکو په منځ کې کارول کيږي. ګړنۍ ژبه، څنګه چې يې له نومه جوتيږي، د ګړېدو (غږېدو) يا خبرې کولو پر مهال کارېږي. د هرې ليرې سيمې ګړنۍ ژبه وينګيز (تلفظي) او لږ شان ګرامري توپير لري، لکه موږ چې وايو، هر کيلومتړ ژبه کې بدلون راځي. په ليکنۍ يا کتابي ژبه کې ګړنۍ يا ګړدوديزه بڼه نه کارول کيږي، له استوزو (مسېجونو او چټونو) پرته، چې هلته يې ځينې وګړي کاروي. ادبي/کره ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا اکثر لیکنۍ یا کتابي ژبه وي. نوموړې ژبه د ژبپوهنې پر بنسټ منځ ته راځي او د ټولو ویونکو/ لوستونکو لپاره یو ډول وي.

کره ژبه له دوو اړینو برخو څخه جوړه ده، چې یوه یې معیاري لیکدود او ژبدود. ادبي/کره ژبه د ښوونځیو، د کتابتونو، د رسنیو، د ادارو، د دوترونو، د اقتصاد، ټکنولوژۍ، ساینسپوهنې، درملپوهنې ژبه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د پښتو توري او غږونه

## د پښتو توري یا الفبېځي:

ا ب پ ت ټ ن ڼ ث ه ح خ ج چ څ ځ ع غ ف ق ص ض
ګ ک م ل و ر ړ ز ژ ږ د ډ ذ س ش ښ ط ظ ی ي ې ۍ ئ

## توري او بېلګې:

| بېلګه | توری | بېلګه | توری | بېلګه | توری |
|---|---|---|---|---|---|
| ژبه | ژ | ځای | ځ | اس | ا |
| ږلۍ | ږ | علم | ع | بیزو | ب |
| دلته | د | غر | غ | پاڼه | پ |
| ډول | ډ | فکر | ف | تور | ت |
| ذکر | ذ | قران | ق | ټول | ټ |
| سیند | س | صحیح | ص | نس | ن |
| شپه | ش | ضمیر | ض | منه | ڼ |
| ښایسته | ښ | ګل | ګ | ثواب | ث |
| طریقه | ط | کور | ک | مینه | ه |
| ظالم | ظ | مور | م | هیله | ه |
| سړی | نرمه ی | لار | ل | حل | ح |
| ژوي | ځرګنده ي | ورور | و | خور | خ |
| چې | اوږده ي | ربیځ | ر | جانان | ج |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| چ | چېرته | ډ | ډوند | ښځینه ی | نړی |
| څ | څانګه | ز | زړه | همزواله ئ | راځئ |

ه او و په پښتو کې د درېیو غږونو لپاره د توري په توګه کارېږي:

**د "ه" ډولونه:**

زور: مینه، دلته،هیله داسې نور

زورکی: زه، لېوه، تره (کاکا)

بېواکه هې: هیله، هېواد، بهر

**د "و" ډولونه:**

لنډ واو (u): موږ، لور (ښځینه اولاد)، کوږ

اوږد واو (o): مور،کور، لور ( درېبلو اله)

بېواک واو (w): ور، ژوند، نوی

**د پښتو ژبې ځانګړي توري:**

ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ، ې، ی،

**د پارسۍ او پښتو ګډ توري:**

پ، چ، ژ، ګ

د عربۍ او پښتو ګډ توري، چې په پښتو کې د عربۍ وییونو لپاره کارول کیږي:

ا،ض، ط، ظ، ع، ف، ق...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غږ ډولونه

### خپلواک غږ:

خپلواک غږونه هغه اوازونه دي چې د دوی د وینګ ادا پر وخت د هوا جریان په خوله کې له هېڅ ډول خنډ سره نه مخامخېږي.

**په پښتو کې اووه (۷) خپلواک غږونه دي:**

1. زور لکه منه، هیله
2. زورکی لکه زه، اوږه
3. الف لکه ښار، اس
4. اوږد (و) لکه لوی، خور
5. لنډ (و) لکه لوند، موږ
6. اوږده (ې) لکه لاندې، داسې
7. څرګنده (ي) لکه سړي (جمع)، غوړي

| | | | |
|---|---|---|---|
| زور (a) | زورکی (ə) | اوږد و (o) | لنډ و (u) |
| ا (aa) | اوږده ې (e) | څرګنده ي (i) | --- |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بېواک غږ:**

بېواک یا کانسوننټ غږونه هغه اوازونه دي چې د دوی د وینګ ادا پر وخت د هوا بهیر له څنډ سره مخېږي.

**بېواک غږونه په پښتو کې دا لاندېني دي:**

چ/ج/خ/څ/ځ/غ/ه/ګ/ډ/د/ک/م/ن/ڼ/ت/ټ/ل/ب/پ/ی/س/ ش/ښ/بېواک "و"/ ر/ ړ/ ږ/ ژ/ ز/+ح/ف/ث/ق/ص/ض/ذ/ط/

**غبرګ غږ:** غبرګ غږونه هغه اوازونه دي چې له دوو خپلواکو غږونو جوړ وي.

| جوړښت | بېلګه | وینګ |
|---|---|---|
| ی | سړی، نری | ai |
| ا + ی | ځای، چای | a:i |
| ی/ ئ | ډوډی، راشئ | əi |
| ا+و | کړاو، پړاو | a:u |
| اوږد و + ی | زوی، لوی | oi |
| لنډ و+ی | خوی، بوی | ui |
| ې + و | دېو، غرېو | ew |
| ي + و | تریو | iw |
| زور + و | کنډو، پلو، یو | aw |
| | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو نړیوال غږیز یا فونیمیک غږونه د IPA له مخې:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ی . . ai | م . . m | د . . . d | ت . . . t | ا . . . a |
| ۍ . . əi | ي ...j | ډ . . . ɖ | ټ . . . ʈ | ب . . b |
| ئ . . əi | ې . . . e | ر . . . r | خ . . . x | پ . . p |
| بېواک و . . . . w | | ړ ... ɻ | ن . . . n | ښ ... ç |
| زور . . . . a | | ز . . . z | ڼ . . . ɳ | غ . . . ɣ |
| زورکی ....ɘ | | ژ . . . ʒ | ج .. ʤ | ک . . . k |
| اوږد واو . . . . o | | ږ . . ʝ | چ . . . ʧ | ګ . . g |
| لنډ واو . . . . u | | س . . s | څ . . ʦ | ه . . . h |
| کله چې مونږ ع ف ق ث ص ض ذ ط ظ | | ش ...ʃ | ځ . ʥ | ل . . . l |
| په ای پي کې لیکل غواړو، نو د پښتو د تلفظ له مخې به يې ليکو. d ,s, s, z,t,z,z | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ګړپوهنه

**ګړ:**

ګړ د یوې ژبې تر ټولو کوچنی مانیز توکی یا عنصر دی چې له دوو یا ډېرو فونیمونو یا غږونو جوړ وي.

په ټولیز ډول ګړونه په درې ډلو وېشل کیږي، چې یو ډول یې خپلواک، بل یې ناخپلواک او بل یې نیم خپلواک ګړ دی.

**خپلواک ګړ:**

دا ډول ګړونه ازاد وي او په غونډله (جمله) کې یواځې او له یوې ځانګړې مانا سره راتلای شي لکه کتاب، هلک، غر او داسې نور.

**نیم خپلواک ګړ:**

هغه ګړ ته ویل کیږي چې په جمله کې خپلواک وي، خو ژبدودیزه(ګرامري) دنده یا وظیفه یې د ازادو ګړونو په ملتیا څرګندیږي.

**په نیمو ازادو ګړونو کې راځي:**

**وییکي (ادات/ پارټیکلونه):**

د ملکیت یا تول وییکي => "د"

د نفي وییکی=> "نه" او "مه"

(c) ketabton.com: The Digital Library


اړیکوییکی: او، چې، که، ځکه، خو، بلکې، نو . . . .

**سربلونه او وستربلونه:**

۱. سربل => په، پر له، تر . . . . . . . .

۲. وستربل => کې، سره، لاندې، باندې، پورې، څخه . . .

**ناخپلواک ګړ:**

هغه ګړ دی چې خپلواکو ګړونو پورې تړل کیږي او د هغوی مانا بدلوي یا یو ډول ګرامري بدلون ورکوي. ناخپلواک ګړونه که چېرې یواځې په غونډله کې راشي، نو کومه ځانګړې مانا نه ورکوي.

**د روښانولو لپاره یوه بېلګه:**

هلکان: دغه نوم له یو خپلواک ګړ "هلک" او له یو ناخپلواک ګړ "ان" رغېدلی چې د هلک ډېرګړی (جمع) څرګندوي.

**تاړی:**

څنګه چې یې له نوم جوتېږي، یو تړلی یا ناخپلواک ګړ دی چې نومونو پسې تړل کیږي او یو نوې مانا لرونکی ویی پنځوي. تاړی د نوم څرنګوالی، نوږی (جنس) او عدد ټاکي. تاړي په ټولیز ډول په درې ډلو وېشل کیږي او هغه مختاړي، وروستاړي صرفي تاړی/ ځایناستي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**وروستاړی:**

دا هغه تاړی دی چې له یوې کلیمې سره په پای کې نښلول کیږي او ریښیز لغت له نوې مانا سره راوړي. ځینې وروستاړي چې یو کړ پسې وتړل شي، نو یا یې فاعلي او یا یې نومیزه (اسمي) بڼه ټاکي. که ځینې وروستاړي نومونو پسې وتړل شي، نو ستاینومونه ترې جوړوي.

لاندېني فاعلي وروستاړي دي او په کړنه دلالت کوي۔

ونی: ننوونی (چنونی)، سپینوونی ( چاکو ډوله اله، چې له مېوو او سابو پوستکی لیرې کوي).

ونکی/ وونکی - ونکې/ وونکې: شنونکی، لیدونکی، ښوونکی، کوونکی (چې په پایی کې یې اوږده "ې" وي، بیا یې ښځینه بڼه څرګندوي)

ګر (ه): بریدګر، کروندګر، کوډګر

اند (ه): انځوراند (عکاس)، سپړاند

وال (ه): ولسوال، وسله وال، مینه وال

دوی (ه): ساتندوی، څارندوی (پولیس)

لاندېني وروستاړي د کړ نومیزه (اسمي) بڼه ټاکي:

نه/ ونه: کارونه (استعمال)، غوښتنه، تړلونه او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


نګ: وینګ،ترنګ، ګړنګ، ننګ، غورځنګ

او: تړاو، لګاو، رغاو، پړاو

لاندېني وروستاړي له ستاینومونو څخه نومونه جوړوي:

تیا: پراختیا، چوپتیا . . .

توب: بریالیتوب، ماشومتوب . . .

والی: ستروالی، سپینوالی، یووالی . . .

والي: ولسوالي، ښاروالي . . .

ي: خوشالي، خوښي، هوښیاري . . .

لاندېني وروستاړي له نومونو څخه ستیانومونه جوړوي:

من/ منه: دغه ورستاړی د "لرلو" مانا ورکوي لکه هیله من، اغېزمن، ستونزمن... که "ه" ورزیات شي، نو بیا یې ښځینه بڼه څرګندوي یانې هیله منه، اغېزمنه

ناک / ناکه: دغه وروستاړی د " کولو یا اغېز پرېښودو" مانا ورکوي لکه اغېزناک (اغېز لرونکی)، غوسه ناک، خطرناک . . که "ه" ورزیات شي، نو بیا یې ښځینه بڼه څرګندوي.

یز / ییز / یزه/ ییزه: دغه وروستاړی اړوندتوب ښیي لکه ټولنیز (د ټولنې اړوند)، سوله ییز، اړخیز، مانیز، . . که "ه" ورزیات

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي، نو بيا يې ښځينه بڼه څرګندوي.
يي: دغه وروستاړی اړوندتوب ښيي لکه برېښنايي، هوسايي، نشيي (نشه يي) . . .

ور / وره: دغه وروستاړی د " لرل" يا " ترې جوړول" مانا ورکوي لکه:
* زورور (له زور + ور = زور لرونکی)
* سپکور (له سپک + ور = ډېره انرژي لرونکی)
ين / ينه: دغه وروستاړی هم لکه ور د " لرل" يا ترې "جوړېدل" مانا ورکوي لکه:
* زرين (زر+ ين = طلايي)
* لرګين ( لرګی+ ين = چې لرګي پکې کارول شـــوي وي يا له لرګيو جوړ وي)

**ځانګړي وروستاړي:**
دغه وروستاړي کومې ځانګړې ډلې پورې اړه نه لري، خو واړه نومونه جوړوي:
ښت: خوځښت، پښت، زړښت، اوربښت . .. .
نګ: ننګ، غورځنګ، وينګ .. .
او: نياو (انصاف)، ټينګاو (مقاومت)، رغاو (رغېدنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی: په کړنه دلالت کوي لکه درناوی، سپیناوی او داسې نور

**مختاړی:**

دا هغه تاړی دی چې له کلیمې سره په پیل کې نښلول کیږي او ریښنیز نوم له نوې مانا سره راوړي. ځینې مختاړي، د وروستاړو غوندې، چې یو کړ پسې وتړل شي، نو بیا یې فاعلي او یا یې نومیزه (اسمي) بڼه ټاکي. که ځینې مختاړي نومونو پسې وتړل شي، نو ستاینومونه ترې جوړوي.

۱) لاندېني مختاړي تړښتي (ترکیبي) ستاینومونه جوړوي:

بې: مختاړی + نوم لکه بېشمېره، بېسده . . . . . . . .

هم: مختاړی + نوم لکه همغږی، هممهال . . . . . . . .

یو: عدد + نوم لکه یولاسی، یوموټی . . . . . . . . . . .

ګڼ: ستاینوم + نوم لکه ګڼشمېر، ګڼرنګه . . . . . . .

نېک: ستاینوم + نوم لکه نېکمرغه، نېکمل . . . . . .

بد: ستاینوم + نوم لکه بدمرغه، بدرنګه . . . .. . . . .

بډ: ستاینوم + نوم لکه بډګوند (مخالف حزب) . . . . .

کم: ستاینوم + نوم لکه کمزوری، کممنګی (کم عمره)....

خوا: نوم + ستاینوم: خوابدی، خواشینی ....

لاندېني مختاړي کړونو پسې تړل کیږي او مانا یې بدلوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرې: پرې کول، پرېښودل، پرېوتل . . .

تېر: تېروتل، تېراېستل . . .

**تمرين:**

په لاندېنيو وييونو کې وروستاړي / مختاړي په نښه کړئ او ورسره وليکئ، چې دلته د مخکېني لوست پر بنسټ دا تاړي کوم رول لوبوي. لومړی يو ستاسو لپاره حل شوی:

ناسم: دلته نا مختاړی دی او د سم بڼه / مخالفه مانا ورکوي او يو ستاينوم دی.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| بېکاره | نرۍ | شنونکی | کروندګر | ناسمي |
| تېروتنه | هيلمن | مانيز | پياوړتيا | ګړدود |
| سړي | خوشالۍ | ولسواله | کوچنيوالی | پلټاند |
| سړيتوب | خاورين | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صرفي تاړی:

صرفي تاړی هغه تاړی دی چې وییونو پسې نښلول کېږي چې یوه ځانګړې ژبدودیزه (ګرامري) بڼه خپله کړي. هغه کس، شمېر، مهال، او جنس کېدای شي. دوی د وروستاړو او مختاړو غوندې د نوم مانا **نه** بدلوي.

یوه ډله د کړ اوړون (فعلي ګردان) پایونه دي چې کس څرګندوي: م/ ې/ ي/ و/ ئ

**زه:** (م) لکه زه کوم، زه ژاړم/ خاندم
**ته:** (ې) لکه ته کوې، ته ژاړې/ خاندې
**هغه:** (ي) لکه هغه کوي، هغه ژاړي/ خاندي
**موږ:** (و) لکه موږ کوو، موږ ژاړو/ خاندو
**تاسو:** (ئ) لکه تاسو کوئ، تاسو ژاړئ/ خاندئ
**هغوي:** (ي) لکه هغوي کوي، هغوي ژاړي/ خاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تېرمهال کړ اوړون پایونه چې شمېر او نوږی څرګندوي: ی/ ې/ ه / ي/ ل

**ی:**

له کړ (فعل) سره په تېرمهال کې د مفعول یا فاعل برابرونې لپاره چې نرینه یوګړې وي لکه:

" ما کار کړی دی" => کار نرینه یوګړی دی، نو "کړی" او "دی" په نرمه ی راځي.

**ې:**

دا هم د نرمې ی غوندې له کړ (فعل) سره په تېرمهال کې د مفعول یا فاعل برابرونې لپاره راځي چې هم ښځینه یوګړی او ډېرګړی(جمع) وي لکه:

" ما لیکنه کړې ده" => لیکنه ښځینه یوګړی دی، نو "کړې" په ې راځي.

"ما لیکنې کړې دي" => لیکنې ډېرګړی دی، نو دا "کړې" هم په اوږده ې راځي او یوازې "دي" په څرګنده ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ي:**

دا هم له کړ سره په تېرمهال کې د مفعول یا فاعل برابرونې لپاره راځي چې نرینه ډېرګړی وي لکه:

" ما کارونه کړي دي" => کارونه نرینه ډېر ګړي دي، نو "کړي " او "دي" په "ي" راځي.

**یادونه:** مرستیال کړ په جمع کې دواړو جسنونو لپاره یو شان پاتېږي – یانې 'دي'.

**ل:**

له کړ (فعل) سره په تېرمهال کې د مفعول یا فاعل برابرونې لپاره راځي چې نرینه ډېرګړی وي لکه:

" ما کارونه وکړل" "کارونه" نرینه ډېرګړي دی، نو "وکړل" په "ل" راځي.

**و:**

یاد تاړی په پښتو کې یو صرفي تاړی دی چې په بېلابېلو حالتونو کې د کړ تر ستې مخته راځي او هغه توصیفوي.

په تولیز ډول، دغه تاړی د کړنې بشپړتیا یا مطلقیت ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه تاړی اکثر په هغو کړونو (فعلونو) کې کارېږي چې لېږند یا نالېږند (متعدي & لازمي) وي لکه نیول، کول، خوړل، ویل، لیدل، لمبېدل او داسې نور.
که چېرې یو کړ له یو ستاینوم یا کړول (قید) منځ ته راغلی وي لکه سړول، خفه کول، پورته کول او ورته، بیا د کړ تر ستېې مخته و تاړی نه راځي. په لنډو ټکو، اکثر د هغو کړونو په مخ کې راځي چې خپلواک وي او ترکیبي کړونه نه وي.

د اوسمهال په دې لاندېنیو حالتونو لپاره:
لومړی: شرطي جملې په "که" اړیکوییکي په مرسته که دغه وکړې، بیا درسره مرسته کوم.
کله چې دې راته وویل، نو غوښتنه به دې ومنم.

دویم:په پوښتنو کې کله چې باید کړنې یو ځل او په بشپړ ډول ترسره شي:
زه دغه کار وکړم؟
هغه څه درته ووایي؟
دریېم: تر مرستیال کړ (فعل) "باید" وروسته هغه باید داسې خبرې ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته باید دغه پوستې هغه ته ولیږې.
څلورم: یو کس ته د امر لپاره
دغه تار ونیسه!
ژر ولمبیږه!

پنځم: ګواښ ورکول
که دغه کار دې وکړ، نو بیا دې له دندې ګوښه کوي.

شپږم: په ساده بشپړ راتلونکي مهال کې تر "به" مرستیال کړ وروسته
زه به دغه ویډیو وګورم.
هغه به پر دې یو څه ولیکي.

د تېرمهال په دې لاندېنیو حالتونو کې:
اووم: ساده بشپړ تېرمهال کې چې کله یوه کړنه یا عمل په بشپړ ډول یا مطلق ترسره شوی وي:
هغې د ننګیال خبرې پورې وخندل.
مونږ یو څو پوښتنې ترې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اتم: په پوښتنو کې کله چې باید کړنې یو ځل او په بشپړ ډول ترسره شي:
هغه څه وکړل؟
ما څه درته وویل؟

نهم: تر "غوښتل" (کړ) وروسته، یا په بله وینا، کله چې یوه غوښتنه څرګندول غواړو
زه غواړم چې له تا سره ووینم.
هغه غواړي چې ډوډۍ وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ویپونو (لغتونو) ډولونه

**ترښت (ترکیب):**
ترښتي یا ترلي وییونه هغه وییونه دي چې له دوو یا ډېرو خپلواکو ګړونو (مورفیمونو) جوړ وي او یوه نوې مانا ښندي. په پښتو کې ترلي وییونه پر ترښتي نومونو، ستاینومونو (صفتونو)، کړونو (فعلونو) او ترښتي کړولونو وېشل کېږي.

**ترښتي نوم:**
هغه نوم دی چې له دوو یا ډېرو بېلو ماناوو لرونکو ګړونو جوړ وي او له وحدت سره یې نوې مانا لرونکی نوم رامنځته کوي.
۱) نوم + نوم: پیشپړانګ، لاسګاډی، برېښنالیک، لیکدود، ښوونځی، ځانمرګی، ګلپاڼه ...
۲) ستاینوم + نوم: سورګل، سپینغر، رنګینتال (بوډۍ ټال)...
۳) نوم + نوم + نوم: کتابپلورنځی
یادونه: ټول ترښــتي نومونه یوځای لیکل کېږي، دا چې د یو شي مفهوم ترې اخیســـتل کېږي لکه د لیکدود یا ځانمرګی پر ځای لیکدود او ځان مرګی لیکل ناسمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ترښتي کړ:**

هغه کړ دی چې له دوو یا ډېرو بېلو ماناوو لرونکو ګړونو جوړ وي او له وحدت سره یې نوې مانا لرونکی کړ رامنځته کیږي.

۱) سربل + کړ: پرېښودل، پرېکول، کېناستل . . .

۲) کړول + کړ: تېرباسل، تېروتل . . .

۳) نوم + مرستیال کړ 'کېدل': جنګېدل، ژړېدل

۴) ستاینوم + مرستیال کړ 'کېدل': سړېدل، تودېدل

۵) ترښتي کړونه د مرستیال کړونو کول په مرسته

نوم + کول: فکر کول، پرېکړه کول...

ستاینوم + کول: خوشالول، خفه کول...

**ترښتي ستاینوم:**

هغه ستاینوم دی چې له دوو یا ډېرو بېلو ماناوو لرونکو ګړونو جوړ وي او له وحدت سره یې نوې مانا لرونکی ستاینوم رامنځته کیږي.

**۱) نوم + ستاینوم:**

خوابدی، خواخوږی = خوا (نوم) + بد / خوږ ( ستاینوم)

**۲) نوم + کړ:**

جنګځپلی، زیارکښ ( ځپل او کښل کړونه دي)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۳) ستاینوم + نوم:**

پړمخ، بدمرغه، نېکمرغه، سپينسترګی، کمزوری ...

**۴) کړول + نوم:**

نیمژبی، نیمګړی، ډېرپېښنی ...

**ترښتي کړول:**

هغه کړول دی چې له دوو یا ډېرو بېلو ماناوو لرونکو ګړونو جوړ وي او له وحدت سره یې نوې مانا لرونکی کړول رامنځته کیږي.

**۱) نوم + سربل / وستربل:**

مخکې، شاته ( مخ نوم دی، کې وستربل او همدارنګه شا نوم او (ته) وستربل دی )

**۲) سربل + نوم + وستربل:**

په تېزۍ سره، په چټکۍ سره . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بېلښت (اشتقاق):

بېلښتي وییونه هغه وییونه دي چې له یو خپلواک ګړ، کوم چې هممهال د ویي (لفظ) ریښه بلل کېږي، او یو یا ډېرو ناخپلواکو ګړونو رغېدلي وي او یوه نوې مانا پنځوي. خپلواک ګړ په یوه غونډله (جمله) کې یواځې (تنها) او له خپلې ځانګړې مانا سره راتلای شي، خو ناخپلواک ګړ یواځې نه شي راتلای، که راشي، کومه مانا نه ورکوي. له همدې کبله ناخپلواک ګړونه خپلواکو ګړونو پسې تړل کېږي او یو نوې مانا لرونکي ویی رامنځته کوي.

**یوه بېلګه د رڼاوي لپاره:**

۱) ناسم: "سم" خپلواک ګړ دی او ځانګړې مانا لري او "نا" یو ناخپلواک ګړ دی چې یواځې نه شې کارېدای او د "سم" مانا بدلوي.

۲) کروندګر: "کرونده" خپلواک ګړ دی او "ګر" ناخپلواک او په ګډه نوی ویی رامنځته کوي.

ناخپلواک ګړونه په دوو ډلو وېشـــل کېږي، چې یوه یې مختاړی دي او بله وروســـتاړی. مختاړي تر یو ویي مخکې راځي لکه په لومړنۍ بېلګه (ناسـم) کې "نا" او وروســتاړي د ویي په پای کې راځي لکـه پهـدویمـه بېلګـه (کرونـدګر) کې دا ګر.

د ځینو تاړو ( مخ او وروســتاړي) په مرســته نومونه جوړېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ځینو په مرسته کېږونه (فعلونه) او ستاینومونه.

**د مختاړو بېلګې:**

**بې:** بېشمېره، بېکچه، بېخونده او داسې نور

**هم:** همغږی، هممهال، همزولی او داسې نور

**نا:** ناسم، ناخوښ، ناولی او داسې نور

**غیر:** غیر مستقیم، غیر قانوني

**د وروستاړو بېلګې:**

**ونکی:** شنونکی، ښوونکی، خوښوونکی او داسې نور

**یادونه:** ونکې په ې یې بیا ښځینه بڼه ښیي

**ګر:** بریدګر، کروندګر، زرګر او داسې نور

**یادونه:** ګره په' ه ' یې بیا ښځینه بڼه ښیي

**اند:** انځوراند، بهاند، حپاند او داسې نور

**یادونه:** انده په ه یې بیا ښځینه بڼه ښیي

**وال:** ولسوال، مېنوال، وسلوال او داسې نور

**یادونه:** واله په ه یې بیا ښځینه بڼه ښیي

**دوی:** ساتندوی، منندوی، بولندوی (قوماندان) او داسې نور

**یادونه:** دویه په ه یې بیا ښځینه بڼه ښیي

**نه/ونه:** بندېدنه، نمانځنه، غوښتنه او داسې نور

**تیا:** پراختیا، چوپتیا، پیاوړتیا او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


**توب:** بریالیتوب، ماشومتوب، لېونتوب او داسې نور
**تون:** پوهنتون، مړستون (قبر)، نندارتون (نمایشګاه) او داسې نور
**غالی:** لوبغالی (ستېډیم)، اورغالی (د اور بلوولو ځای)
**یادونه:** د دې اړوند سپړنیز معلومات په مخکېنې څپرکي کې درښودل شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وینا مهمې برخې

**نوم:**

نوم هغه کلیمه ده، چې یو وګړی، ځای، څیز او احساس نوموي.

وګړی: اتل، ننګیال، ځلاند . . .

ځای: امریکا، لندن، کابل ، اسیا، ټاپو . . .

څیز: تیږه، منه، بکس، کټ . . .

احساس: ډار، خندا، غوسه، ویاړ . . .

یادونه: ټړښتي او بېلښتي نومونه په تېر څپرکي کې راغلي.

**د نوم ډولونه:**

۱) ټولنوم (Common Noun):

د نومونو ډلې یا ټولۍ (کاتېګورۍ) تشریح کوي.

۲) ځانګړنوم (Proper Noun):

د نومونو په ټولیو (کاتیګوریو) کې ځانګړې بېلګه نوموي.

د رڼاوي لپاره لاندېنۍ بېلګې وګورئ.

ټولنوم . . . . . . . . . . ځانګړنوم

انسان . . . . . . . . . . . سړی، ښځه، هلک، جینۍ

مېوه . . . . . . . . . . . منه، هندوانه، کېلا

ژوی . . . . . . . . . . . اوښ، غوا، سپی

څپرکی . . . . . . . . . اوړی، ژمی، پسرلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشت . . . . . . . . . غبرګولی، لیندۍ، وری

### ۳) ذات نوم (Concrete Noun):

د هغه څه نوم دی چې سړی یې یا لیدلای، لمسولای، اورېدلای او یا بویولای شي لکه:

انسان، ژوی، ځای، څوکۍ، او نور هغه څه چې جسمې بڼه لري

### ۴) مانا نوم (Abstract Noun):

د هغه څه نوم چې سړی یې نه لیدلای، لمسولای، اورېدلای او نه بویولای شي. په لنډه، ناجسمي شیان لکه:

مینه، ویاړ، وخت، سوله

**تمرین:**

لاندېني نومونه د نوم ډولونو په کومه کاتېګورۍ کې راځي؟

لومړی یو ستاسو لپاره حل شوی دی.

۱) منی: هم ځانګړ نوم دی او هم مانا نوم دی

۲) کتاب: ______________________

۳) اندېښنه: ______________________

۴) پکتیا: ______________________

۵) ولسوالي: ______________________

۶) نارنګ ولسوالي: ______________________

۷) رڼا: ______________________

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کړ:

### د کړ پېژندون:

هغه ویی دی چې کړنه او پېښــــه ښرګندوي. کړ ته مهالویی هم ویل کېږي، دا چې له مهالونو سره اړول کېږي.

**بېلګې:** کول، راوړل، وهل، لمبېدل، رسېدل، خوړل، ښنبل او داسې نور

### د کړ ډولونه:

۱) **لېږند کړ** (Transitive Verb) :

هغه کړ دی، چې تل په غونډله یا جمله کې له یو مفعول سره راوړل کېږي. هغه مفعول یو نوم، نومځری (ضمیر) یا یو عبارت کېدای شي. کړونه لکه خوړل، نیول، وهل، ښنبل لېږند کړونه دي.

**بېلګې:**

۱) زه اوبه ښنبم. (دلته کړ ښنبم دی او مفعول یې اوبه دی)

۲) هغه کبان نیسي. ( دلته کړ نیسي دی او مفعول یې کبان دی.

۳) احمد زه ووهلم. ( دلته کړ ووهلم دی او مفعول یې زه دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴) زه ډېرې خبرې نه شم کولای. ( دلته کړ " نه شم کولای" دی او ډېرې خبرې مفعول دی.)

د مفعول اخیستو تر څنګ د لېږند کړ بله ځانګړنه دا ده چې ځینې ځاني نومځري (زه، ته او ښځینه هغه) پر ما، تا او هغې بدلیږي، کله چې د کړند/فاعل یا د مفعول په توګه په غونډله کې راشي

په اوسمهال کې زه او ته پر ما او تا بدلیږي کله چې د یو "مفعول" په توګه راشي.

لومړۍ بېلګه: زما پلار ما نه وهي. (دلته ما د وهل مغعول دی)

دویمه بېلګه: هغه جینۍ تا نه ویني. (دلته تا د لیدل مفهوم دی)

په تېرمهال کې بیا ما، تا او هغې (ښځینه) د کړند په توګه کاریږي، نه د مغعول په توګه.

که لومړۍ بېلګه راواخلو او ساده بشپړ تېرمهال ته یې واړوو، نو داسې راځي 'زما پلار زه ووهلم'. دلته یانې ما پر زه بدل شوی دی.

لومړۍ بېلګه: ما هغه ونه لیده. (دلته ما د لیدل کړند دی او مفعول یې هغه دی)

دویمه بېلګه: تا زه ولې ووهلم؟ (دلته تا د وهل کړند دی او مفعول یې زه دی. )

(c) ketabton.com: The Digital Library


دریېمه بېلګه: هغې ته ونه لیدې. (دلته هغې د لیدل کړند دی او مفعول یې ته دی)
یادونه: په تېرمهال کې ځاني نومځري (زه، ته، هغه، موږ، تاسو، هغوی) د لېږند کړ معفعول ګرځي او په اوسمهال کې کړند مفعول دوه ډوله دی چې دواړه له لېږند کړ سره په جمله کې راوړل کېږي.

۱) **سیده مفعول** (Direct Object)
۲) **ناسیده مفعول** (Indirect Object)

سیده مفعول هغه دی چې ار کړ (اصلي مفعول) یې په مستقیمه توګه اغېزمنوي. په پورتنیو بېلګو کې مفعولونه سیده دي.
که لومړنۍ بېلګه (زه اوبه څښم) د شننې لپاره بیا راواخلو، نو اوبه سیده مفعول او څښل ار یا ټولیز کړ دی.
ناسیده مفعول هغه دی چې په جمله کې له سیده مفعول سره اړیکه لري. ځینې ژبپوهان یې د سیده مفعول ترلاسونی (ریسیپینټ) بولي، ځکه سیده مفعول ته رسېږي.
ځینې لېږند کړونه هم له سیده او هم له ناسیده مفعول سره راوړل کېږي.
ورکول، ښودل، پېرودل، کول او نور هغه کړونه، چې په "ول" پای ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بېلګې:**

۱) هغه ماته یوه ډالۍ راکړه. (دلته ' ماته' ناسیده مفعول دی او 'یوه ډالۍ سیده مفعول دی؛ او راکړه، چې د ورکولو پرمهالي بڼه ده، ارکړ دی).

۲) احمد ملګري ته د خپل ټولګي انځو وښود. ( دلته ' خپل' "ملګري ته " ناسیده مفعول دی او "د خپل ټولګي انځور" سیده مفعول)

## ۲) نالېږند کړ (Intransitive ):

هغه کړ دی چې بې له کوم مفعول کارول کېږي، لکه ژړېدل، خندېدل، ولاړېدل، وېرېدل او نور هغه کړونه چې په ېدل یا کېدل پای ته رسـېږي. ځینې کم بیا په ېدل نه پاییږي لکه ژړل،ختل، خندل

**بېلګې:**

۱) زه ژاړم.

۲) هغه پر هره خبره خاندي.

۳) ننګیال سخت وډار شو.

۴) هغه له ونې وغورځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، نالیږند کړونه **اکثر** په "ېدل" پای مومي او معتدي کړونه په "ول". په لومړني انځور کې د دواړو بېلګې کتلای شئ:

| لیږند | لا زمي |
|---|---|
| خوښول | خوښېدل |
| خوږول | خوږېدل |
| لړزول | لړزېدل |
| خبرول | خبرېدل |
| سوځول | سوځېدل |
| ګډول | ګډېدل |
| ډېرول | ډېرېدل |
| ځورول | ځورېدل |

ځینې نالیږند کړونه دي چې له ستاینومونو څخه یې رېښه اخېستې وي، ډېری ناکره کارول کیږي.

| کره | ناکره |
|---|---|
| سپکیږي | سپک کیږي |
| مینیږي | مین کیږي |
| زړیږي | زوړ کیږي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| کلک کېږي | کلکېږي |

## ۳) چارکړ:

دا هغه کړ دی چې د نالېږندکړ په څېر کوم مفعول نه اخلي، خو د لېږند کړ غوندې يې کړند (فاعل) په اوښـــتي اکر (مغيره حالت) کې راځي، ياني که چېرې کړند يو نوم وي بيا زور پر "ې" اوړي، "ی" او "ي" پر "ۍ"، او که کړند يې نومځری وي، بيا زه/ ته/ هغه (ښځينه) پر ما/تا/هغې اوړي.

### د چارکړ بېلګې:

ويل، ژړل، خندل، لمبل

لکه: ما/تا/هغې ..... ولمبل، وويل، وخندل او داسې نور

يا ښځينه + ې + چارکړ لکه: نجيبې وخندل/وويل .... دلته نجيبه پر نجيبې اوښتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مرستیال کړ:**

مرستیال کړ هغه کړ دی چې په یوه غونډله کې تل د یو ار کړ (اصلي فعل) بدرګه کوي او د دوی ښکارندویي کوي. دوی ارو کړونو ته ګرامري او دندیزه (فنکشنل) مانا ورزیاتوي.

دوی په جمله کې یواځې نه شي راتلای. که راشي، نو کومه مانا نه ورکوي.

**یوه بېلګه:**

ما ډوډۍ خوړلې ده. ← دغه غونډله کې ار کړ "خوړلې" دی او مرستیال کړ "ده" دی.

ما ډوډۍ خوړلې وه. ← وه مرستیال کړ

**د پښتو مرستیال کړونه:**

**به:**

۱. راتلونکي مهال ته اشاره کوي او هوډ او پرېکړو لپاره راځي.

**بېلګې:**

* زه به راشم. (راشم ار کړ دی او به مرستیال کړ)
* زه به ډوډۍ وخورم. ( وخورم ار کړ دی)
* زه به خامخا راځم. ( راځم ار کړ دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲. په تېرمهال کې هغو کړنو ته اشاره کوي، چې ناشونتیا ښیي.

**بېلګې:**

* ما به دا کار کړی وای، خو ستړی وم.
* هغه به درغلی وای، خو تا خوابدی کړی و.

۳. یو ګمان یا انګېرنې لپاره راځي.

**بېلګې:**

* دا ځمکه لنده ده. باران به ورېدلی وي.
* اتل به په کارونو کې بوخت وي، ځکه چې اړیکه کمه نیسي.

**ول:**

هغه کړ دی چې شتون مانوي. دا له ار کړ سره په تېرمهال او راتلونکي مهال کې مرسته کوي. د تېرمهال په ځینو بڼو کې 'ول' خپل شکل بدلوي.

"ول" (Be) یوازېنی مرستیال کړ دی چې په اوسمهال او ساده تېرمهال کې د ار کړ په توګه هم راځي. لکه " زه خوشاله یم" (اوسمهال) او "زه خوشاله وم" (تېر مهال) ← ار کړ هغه کړ دی چې په غونډله کې یواځې راتلای شي او یوه مانا هم ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**په تېرمهال کې د "ول" اوړون:**

وم، وې، و، وه، وو، وئ، وو (ول)

**بېلګې:**

* هغه نه و راغلی. (راغلی ار کړ دی او و مرستیال کړ)
* هغوی هلته تللي وو. (تللي ار کړ دی او وو مرستیال کړ)

په ارماني، شرطي، توصيفي یا هم (فرضي) او ګوماني تېرمهال کې "ول" خپله بڼه پر "وای" یا پر "وي" بدلوي. "وي" یوازې ګماني تېرمهال کې راځي.

**بېلګې:**

* کاش زه هلته وای. (ارماني)
* که زه راغلی وای، ښه به وای. (شرطي)
* هغه به درغلی وي، خو تا به نه وي لېدلی. (ګوماني)

**باید:**

فرض، پیاوړی وړاندیځ او پیاوړې سپارښتنه څرګندوي.

* زه باید دغه کار وکړم. (فرض)
* ته باید راغلی وای. (فرض)
* ته باید ډېر درس ووایې، ګنې ناکامېږې. (پیاوړی وړاندیځ)
* ته باید دغه فلم وګورې. ډېر خوند کوي.(پیاوړې سپارښتنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شول:**

په دې مرستیال کړ موږ یو توان یا یوه پېښنه څرګندوو او کله نا کله په بشپړتېرمهال کې د "کېدل" پر ځای راځي.

**توان په اوسمهال کې:**

* زه دغه کار کولای شم.
* هغه لوړ ټوپونه اچولای شي.

**جوړښت:** کړ+ای + د شول اوړون په اوسمهال کې ( شم/ شې / شي/ شو/ شئ/ شي)

**توان په تېرمهال کې:**

* ما دغه کار کولای شو.
* هغه لوړ ټوپونه اچولای شول.

**جوړښت:** کړ + ای + د شول اوړون په نابشپړ تېرمهال کې ( شو/ شول/ شوه/ شوې).

شول په اوسمهال کې پېښنه نه شي څرګندولای. هغه د "کېدل" په مرسته کیږي، لکه:

" یو څه بد پېښیږي". (پېښ + کېدل)

په تېرمهال کې بیا شول پېښنه څرګندولای شي.

* پرون یوه چاودنه وشوه.
* نن سهار ډېر باران وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول په بشپړ تېرمهال کې د "کېدل" پر ځای راځي.

هغو نالېږند کړونو لپاره چې رېښې يې له ستاينومونو يا له ځينو نومونو اخيستې وي لکه:

سړېدل، خفه کېدل، پخېدل، ډارېدل، زړېدل او داسې نور

* هغه وډار شو.
* هغوی ډېر خفه شول.
* اوبې سړې شوې.

**جوړښت:** نوم / ستاينوم + د شول اوړون په بشپړ تېرمهال کې.

**يادونه :**

که لا زمي کړ له بل ويي رېښه نه وي اخيستې لکه:

لمبېدل، غورځېدل او داسې نور بيا د شول کومه بڼه نه پکې راځي لکه

* هغه ولمبېده. ( سم ) هغه لامبو شو. ( ناسم )
* زه وغورځېدم. ( سم ) زه غورځېد شوم ( ناسم )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېدل:**

یوازې په بېچاره(مجهول) جمله کې د مرستیال کړ په توګه کارول کېږي . بېچاره جمله هغه ده چې فاعل پکې سم ځرګند نه وي.

جمله کې د مرستیال کړ په توګه:

* هره ورځ انسانان وژل کېږي.
* بریالی کېدل ګرانه نه ده، که کوښښ وکړې.

**وي:**

یاد کړ په بېلابېلو حالتونو کې کارېږي:

د شونتیا (امکان) ځرګندولو لپاره:

بېلګه

که چېرې باران وي، نو بیا ښا رته نه شو تللای.

که داسې وي، نو بیا سمه ده.

که چېرې هغه د ریاضي استاد وي، نو د دې سوال حلول اسان کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یو شرط څرګندولو لپاره:

بېلګه:

که احمد دغه کار کړی وي، نو اړیکې ورسره پرې کړه.

د ګومان څرګندولو لپاره:

بېلګه:

دا ځمکه ډېره لنده ده. ښایي پرون شپه ډېر باران ورېدلی وي.

دا ور خلاص دی. هسې نه چې غله راغلي وي.

د تېنګار څرګندولو لپاره:

بېلګه:

دا دې همدلته وي. مه یې لیرې کوه.

که غریب وي او که خان وي، خو باید وستایل شي.

که هغه هلته هم وي، خو ته به مېلې ته راځې.

د پېرزوینې او هیلې څرګندولو لپاره:

بېلګه:

ژوندی دې وي افغانستان!

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ټولو دې دغه لويه خوشالي مبارک وي!
دا به د خوښۍ وړ خبر وي چې زموږ جرګه ومني. (هيله)
څنګه به نه وي خوشاله چې خدای هر څه ورکړي دي.

د يو وړانديځ څرګندولو لپاره:
بلېلګه:
دا به ښه وي چې ته پخپله ورشې او دا خبره ورسريه سپينه کړې.

هغه کړنې چې په راتلونکي تر يو ټاکلي يا اټکل شوي وخت پورې بشپړې شي:
بېلګه:
ته چې رارسېږې، ما به دغه کار ختم کړی وي.

طبعي حقايق لپاره:
بېلګه:
اوسپنې په غرونو کې وي.
دلته په اوړي کې ګرمي کمه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا لچۍ نه ده. د لچۍ پاڼې تر دې لویې وي.
مرګ حق دی، که څوک خوښ وي او که ناخوښ.

**تمرین:**

په لاندېنیو غونډلو کې ار کړ او مرستیال کړ په نښه کړئ او دواړو لپاره دوه بېل رنګونه د اسانتیا لپاره وکاروئ.

۱. زه کور ته ځم.
۲. ما لږه ډوډۍ وخوړه.
۳. ما هغه ته وویل چې دلته راشي.
۴. زه ستړی یم، ځکه چې ډېر کار مې کړی دی.
۵. زما ملګري دغه کتاب په یوه اوونۍ کې ولوست.
۶. زه به دغه کار ترسره کړم.
۷. احمد کولای شول چې راشي.
۸. هغه خوشاله و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ستاینوم

دا هغه کلیمه ده چې د نومونو اکر او څرنګوالی تشریحوي لکه:

ښکلی، کوچنی، نری، ستر، لوی، سور، تور، ناسم، او داسې نور. ستاینوم د " څنګه دی/ده/دي؟" پوښتنه ځوابوي.

په پښتو کې ستاینوم د نوم له نوږي (جنس) او شمېر (عدد) سره برابرېږي.

**بېلګه:**

* احمد یو هلک دی. ← که دغه غونډلې ته ستاینوم "ښکلی" ورزیات کړو، نو بیا داسې راځي.

" احمد یو ښکلی هلک دی".

دلته هلک نرینه یوګړی دی، نو ښکلی په نرمه "ی" لیکل کیږي. که د یوې جینۍ خبره وکړو، بیا ښکلی پر ښکلې بدلیږي لکه:

" موسکا یوه ښکلې جینۍ ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د ستاينوم ډولونه:**

د موقيعت له مخې دوه ډوله دی.

**۱. برستاينوم - تر نوم مخکې راځي:**

* يوه ښکلې ښځه راغله. (ښکلې تر نوم مخکې راغلی)
* دا سور ګاډی زما دی.

**۲. لرستاينوم - تر نوم وروسته راځي:**

* دغه سړی رښتينی دی. ( رښتينی تر سړي وروسته راغلی)
* هغه ګاډی سور دی. (سور تر ګاډي وروسته راغلی)

د نوږي (جنس) اوشمير نوم (عدد) له مخې د ځينو ستاينومونو اوړون.

۱. د هغو ستاينومونو نرينه بڼه چې په يو ببواک غږ پای ته رسيږي، په يو او ډېرګړي (مفرد+جمع) کې يو ډول پاتې کيږي يا په بله وينا، نه بدليږي. خو ښځينه بڼه يې په دواړو حالتونو کې (يو اوډېرګړی) کې بدليږي.

د سکالو رڼاوي (وضاحت) لپاره يوه بېلګه، چې ځنګه په ببواک غږ پای ته رسېدونکې ستاينومونه د نرينه بڼې لپاره نه بدليږي او ښځينه لپاره بدليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمول:**

نرینه یوګړی: ار (اصلي) حالت

نرینه ډېرګړی: ار حالت

ښځینه یوګړی: ار حالت + ه

ښځینه ډېرګړی: ار حالت + ې

که "سم" د بېلګې په توګه راواخلو:

نرینه یوګړی: سم (لکه: سم ځواب)

نرینه ډېرګړی: سم (لکه: سم ځوابونه)

ښځینه یوګړی: سمه ( لکه: سمه خبره)

ښځینه ډېرګړی: سمې ( لکه: سمې خبرې)

**دوې معلومې استثناوې:**

۱. شین: (نرینه ډېرګړی پر شنه بدلیږي)

۲. تریخ: (نرینه ډېرګړی په تراخه بدلیږي)

**نورې بېلګې:**

| نرینه یو | نرینه ډېر | ښځینه یو | ښځینه ډېر |
|---|---|---|---|
| ستر | ستر | ستره | سترې |
| خوږ | خوږ | خوږه | خوږې |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| لوړ | لوړ | لوړه | لوړې |
| تور | تور | توره | تورې |
| کلک | کلک | کلکه | کلکې |
| وينس | وينس | وينبه | وينبې |

۲: په زورکي (چې يوازېنی خپلواک غږ دی) پای ته رسېدونکي ستاينومونه هم په نرينه يو او ډېرګړي کې يو شان پاتې کيږي، لکه:

ښه، ويده، سپېره، تېره داسې نور

نرينه يوګړی: ښه / ويده / سپېره (په پښتونخوا کې ۀ)

نرينه ډېرګړی: ښه / ويده / سپېره (په پښتونخوا کې ۀ)

ښځينه يوګړی: ښه / ويده / سپېره

ښځينه ډېرګړی: ښې / ويدې/ سپېرې

که چېرې په هغه ستاينوم کې، چې په ببواک غږ پای ته رسېدلی وي، تر ببواک غږ مخکې اوږد يا لنډ "واو" راغلی وي، نو په هغوی کې د يوې ډلې نرينه ډېرګړی (مذکر جمع) بدلېږي او بله ډله يې بيا پورتنۍ (لومړۍ قاعدې) پورې اړه لري. د هغې ډلې، چې نرينه ډېرګړی يې بدلېږي، "و" پکې پر "ا" اوړي او په پای کې يې زورکی "ه" راځي. که د "خوږ (شرين) ببلګه راواخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


"ړ" یو بیواک غږ دی او تر "ړ" مخکې اوږد و راغلی. دلته که د خوږ نرینه جمع لیکل وغواړو، نو خواږه راځي. دلته و پر "ا" اوښتی او په پای کې یې زورکی راغلی. ستاینومونه دا لاندېني دي.

| نرینه یو | نرینه ډېر | ښځینه یو | ښځینه ډېر |
|---|---|---|---|
| زوړ | زاړه | زړه | زړې |
| ووړ | واړه | وړه | وړې |
| لوند | لانده | لنده | لندې |
| کوږ | کاږه | کږه | کږې |
| موړ | ماړه | مړه | مړې |
| سوړ | ساړه | سړه | سړې |
| روڼ | راڼه | رڼه | رڼې |
| ړوند | ړانده | ړنده | ړندې |
| کوڼ | کاڼه | کڼه | کڼې |
| پوخ | پاخه | پخه | پخې |
| خور | خواره | خوره | خورې |
| پروت | پراته | پرته | پرتې |
| درون | درانه | درنه | درنې |
| دروند | درانده | درنده | درندې |

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوه ورته ستاينومونه، چې داسې نه اړول کېږي سور (رنګ) او تود (ګرم) دي.

| نرينه يو | نرينه ډېر | ښځينه يو | ښځينه ډېر |
|---|---|---|---|
| سور | سره | سره | سرې |
| تود | تاوده | توده | تودې |

دويمه ډله چې لومړنۍ قاعدې پورې اړه لري، ياني نرينه يو او ډېروګړی يې يو شان پاتې کېږي.

| نرينه يو | نرينه ډېر | ښځينه يو | ښځينه ډېر |
|---|---|---|---|
| تور | تور | توره | تورې |
| لوی | لوی | لويه | لويې |
| ډوب | ډوب | ډوبه | ډوبې |
| جوړ | جوړ | جوړه | جوړې |
| روغ | روغ | روغه | روغې |
| سمسور | سمسور | سمسوره | سمسورې |

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بیلښتي ستاینومونه:**

**۱. له کړونو رغېدلي:**

* دردوونکی (له دردول)
* خواشینوونکی (له خواشینول)
* زړه وړونکی (له زړه وړلو څخه)
*ځلېدونکی (له ځلېدلو حخه)

**۲. له نومونو رغېدلي:**

* ستونزمن ( ستونزه + من وروستاړی)
* مانیز: (مانا + یز وروستاړی)
* بېخونده: ( بې مختاړی + خوند) او داسې نور

**یادونه:** له نومونو رغېدلي ستاینومونه نور د مختاړو او وروستاړو په برخه کې وګورئ.

**د ستاینومونو درجې:**

* تولیز (عادي) ستاینوم ← یوازې ستاینوم

لکه: " دا ښه هلک دی".

* پرتلیز ستاینوم ← تر...... لا / ډېر + ستاینوم

لکه: " دی تر تا لا ښه دی".

* تفصیلي ستاینوم ← خورا / تر ټولو + ستاینوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه: " دا تر ټولو / خورا ښه فلم دی".

**تمرین:**

په لا ندېنیو غونډلو کې ستاینوم ه ننبه کړئ.

**یادونه:**

"په یوه غونډله کې تر یو ډېر ستاینومونه راتلای شي".

١.  دا ډېر ګلالی ماشوم دی.
٢.  سپینغر د وطن یو هسک غر دی.
٣.  دا یوه ښکلې جینۍ ده.
۴. دغه یو ستونزمن کار دی.
۵.  دومره زړه راښکونکې سندره ما تر اوسه نه وه اورېدلې.
۶.  هغه تل بېسوله خبرې کوي.
٧.  خالد یو غوسناک هلک دی.
٨.  الله (ج) ترهر څه ځواکمن دی.
٩.  د ده زوی زښت نیازبین دی.
١٠. احمد شا بابا یو زړور پاچا و.
١١. پرون ترغاک (طوفان) یوه نرۍ ونه ماته کړه.
١٢. موږ په یو سولییز او پرمختللي هېواد کې ژوند کول غواړو.
١٣. مړ هم پښتون دی او پړ هم.
١۴. ژوندی دې وي افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**په پښتو کې نابدلېدونکي ستاینومونه (صفتونه):**

نابدلېدونکی ستاینوم هغه دی چې د نورو ستاینومونو په څېر د نوم له نوړي (جنس) او شمېر سره نه برابرېږي. په لنډه وينا، د دوی بڼه نه بدلېږي.

یاد ستاینومونه په پښتو کې هغه دي چې یا په زور "ه"، په څرګنده يې "ي" او یا په "الف" پايېږي.

**د زور بېلګې:** تکړه، ښایسته، تازه، خفه...

**یوه بېلګه د رڼاوي لپاره:**

* یو تکړه هلک
* یوه تکړه جینۍ
* ډېر تکړه هلکان
* ډېرې تکړه نجونې

د څرګندې "ي" بېلګې: شمالي، ډولي، برېښنايي، نشيي...

**یوه بېلګه د رڼاوي لپاره:**

یو ډولي هلک

یوه ډولي جینۍ

ډېر ډولي هلکان

ډېرې ډولي نجونې

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د الف بېلګې:** بېړا، هوسا، سفا

يوه بېلګه د رڼاوي لپاره:

يو هوسا ځای.

ډېر هوسا ځايونه.

يوه هوسا سيمه.

ډېرې هوسا سيمې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نومځری:**

نومځری هغه کلمه ده چې د نومونو استازیتوب کوي، که هغه د انسانانو، ژویو یا شیانو وي. دغه کلیمه په غونډله کې د نوم د تکرار مخه نیسي.

## ۱. پیاوړی ځاني نومځری: په جمله کې کړند څرګندوي:

* لومړی تن یوګړی: زه / زما
* دویم تن یوګړی: ته / تا
* درېیم تن یوګړی نرینه: هغه / دی
* درېیم تن یوګړی ښځینه: هغه / دا
* لومړی تن ډېرګړی: موږ
* دویم تن ډېرګړی: تاسو
* درېیم تن ډېرګړی: هغوی / دوی

## ۲. کمزوری ځاني نومځری:

| یوګړی | ډېرګړی |
|---|---|
| مې | مو |
| دې | مو |
| یې | یې |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| دا مې کور دی | (دا زما کور دی) |
| دا مو کورونه دي | (دا زموږ کورونه دي) |
| دا دې کور دی؟ | (دا ستا کور دی؟) |
| دا مو کورونه دي؟ | (دا ستاسو کورونه دي؟) |
| دا يې کور دی. | (دا د هغه کور دی) |
| دا يې کورونه دي. | ( دا د هغوی کورونه دي) |

يادونه: "دې" په پښتو کې په نورو بېلابېلو حالتونو کې هم کارېږي.
لومړی حالت: د "ته/تا" نومځري استازيتوب کوي
دا کار دې ولې وکړ؟ (يانې "تا" دغه کار ولې وکړ؟)
دا به دې هسې ويلي وي. (يانې "تا" به دا هسې ويلي وي)

دويم حالت: د تولنومځري "ستا" استازيتوب کوي
دا دې ورور دی؟ (يانې دا "ستا" ورور دی؟)
ورور دې رانغی. (يانې "ستا" ورور رانغی)

درېيم حالت: د يوې يادې خبرې/ياد شيز استازيتوب کوي
په دې کې ګوتې مه وهه. ( يانې په يو ياد کار يا خبره)
په دې اړه ستا اند څه دی؟ (د يوې خبرې په اړه اند پوښتل)

(c) ketabton.com: The Digital Library


شلورم حالت: د نغوتې یا اشارې نومځري "دغه" استازیتوب کوي
په دې کور کې یوه بوډۍ اوسیږي. (یانې په دغه کور کې ...)
د دې سیمې نوم څه دی؟ (یانې د دغې سیمې نوم..)

پنځم حالت: د ښځینه نومځري "هغې" په توګه راځي
دې ما ته هېڅ نه دي ویلي. (یانې هغې ما ته هېڅ نه دي ویلي)
ما له نجیبې څه وپوښتل، خو دې ځواب رانکړ. (یانې هغې ځواب رانکړ)

شپږم حالت: د ټینګار لپاره
هغه دې دلته نه راځي. (یانې باید لته رانشي)
دغه کار دې وشي. (یانې باید دغه کار وشي)

اووم حالت: دعایي، غوښتني یا د مبارکۍ په حالتونو کې بېلګې:
اختر دې مبارک شه!
خدای دې تا ژوندی لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۳. د تول یا څښتنوالي نومځری:**

زما، ستا، د هغه،/ دده، د هغې / ددې، زموږ، ستاسې، د هغوی/ د دوی

**۴. مفعولي نومځری:**

√ **سیده مفعولي نومځری** (Direct Object) :

ځاني نومځری هم د سیده مفعول په توګه کارول کیږي. سیده مفعول هغه دی، چې ار کړ (اصلي مفعول) یې په مستقیمه توګه اغیزمنوي.

**بیلګې:**

* خوشال زه ووهلم. ← خوشال دلته فاعل دی / زه یو سیده مفعول دی، چې ار کړ "ووهلم" یې په مستقیمه توګه اغیزمنوي.

* هغه موږ وروسته خبر کړو.

هغه او موږ دواړه ځاني نومځري کېدای شي، نو دې ته به ګورو چې کړنه یانې "خبرول" دلته څوک ترسره کوي. دلته هغه فاعل دی، نو ځاني نومځری دی او موږ سیده مفعول، دا چې ار کړ "خبر کړو " یې اغیزمنوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


√ **ناسیده مفعولي نومځری** (Indirect Object):
ماته، تاته، هغه / ده ته، هغې / دې ته، موږ ته، تاسوته، هغوی، دوی ته. چې له ځاني نومځري سره "ته " سربل وي، نو ناسیده مفعولي نومځری ترې جوړوي.
ناسیده مفعول په غونډله کې له سیده مفعول سره اړیکه لري. ځینې ژبپوهان یې د سیده مفعول ترلاسونی بولي، ځکه چې ناسیده مفعول ته رسیږي.

**بېلګه:**

* هغه ما ته یو کتاب راکړ ← "هغه" یو ځاني نومځری دی او "ماته" ناسیده مفعول. په دغه جمله کې یو کتاب سیده مفعول دی چې ناسیده مفعول "ماته" رسیږي.

**۵. پوښتنومځری:** څوک، چا، کوم
درې واړه هم ځاني نومځري او هم سیده مفعولي نومځري کېدای شي. همدارنګه ناسیده مفعولي هم کېدای شي، که " ته" سربل ورزیات شي.

**بېلګې:**
* څوک راغی؟ ← دلته "څوک" کړند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* څوک يې وواژه؟ ← دلته "څوک" سيده مفعول دی.
* چا دغه کار وکړ؟ ← "چا" دلته کړند دی.
* هغه چا ته وويل؟ ← " چا ته " دلته ناسيده مفعول دی.

## ۶. د نغوتي (اشارې) نومځری:

څيزونو، انسانانو، ژويو يا ځايونو ته نغوته کوي.
دغه (دغې)، دغو (همدا)، همدې، دې، همدوی، دوی، همده او داسې نور

**يادونه:**

د نغوتې نومځري د ځاني نومځرو غوندې په اوښتي اکر (مغيره حالت) کې بدليږي.هغه بيا د ژبدوديزو پېرونو په څېرکي کې وګورئ.

## ۷. اړيکنومځری:

چې – دغه نومځری دوې جملې سره تړي.
**بېلګه:** دا هغه سړی دی چې ما درته ياداوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د "چې" ناسمه کارونه:**

په خپلواکو غونډلو کې د "چې" پر ځای د "کوم چې"، "چا / څوک چې"، چېرته چې، او تر څو کارونه ناسمه ده.

**د " کوم چې" پر ځای یوازې "چې" کارول:**

**ناکره:** هغه انځور دې په یاد دی کوم چې ما درته ښوولی و.

**کره:** هغه انځور دې په یاد دی چې ما درته ښوولی و.

**د "چا / څوک چې " پر ځای یوازې "چې" کارول:**

**ناکره:** دا هغه سړی دی چا چې ډېر جرمونه کړي دي.

**کره:** دا هغه سړی دی چې ډېر جرمونه يې کړي دي.

**ناکره:** رونالډو هغه لوبغاړی دی څوک چې ټوله نړۍ پېژني.

**کره:** رونالډو هغه لوبغاړی دی چې ټوله نړۍ يې پېژني.

**د "چېرته چې" پر ځای یوازې "چې" کارول:**

**ناکره:** لندن هغه ښار دی، چېرته چې د ګڼشمېر ملتونو وګړي اوسېږي.

**کره:** لنده هغه ښار دی چې د ګڼشمېر ملتونو وګړي پکې اوسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د "تر څو" ناسمه کارونه:**

ډېر پښتانه د "چې" اړیکوییکي پر ځای "تر څو" لیکي، څه چې ناسمه ده.

دا لاندېنۍ بېلګې وګورئ.

ناسم: موږ باید مبارزه وکړو تر څو خپل حق ترلاسه کړو.

سم: موږ باید مبارزه وکړو چې خپل حق ترلاسه کړو.

ناسم: ته باید ډېر درس ووایې تر څو بریالی شې.

سم: ته باید ډېر درس ووایې چې بریالی شې.

"ترڅو" بلخوا د "تر هغې" په ملتیا د وخت یو ځانګړی پېر (دوره) څرګندوي او هممهال یو شرط هم ښوولای شي. "تر څو" د جملې په دویمه برخه کې راځي، لکه:

- تر څو چې پسرلی راغلی نه وي، تر هغې کلي ته مه راځه. ( د وخت پېر)
- تر څو چې تا دغه منفي دریځ نه وي پرېښی، نو تر هغې ته خپلې موخې ته نه شې رسېدای. (شرط)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**کړول:**

هغه کلیمه ده چې په یوه غونډله کې د ځای، مهال او د یوې کړنې یا پېښې څرنګوالي اړوند زیات معلومات ورکوي. کړول د څه ډول، کله، چېرې / چېرته پوښتنو ځواب ورکوي.

**کړولونه (قیدونه) په څو ډولونو وېشل کېږي.**

**√ ستاینومیز کړولونه:**

په پښتو کې ستاینومونه د کړولونو په توګه کارېدای شي. هغه مهال بیا یو ستاینوم یو کړ (فعل) نژدې تشریحوي.

* دغه ګاډی ډېر چټک ځي. (چټک یو ستاینوم دی، خو دلته یو کړ "ځي" تشریحوي، نو کړول ترې جوړ شو. که چېرې یې ګاډی تشریحولای، بیا به ستاینوم پاتې کېده، لکه: " دا یو چټک ګاډی دی".

* زرغونې غلي وخندل. (غلی دلته ستاینوم دی، خو دا چې "خندل" تشریحوي، نو کړول ترې جوړېږي.

**√ مهالي کړولونه:**

نن، پرون، سبا ته، اوس، وروسته، بیا، همېشه، پخوا، مخکې، کله نا کله، تل ، ناوخته

(c) ketabton.com: The Digital Library


**√ دځای کږولونه:**

هلته، دلته، بر، لر، دېخوا، هاخوا، پورته، ښکته، د باندې، بهر، دننه، مخ ته، شاته، ښیٔ خوا، کيڼه خوا، ترڅنګ، په خوا کې، ترمنځ، په منځ کې ...

**√ د څرنګوالي کږولونه:**

ناڅاپه، سخت، ورو ورو، په چټکۍ سره، په اسانۍ سره، په بېړه، په پام سره، په درناوي، په توګه، په مرسته، او داسې نور

ستاینومونه (صفتونه) چې له "په" سره راځي.

**√ د اندازې کږولونه:**

ډېر، لږ، زښت، خواره، پرېمانه، بېخي

**√ د نفي کږولونه:**

هېڅکله، هېچېرې

**√ د لامل کږولونه:**

له کبله، له لامله، یانې

**√ د شونتیا کږولونه:**

ښایي، کېدای شي، ګوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اړیکوییکی**

هغه نیم خپلواک ګړ دی چې غونډلې یا د غونډلو برخې سره نښلوي او مفکورې پیاوړې کوي.

**تړ اړیکوییکی:**

هغه اړیکوییکی دی چې یوه بېواکه غونډله له یوې خپلواکې غونډلې سره نښلوي. خپلواکه غونډله (جمله) هغه ده چې یواځې یا ګوښې درېدای شي او کومو اضافي معلوماتو ته اړتیا نه لري، چې له ژبدودیز پلوه یې بشپړه کړي.

**بېلګې:**

زه ښار ته ځم. ← دا یوه خپلواکه غونډله ده، چې یو فاعل، کړ او مفعول لري. بېواکه غونډله هغه ده، چې خپلواکې غونډلې پسې د زیاتو معلوماتو په موخه او ډېری د دمکۍ (کاما) په مرسته نښلول کیږي او یواځې نه شي راتلای. هغه زیات معلومات کېدای شي: مهالي، ځایي، لاملي او اړیکي یا شرطي.

**بېلګه:** هغه سړی، چې هلته لاړ دی، زما وړور دی.

" هغه سړی زما وړور دی" دلته خپلواکه غونډله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او 'چې هلته ولاړ دی' زيات اړيکي معلومات دي چې د 'چې' په مرسته د بېواکې غونډلې په توګه اړيکوييکي په خپلواکې غونډلې پسې تړل شوې.

## دا لاندېني د پښتو تړ اړيکوييکي دي:

| | |
|---|---|
| سره له دې چې | ځنګه چې |
| ان دا چې | چې (اړيکي) |
| کله چې (مهالي) | بيا (شرطي) |
| ځکه چې (لاملي) | دا چې (لاملي) |
| نو (لاملي) | نو ځکه (لاملي) |
| که | تر څو (مهالي / شرطي) |
| چېرته چې (شرطي) | که چېرې (شرطي) |
| بې له دې چې | يو ځل چې (شرطي) |
| مخکې له دې چې (مهالي) | |

**بېلګې:**

زه ښوونځي ته لاړم، سره له دې چې/ان دا چې ناروغ وم.
ماته زنګ ووهه، کله چې کور ته راغلې.
مخکې له دې چې دربانډې ناوخته شي، ته بايد بېره وکړې.
هغسې يې وکړه، ځنګه چې ما درته ويلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ډېره غوړه ډوډۍ خوري، نو ځکه یې په وینه کې کلوسترین ډېرېږي.
که چېرې بریالی کېدل غواړې، نو له هرې ماتې څخه یو څه زده کوه.

## رابطې اړیکوییکی:

هغه اړیکوییکی دی چې وییونه، څو عبارتونه او یا څو خپلواکې غونډلې سره تړي.
لاندېني اړیکوییکي په پښتو کې د رابطې اړیکوییکي دي.
خو، او، بلکې، بیا

* تر "خو" او "بلکې" مخکې یوه دمکۍ (،) راځي لکه:
۱) زه راغلم، خو هغه هلته نه و.
۲) دغه نه، بلکې هغه کتاب یادوم.
۳) هغه ځان ومینځه، بیا یې ډوډۍ وخوړه.

## همکار یا بشپړاند اړیکوییکی:

هغه وییکی دی چې له دوو وییکو جوړ وي او په ګډه همکارۍ سره د یوې غونډلې برخې له یوې بلې سره په اړیکه کې راولي.
په بله وینا، دوی تل یوه جوړه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**لاندېني اړيکوييکي په پښتو کې همکار اړيکوييکي دي:**

يا ...... يا:

يا ته راشه يا به زه درشم.

نه ..... نه:

نه مې دا خوښېږي، نه مې هغه.

نه يوازې ..... بلکې هم:

نه يوازې ته ګرم يې، بلکي زه هم.

هم .....هم:

هم ته ګرم، هم زه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سربل او وستربل:**

سربل او وستربل نیم خپلواک ګړونه دي، چې په ګډه سره په یوه غونډله کې د یو نوم او نومځري بدرګه کوي او له هغوی سره د یوې ځانګړې ژبدودیزې اړیکې په موخه کارول کیږي. دوی په ټولیز ډول یو ځای، لوری، واټن، مهال، پرتله او تول (ملکیت) څرګندولای شي. په پښتو کې سربل تر یو نوم یا نومځري مخته راځي. سربلونو کې راځي: پر، په، له او تر. وستربل تر یو نوم یا نمځري وروسته راځي او په خپلواکه توګه لکه سربل نه شي کارېدای. په وستربلونو کې راځي:

کې، سره، لپاره، باندې، لاندې، مخکې، او داسې نور.

**لاندېنی یوون ځای څرګندوي:**

| سربل | وستربل | بېلګه |
|---|---|---|
| په | کې | زه په کور کې یم. |
| پر | سر | هغه د بام پر سر ولاړه ده. |
| پر | باندې | کتاب پر مېز باندې کېږده. |
| تر | لاندې | بکس تر مېز لاندې پروت دی. |
| له | سره | د غر له سره ټول ښار لیدل کیږي. |
| تر | شا | فابریکه د ودانۍ تر شا ده. |
| تر | منځ | هلک د دوو ښځو ترمنځ ولاړ دی. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاندېنی یوون لوری څرګندوي:**

| سربل | وستربل | بېلګه |
|---|---|---|
| له | څخه | هغه له کابل څخه راغی. |
| تر | پورې | ما تر ښار پورې ورسوه. |

**لاندېنی یوون مهال څرګندوي:**

| سربل | وستربل | بېلګه |
|---|---|---|
| له/تر | وروسته | هغه تر غرمې وروسته راځي. |
| له/تر | مخکې | زه تر اختر مخکې راځم. |
| تر | پورې | احمد تر سبا پورې هلته پاتېږي. |

**لاندېنی یوون اړیکه څرګندوي:**

| سربل | وستربل | بېلګه |
|---|---|---|
| له | سره | زه له هغه سره کور ته ځم. |

**لاندېنی یوون پار څرګندوي:**

| سربل | وستربل | بېلګه |
|---|---|---|
| د | لپاره | پاځون د هغه لپاره هر څه کوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نرینه او ښځینه نومونه پېژندل:**

دا چې په پښتو کې ستاینوم، کړ او کړول د نوم له جنس سره برابرېږي ، نو اړینه ده چې د نومونو جنس وپېژنو.

√ ښځینه نومونه څنګه پېژندل کېږي:

* په زور پایېدونکي نومونه: منه، مرسته، هیله او داسې نور

**یادونه:** که په نوم کې تر زور مخکې ب راغلی وي، نو هغه نرینه وي. یانې په 'به' وروستاړي نومونه نرینه وي او هغه په پښتو کې ډېر کم دي لکه:

لاربه = لارښود

اوښبه = پر اوښ سپور سړی

کوربه = په انګرېزۍ کې چې هاسټ ورته وایي

لرګبه = د لرګیو ماتوونکی

* په ي پایېدونکي بېلښتي نومونه: خوشالي، ناروغي، ولسوالي او داسې نور. چې بېلښتي نومونه نه وي او په ي پایېدلي وي نو اکثر نرینه وي او هغه په شمېر کې لږ دي لکه ښکاري، نایي، قاري

(c) ketabton.com: The Digital Library


* په ې پايېدونکي فاعلي نومونه: زده کوونکې، ښوونکې او نور

* په الف پايېدونکي نومونه: رڼا، ښکلا، دنيا، مانا او داسې نور

**يادونه:**

* په " الف" پايېدلی نوم که د يوې خپلوۍ نوم وي لکه کاکا، ماما، لالا او بابا، نو هغه نرينه وي.

* په اوږد "و" پايېدونکي نومونه :

سکالو، ښارو، بيزو، راډيو او داسې نور

* په "ۍ" پايېدونکي نومونه:

ډوډۍ، نړۍ، زارۍ، لونګۍ، نرۍ او داسې نور

* ترښتي او بېلښتي (ترکيبي او اشتقاقي) نومونه په تيا، يا ، واله ، ګره، منه تاړو.

چوپتيا، بريا، وسلواله، انځورګره، ډګرمنه او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


√ نرینه نومونه څنګه پېژندل کېږي:

* په ی پایېدونکي نومونه: سړی، ننګیالی، پسرلی، منګی، اوړی او داسې نور

نرینه فاعلي نومونه: زده کوونکی، ښوونکی، خرڅوونکی ...

* په زورکي پایېدونکي نومونه: لېوه، زړه، تره، کارغه، پسه او داسې نور

← **یوه استثنا:** "اوبه" ښځینه جنس لري.

*په لنډ و پایېدونکي نومونه: الو، لېږو، مانو، پاړو

* ترښتي او بېلښتي نومونه په تګ، ښت، نګ، وی، وال، ګر، توب **تاړو:** پرمختګ، خوځښت، ننګ، غورځنګ، درناوی، رڼاوی، بریالیتوب، ماشوموتوب، وسله وال، انځورګر، ډګرمن...

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغو نومونو نوري یا جنس څنګه معلوموو چې دا پورتنۍ ځانګړنې نه لري یا په نورو ټکو، چې په ا/ ه/ و/ ی/ ي/ ې نه وي پایېدلي. هغه نومونه چې شمېرل کیږي، د هغوی نوری د "یو" یا "یوه" شمېرنوم په مرسته معلومولای شئ. که "یو" ورسره جوړ وي، نو نوم نرینه دی او که "یوه" ورسره جوړ وي، بیا ښځینه دی.

**نرینه نومونه:**

یو توپ، یوکټ، یوغر، یوکال، یوهلک او داسې نور

**ښځینه نومونه:**

یوه برستن، یوه ورځ، یوه لوښت، یوه مېرمن، یوه لمن ....

هغه نومونه چې نه شمېرل کیږي، د هغوی نوری (جنس) د لږ/ ډېر/ زیات/ کم ( د انداز کړولونو) په مرسته معلومولیږي.

که لږ / ډېر / زیات/ کم ورسره سمون خوري، بیا نو نوم نرینه جنس لري او که لږې/ ډېرې/ زیاتې/ کمې ورسره جوړ راشي، بیا نوم ښځینه نوری لري.

**نرینه:**

لږ/ډېر/کم/زیات + سابه، واښه، تېل، بانه، خواږه

**ښځینه:**

لږې/ ډېرې / زیاتې / کمې + اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نرینه او ښځینه نومونو یو او ډېرګړی**

دا چې په پښتو کې ستاینوم، کړ او کړول د نوم له شمېر سره برابرېږي، نو اړینه ده چې د نومونو د مفرد او جمع قاعدې وپېژنو.

* په نرمه "ی" پایېدلي نومونه په "ي" جمع کېږي.

یو سړی – ډېر سړي

یو منګی – ډېر منګي

یو ښاروی – ډېر ښاروي

**یادونه:**

که چېرې په نرمه "ی" پایېدلي نومونه نسبتي وي لکه د یو ځای اوسېدونکی، نو بیا په "ان" ځیناستي جمع کېږي لکه:

کابلی ← کابلیان، پېښوری ← پېښوریان، امریکایی ← امریکایان ، سواتی ← سواتیان او داسې نور

* په "ي" پایېدلي ښلښتي نومونه په "ۍ" جمع کېږي.

یوه ناروغي – ډېرې ناروغۍ

یوه خوشالي – ډېرې خوشالۍ

یوه سیالي – ډېرې سیالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه:** که په څرګنده ي پايېدونکي نرينه نومونه وي، بيا په ان تاړي جمع کيږي:

ښاري - ښاريان

ښکاري - ښکاريان

نايي – نايان

* په "ې" پايېدلي ښځينه نومونه په "ې" جمع کيږي، يانې يو شان پاتې کيږي:

يوه زده کوونکې – ډېرې زده کوونکې

يوه ښوونکې – ډېرې ښوونکې

* په زور "ه" پايېدلي نومونه په "ې" جمع کيږي.

منه – منې

شېبه – شېبې

ونه - ونې

(c) ketabton.com: The Digital Library


* په "ۍ" پايېدلي نومونه هم په "ۍ" جمع کېږي:
ځولۍ – ځولۍ
خوبانۍ – خوبانۍ
ګېډۍ – ګېډۍ

**يوازې نجلۍ پر نجونې بدلېږي**

* په "الف" پايېدلي نومونه په "وې" جمع کېږي:
مانا – ماناوې
رڼا – رڼاوې
دعا – دعاوې

**يادونه:** که په "الف" پايېدلي د خپلويو يا رشتو نومونه وي، نو په "ګان" جمع کېږي لکه: ماما ← ماماګان، کاکا ← کاکاګان، لالا ← لالاګان

* په اوږد "و" پايېدلي نومونه په "ګانې" جمع کېږي:
سکالو (موضوع) - سکالوګانې
راډيو - راډيوګانې
بيزو - بيزوګانې
ښارو - ښاروګانې
زانګو – زانګوګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په لنډه واو پایېدلي وییونه په "ګان" تاړي جمع کېږي:

لېوه (بېنډۍ) - لېوګان

الو - الوګان

ټاپو - ټاپوګان

کدو - کدوګان (خو نن سبا کدوان دود دی - یانې "ګ" پکې غورځېدلی )

* د ژوندیو یا ساکښو شیانو نومونه چې په یو بېواک غږ پایېدلي وي په "ان" پای ومي (اکثر) لکه:

هلک – هلکان

ځوان – ځوانان

لیکوال – لیکوالان

**یادونه:** له ا/زور(ه)/ ې/ي/و پرته ټول غږونه بېواک غږونه دي.

* د ناژوندیو او بېسا شیانو نومونه، چې په بېواک غږ پایېدلي وي، په "ونه" پای ومي لکه:

قلم – قلمونه

کور – کورونه

ټوپ – ټوبونه

انځور– انځورونه

تصویر – تصویرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



* په زورکي پايېدلي نومونه په جمع کې کله "ان" اخلي او کله "ونه":

بېلګه: لېوه ـ لېوان، زړه ـ زړونه، تره ـ ترونه، کارغه ـ کارغان

**د ځينو رشتو نومونه بيا بېقاعدې وي لکه:**

| يوګړی | ډېرګړی | يوګړی | ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| مور | ميندې | ورور | وروڼه |
| لور | لوڼه/لورګانې | زوی | زامن |
| ترور | ترېندې | خور | خويندې |
| ورار | وريرونه | خوريي | خوريونه |

**ځينې نور بېقاعدې نومونه چې په زورکي پايېږي:**

| يوګړی | ډېرګړی | يوګړی | ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| خر | خره | شکوڼ | شکاڼه |
| غل | غله | سکور | سکاره |

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ژبني سمون:**

کله چې یوه ژبه پوروییونه (له بلې ژبې اخیستل شوي ییونه) خپلوي، نو له خپلو ګرامري قاعدو سره یې برابروي. پښتو ته چې کوم عربي وییونه رادننه شوي، نو موږ یې له خپلو غږونو او ژبدودیزو قاعدو سره نه برابروو.

لکه په محصلین کې ین د عربي وروستاړی دی. په پښتو کې باید ان وروستاړی وریسې وتړو، یانې محصلان.

همدارنګه د موضوعات پر ځای موضوعګانې ځکه چې ات د عربي وروستاړی دی.

**ورته بېلګې:**

| پښتو بڼه | عربي بڼه | پښتو بڼه | عربي بڼه |
|---|---|---|---|
| امکانونه | امکانات | شرطونه | شرایط |
| حالتونه | حالات | قاعدې | قواعد |
| مضمونونه | مضامین | مطلبونه | مطالب |
| مقصدونه | مقاصد | مسولان | مسولین |
| مجرمان | مجرمین | لغتونه | لغات |
| مبارزان | مبارزین | معلمان | معلمین |
| نقصاونه | نقصانات | مخالفان | مخالفین |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| حقوق | حقونه | اسباب | سببونه |
| خیالات | خیالونه | روابط | رابطي |

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د پښتو يېګانې

په پښتو کې پنځه ډوله يېګانې شته چې هره يوه يې د کارونې بېل او ځنګړي ځايونه لري.
په دې څپرکي کې هره "يې" په سپړنيز ډول تشريحېږي.

## نرمه "ی" - ay

۱. د ځينو نرينه يوګړيزو (مفرد) نومونو لپاره لکه:
سړی، پسرلی، منګی، زمری، اوړی، لرګی داسې نور

۲. د هغو ستاينومونو لپاره چې د نرينه يوګړيز نومونو لپاره کارول کېږي لکه:
√ بريالی: احمد بريالی دی.
√ ننګيالی: خوشال بابا ننګيالی و.
√ ښکلی: دا يو ښکلی منګی دی.
√ نری: دا سړی نری دی.

۳. د هغه يوګړيز نرينه نومونو لپاره چې له کړونو (فعلونو) څخه منځ ته راشي لکه:
√ زده کوونکی => له زده کولو څخه
√ کارکوونکی => له کار کولو څخه
√ څېړونکی => له څېړلو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



√ خرڅوونکی => له خرڅولو څخه

۴. همدارنګه د کړونو په پای کې، چې کړند یا مفعول پورې اړه لري او هغه نرينه يوګړی (مفرد) وي لکه:

- ما کارکړی دی. ("کړی" تولیز کړ دی او "دی" مرستیال کړ، چې "کار" پورې اړه لري او "کار" نرينه يوګړی دی او مفعول په توګه کارول شوی)

- زه راغلی یم. ("راغلی" عمومي کړ دی، چې "زه" پورې اړه لري او دغه "زه" دلته د فاعل په توګه کارول شوی)

**يادونه:**

که دغه دويمه غونډله يوې جينۍ ويلې وای، نو بيا به مو د "راغلی" پر ځای "راغلې" ليکل، ځکه چې جينۍ ښځينه وګړی دی. خو ددې اړوند معلومات به تاسو د اوږده "ې" په برخه کې ترلاسه کړئ.

۵. د ځينو عمومي او ډېرو کارېدونکو نرينه نومونو په پای کې راځي لکه: ځای، پای، درناوی، سپيناوی، غبرګاوی، بچی، مخنيوی، لاسنيوی، رڼاوی، زوی، خوی، لوی، بوی، مېږی، راتلونکی،وګړی، ژوی، څاروی، اوړی، ژمی، منی، څلی، ښاغلی ـ...

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پاملرنه:**

په لنډو ټکو، نرمه "ی" د هر هغه ویي لپاره راځي، چې نرینه وي او یوګړی وي.

**بېلګې:**

- هغه سړی یا وګړی، چې له نورو سره مرسته کوي، به تل بریالی وي.
- د هغه خواپورې شپرکی اوړی دی او د ډېر ساړه له کبله ژمی خوند نه ورکوي.
- زمری داسې یو غښتلی او وېروونکی ژوی دی، چې د ځنګل پاچا یادېږي.
- احمد خپلې مور غره ته لرګیو پسې لېږلی و او ده له ځان سره یو ستر لرګی راوړی دی.
- خوشال بابا داسې یو پیاوړی او توریالی جنګیالی و، چې د پښتو په شعرونو کې ډېر یادېږي.
- هغه د مېوو پلورونکی یو رښتینی سړی دی، نو ځکه هر پېرودونکی دده له هټۍ سودا اخلي.
- اتل د نهم ټولګي یو تکړه زده کوونکی دی.
- ما هغه ته یو لیک لېږلی دی، خو ده لا ځواب نه دی راکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ما دغه کتاب دوې میاشتې مخکې پېرودلی و او اوس مې بشپړ لوستلی دی.
- دا یو ښکلی ځای دی. هر ډول زرغون نیالګی پکی پیدا کیږي.
- په پای کې هر څه ښه کیږي. که ښه نه شول، نو لا پای نه دی.
- درناوی د هغو لپاره نه دی چې وړ یې نه وي، بلکې د هغو لپاره، چې لیاقت یې لري.
- زموږ ښوونکی ډېر پتمن سړی دی. هر څوک یې درناوی کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اوږده ''ې''

۱. دغه "يې" د ښځينه نومونو ډېرګري ( مونث جمع) لپاره، چې په زور (ه) پای ته رسېدلي وي، راځي لکه:

| يوګړی | ډيرګړی |
|---|---|
| ښځه | ښځې |
| منه | منې |
| غوښه | غوښې |
| بېلګه | بېلګې |

۲. د ښځينه نومونو اوښتي پېر (مغيره حالت) لپاره چې سربلونه ورسره وي يا په تېرمهال کې وکارول شي لکه:

**بېلګې په توګه:**

- ددغه ونې ښاخونه
- د منې اوبه ګټورې دي.
- هغې ښځې ته مو څه وويل.
- دغې ونې ته اوبه ورکړه.
- جميلې وويل چې خوابدې ده.(تېرمهال- جميله پر جميلې اوښتې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳.  د هغو ستاینومونو لپاره چې د ښځینه نومونو د ډېرګړي لپاره کارول کیږي لکه:

ښکلې، ښځې، خوږې منې، ژیړې کیلې، سرې غوښې، ښې بیلګې، خوندورې شیبې او داسې نور.

۴. د ځینو هغه ښځینه ستاینومونو لپاره، چې نرینه بڼه یې په نرمه "ی" پایېدلې وي لکه:

| نرینه | | ښځینه |
|---|---|---|
| منلی | | منلې |
| کړېدلی | | کړېدلې |
| ځورېدلی | | ځورېدلې |
| پېښېدونکی | | پېښېدونکې |
| زړه وړونکی | | زړه وړونکې |
| سوځېدونکی | | سوځېدونکې |

۵.  د هغه ښځینه فاعلي نومونو لپاره چې له کړونو منځ ته راشي او نرینه بڼه یې په نرمه ی وي لکه:

- یوه زده کوونکې
- یوه څېړونکې
- یوه شنونکې
- یوه خرڅوونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library


۶. همدارنګه د هغه کړونو په پای کې چې کړند (فاعل) یا مفعول پورې اړه لري او هغه ښځينه يوګړی وي لکه:

- ما دغه خبره نه ده کړې.

(دلته "کړې" یو کړ دی، چې په اوږده "ې" لیکل شوی، دا چې "خبره" ښځينه يوګړی دی)

- ګلا لۍ نن ښوونځي ته نه ده راغلې.

( دلته "راغلې" یو کړ دی، چې په اوږده "ې" لیکل شوی، ځکه چې ګلا لۍ ښځينه يوګړی دی)

## ۷. "دې" نومځري لپاره:

دې يو نومځری يا ضمير دی، چې يوې کړنې ته اشاره کوي، چې د دويم کس مفرد "ته" لخوا ترسره شوې وي يا پخپله د "ته" استازيتوب کوي.

همدارنګه "دې" ښځينه ځاني نومځری دی، چې په تېرمهال کې کارول کيږي.

سربېره پر دې "دې" د اشارې نومځري په توګه کارول کيږي.

**بېلګې:**

- دا دې ولې وکړ؟ ( ياني تا دا کار ولې وکړ)
- ددې سيمې خلک ښه نه دي. ( دلته د اشارې نومځری)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- دې ماته وویل، چې دې ته ورشم. ( دې یانې کوم ښځینه وګړی)

**یادونه:**

په عمومي ډول "دې" د "مې" او "یې" په څېر یو کمزوری ځاني نومځری دی.

۸. په ځینو نومونو کې د غږ له مخې:

| | کې | چې | کېناستل |
|---|---|---|---|
| هسې | پکې | بېلا بېل | بېل |
| باندې | پرېښودل | وړاندې | مخکې |
| لېږل | پېژندل | داسې / همداسې | |
| پرې | شمېره | ولې(Why) | |
| بېلتون | بېلول | چېرې/ چېرته | |
| هېواد | هېرول | یوازې (فقط/ Only) | |
| خېړل | انټرنېټ | یواځې (تنها /Alone) | |
| ډېر<br>اغلې<br>ګڼې<br>تېز | لاندې<br>پېښنه<br>بلکې<br>کېدل | در / ور / راپسې<br>مېله<br>مېز<br>لیرې (ورایه) | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ډېرش | څلوېښت | شپېته |

کېږي / لګېږي / کېدل او نور هغه وییونه چې په یږي پای ته رسېږي، لومړۍ (یا) یې اوړده "ې" وي.

**بېلګې:**

۱. تاسو ته له خوښۍ ډکې شېبې غواړم.
۲. د نیکریزو په شپه ډېرې ښځې زموږ مېلمنې وې.
۳. هغه ماته په دې اړه یو څو بېلګې راکړې، نو بیا پرې ښه پوه شوم.
۴. د دغې سیمې خلک د اوبو له کمي سره مخامخ دي.
۵. ما ته د هغې کور معلوم دی.
۶. دغې خبرې ته باید د ټولو پام راوګرځول شي.
۷. په بازار کې سمسورې مېوې راغلې دي. لکه: خوږې سرې منې، پخې ژېړلې کیلې، غټې مندتې.
۸. ښایسته خلک هغه وي، چې تل ښکلې او اغېزمنې خبرې کوي.
۹. زموږ کمپنۍ د تېرکال په پرتله ډېرې پاینښتي ګټې وکړې.
۱۰. ملاله یوه خواریکښه زده کوونکې ده.
۱۱. اغلې ملکه د سیاسي چارو شنونکې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. زه په کابل کې اوسېدل غواړم، دا چې کابل زما د خوښې ځای دی.

## څرګنده "ي"

۱. د کړونو په اوړون کې راځي چې په اوسمهال کې وي او کړند / فاعل یې درېیم کس یو/ډېرګړی " هغه او هغوی" وي، لکه:

- هغه کار کوي یا هغوی کار کوي.
- احمد دلته نه راځي.
- د هغه پلار چای څښي.

۲. د ځینو نرینه نومونو ډېرګړي (جمع) په پای کې راځي، چې یوګړی یې په نرمه "ی" پای ته رسېدلی وي لکه:

| یوګړی | ډېرګړی |
|---|---|
| ملګری | ملګري |
| سړی | سړي |
| منګی | منګي |
| زېری | زېري |
| مزی | مزي |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| بچی | بچي |

۳. د نرینه ستاینومونو ډېرګړي په پای کې:

- زمونږ ملګري تل بریالي راځي. (بریالی دلته ستاینوم دی او دا چې ملګري ډېر او نرینه دي، نو "بریالي" لیکلی کیږي)
- زمونږ هېوادوال مېړني خلک دي. ( مېړنی دلته ستاینوم دی او دا چې هېوادوال ډېر او نرینه دي، نو مېړني لیکلی کیږي)

۴. د نرینه یوګړیز نومونو په اوښتي بڼه (مغیره حالت) کې راځي

| اصلي اکر | اوښتی اکر |
|---|---|
| ننګیالی | ننګیالي ته / د ننګیالي |
| سړی | د سړي / سړي ته |
| **اوسمهال** | **تېرمهال** |
| توریالی هغه وژني | توریالي هغه وواژه |
| زمری غرڅنۍ خوري | زمري غرڅنۍ وخوړه |

۵. له ستاینومونو څخه منځته راوړل شویو نومونو په پای کې:

| ستاینوم | نوم |
|---|---|
| خوشال | خوشالي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| خوښ | خوښي |
| ناروغ | ناروغي |

۶. په ځينو وييونو کې د غږ له مخې:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ليدل | نيول | ليکنه | ليکل | بريدګر | بريد |
| ځيږ | سوځيږي | لګيږي | کيږي | ليدنه | ليد |
| مينځل | وينښ | اړين | شمالي | سوېلي | پيشو |
| خيرن | سوله ييز | شين | ټينګ | هيله | مينه |
| توپير | سمه ييز | ځير | پير | ډولي | ټيپي |

**بېلګې:**

۱. هر څوک ډېر ملګري لرلای شي، خو يو پکې تر ټولو نژدې وي

۲. ما تاته دوه زيري راوړي دي. يو بد دی او بل ښه.

۳. ده ته خدای دوه ښکلي مشومان ورکړي دي.

۴. بريالي خلک تل له نورو سره مرسته کوي.

۵. د هغه بچي ډېر نازولي دي. په مينه يې لوی کړي دي.

۶. توريالي ننګيالي ته وويل چې هلته ورشي.

۷. هغه ژوند بې مانا دی چې خوښي او خوشالي پکې نه وي.

۸. د هغه ناروغي رنځپوهانو نه شوه معلومولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۹. تر هغې وروسته هغوی بیا دلته نه دي راغلي.
۱۰. تر ډوډۍ خوړلو مخکې باید هر انسان لاسونه پاک

**ښځینه "ۍ"**

۱. د ځینو ښځینه نومونو یوګړي لپاره:
دوډۍ / خولګۍ / نړۍ / لړۍ او داسې نور
۲. د هغو نومونو ډېرګړي لپاره چې یوګړی یې یا په "ي" یا په "ۍ" پایېدلی وي لکه:

| یوګړی | ډېرګړی |
|---|---|
| خوشالي | خوشالۍ |
| ناروغي | ناروغۍ |
| زاري | زارۍ |
| نړۍ | نړۍ |
| لړۍ | لړۍ |

- یوه استثنا: نجلۍ په نجونې اوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنګه د پورتنيو نومونو په اوښتي اکر (مغيره حالت) کې:

| اصلي بڼه | اوښتې بڼه |
|---|---|
| خوشالي | د خوشالۍ شېبې دې په برخه شه. |
| ناروغي | د دغې ناروغۍ لامل بايد معلوم شي. |
| خوښي | ستا د خوښۍ لپاره زه هر څه کوم. |

۳. هغه ستاينومونه چې په "يالی" وروستاړي پای ته رسيږي، د هغوی ښځينه بڼه په ښځينه "ۍ" پای ته رسيږي.

| نرينه بڼه | ښځينه بڼه |
|---|---|
| بريالی | بريالۍ |
| توريالی | توريالۍ |
| ننګيالی | ننګيالۍ |
| ښيالی | ښيالۍ (ښايسته) |

د هغه ستاينومونو ښځينه بڼه چې له سربلونو او کړولونو لکه لاندې، باندې، پورته، بهر، برنی او داسې نور څخه منځته راغلي وي، يوازې په "ۍ" پای مومي. پورته ځينې بېلګې راغلې هم دي.

| نرينه بڼه | ښځينه بڼه | نرينه بڼه | ښځينه بڼه |
|---|---|---|---|
| باندېنی | باندېنۍ | يوازېنی | يوازېنۍ |
| بهرنی | بهرنۍ | لاندېنی | لاندېنۍ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| پورتنی | پورتنۍ | منځنی | منځنۍ |
| دننني | دننۍ | برنی | برنۍ |
| لومړی | لومړۍ | ننني | ننۍ |

۴. په نورو ښځینه نومونو د غبرګ له مخې کې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| خولګۍ | خولۍ | څولۍ/جولۍ | نجلۍ |
| مرۍ | ګولۍ | ډوډۍ | نږۍ |
| سیلۍ | ماڼۍ | خوبانۍ/مندته | کیږدۍ |
| ګېډۍ | غالۍ | هوسۍ/Deer | هیلۍ |
| سپوږمۍ | مرغۍ | لکۍ | بېنډۍ |

- **د نجونو نومونه لکه:**

ګلالۍ، ملالۍ، خوبانۍ، اوږۍ، دورخانۍ، ګلمکۍ داسې نور

- د یو ځای ښځینه اوسېدونکي لکه:

کابلۍ، پېښورۍ، یوسفزۍ، کندهارۍ او داسې نور

**یادونه:**

لکۍ واله "ۍ"، او همزواله "ئ"، هېڅکله د ویي په منځ یا پیل کې نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بېلګې:**

۱. د کرېکټ د سیالیو لړۍ تر راتلونکې میاشتې وغځېده.
۲. په نړۍ کې ډېر هېوادونه شته چې خلکو ته یې هره ورځ ډوډۍ نه رسېږي.
۳. خدای دې زموږ د ملت ډېرې خوښۍ او خوشالۍ په برخه کړي.
۴. ددغې ناروغۍ لامل نومېرنه ډاکټرانو ته ناشونې برېښي.
۵. اتل هره ورځ سره خولۍ پر سروي.
۶. هغه د ستوني ډاکټر ته لاړ، ځکه چې مرۍ یې خوږېده. ډاکټر ده ته ښې ګولۍ ورکړې.
۷. د غره پر سر مې له جانان سره یوه کېږدۍ جوړه کړه.
۸. ما ډنډ ته یو څو تېتې وچه ډوډۍ وشړله چې هیلۍ یې وخوري.
۹. ډېرې زارۍ مې ورته وکړې، خو زما خبره یې ونه منله.
۱۰. پر هغه باندې زما ګېډۍ ګېډۍ سلامونه وایه.
۱۱. په پښتو ژبه کې ډېرې خوږې لنډۍ پیدا کېږي.
۱۲. د میوند ملاله به زموږ په زړونو کې ژوندۍ وي.
۱۳. دومره یوه ښکلې او کوچنۍ نجلۍ ما بل چېرته تر اوسه نه وه لیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## همزواله "ئ"

دا په کړونو کې راځي، چې کړند / فاعل يې دويم کس ډېرګړی "تاسو" وي او د پوښتنې په بڼه وي، لکه:

- تاسو څه کوئ.
- هلکانو تاسو کله راغلئ؟

چې ډېرو  همدارنګه همزواله "ئ" په بوليو / امرونو کې راځي تنو ته وي لکه:

- ماشومانو راځئ، ډوډۍ وخورئ!
- ملګرو دلته راشئ او کېنئ!

**يادونه:**

همزواله "ئ" هېڅکله د ويي په منځ يا پيل کې نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بېلګې:**

۱. ګرانو هېوادوالو راځئ، چې په ګډه سره خپل هېواد اباد کړو.
۲. ورونو! مهرباني وکړئ، څوړ مه کوئ او غلي کېنئ!
۳. تاسو چې کله راورسېدئ، نو ماته زنګ ووهئ.
۴. ښوونکي خپلو زده کوونکو ته وویل، "غلي شئ او ښه غوږ ونیسئ".
۵. ټول راشئ او له ما سره په دې کار کې مرسته وکړئ.
۶. احمده، اتله او پاڅونه، تاسو چېرې تللي وئ؟
۷. هلکانو! تاسو ولې دلته بې له پرېښې (اجازې) راغلئ؟ بل ځل ته باید پوښتنه وکړئ او اجازه واخلئ.
۸. پلار: " بچو تاسو لږ دلته راشئ، زه څه درته ویل غواړم".

**نرمه "ی" او که اوږده "ې":**

- ننګیال یو ډاکټر دی او دده ښځه یوه ښوونکې / ښوونکی ده.
- نن له موږ کره پاتې / پاتی شه.
- اباسینه! ژوندی / ژوندې اوسې.
- ته ولې دلته راغلې / راغلی؟
- اجمل دلته نه دی / دې راغلې / راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښاغلی / ښاغلې ځلاند په ښوونځي کې یو ښوونکی / ښوونکې دی.
- نجیب یو غښتلی / غښتلې سړې / سړی دی.
- هغه ډېرې خبرې / خبری کړې / کړی دي.
- پسرلې / پسرلی هغه څپرکی دی / دې، چې ګلان پکې / پکی راشنه کیږي.

## نرمه "ی" او که لکۍ واله "ۍ":

- ښوونځی / ښوونځۍ د رڼا کور دی.
- هغه ډېر خواشینی / خواشینۍ شو.
- هغه ډېرخوابدی/خوابدۍ شو، چې کله یې د خواشینی / خواشینۍ خبر ترلاسه کړ.
- ګلالۍ / ګلالی ښکلې نجلۍ / نجلی ده.
- دا یوه سپینه زمرۍ / زمری ده.
- پسرلی / پسرلۍ هغه څپرکی دی چې ګلان پکې راشنه کیږي.
- ماته لږه پسرلنۍ / پسرلنی مېوه راوړه.
- پورتنی / پورتنۍ کتاب او پورتنی / پورتنۍ کتابچه راکړه.

## لکۍ واله "ۍ" او که همزواله "ئ"

- راشئ / راشۍ، چې مړۍ / مړئ وخورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- تاسو دلته څه کوئ / کوې؟
- په نړۍ / نړۍ کې ډول ډول پښتونه / نژادونه ژوند کوي.
- زما په بې خبرۍ / خبرۍ کې يې دغه کار وکړ.
- دا ليکنه بايد تاسو ټول ولولئ / ولولې.
- مهرباني وکړئ / وکړې دلته کېنئ / کېنې.
- دده د کور په هره کوټه کې يوه ستره غالۍ / غالۍ پرته ده.
- پر دې وړوکي سړک دومره ستره لارۍ / لارۍ نه شي تللای.
- د هغه لور لکه چې ناروغه ده. ډېره نرۍ / نرۍ برېښي.

ګرانو لوستونکو! په دې درس کې تاسو ته يو تمرين برابروو، چې د ټولو يېګانو سمه کارونه زده کړئ. لاندېني متنونه زما لخوا ژباړل شوې کيسې دي، چې ټولې يېګانې پکې کارول شوې دي. تاسو بايد هڅه وکړئ، چې په نښه شويو وييونو کې سمه بڼه په ګوته کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړۍ کیسه

یو وخت یو هلک و، چې / چي شپون و او د میږو رمه یې / یي بووله او څارله. یوه ورځ دغه هلک له ډېرو / ډیرو څارلو ستړی / ستړې شو او زړه یې / یي تنګ شو. نو یوه مفکوره یې / یي ذهن ته ورغله، چې / چی راځه، دا کلیوال د یوې / یوي ټوکې په موخه په یو چل وغولوم. ده په لوړ غږ دا چیغې/چیغي وهلې: " اې خلکو مرسته وکړئ / وکړۍ، لېوه راپسې / راپسي دی، لېوه راپسې/ راپسي دی / دئ".

کله چې / چي یې کلیوالو غږ واورېد، نو په بېړه یې هلک ته ورمنډه کړې / کړي. کلیوال چې وررورسېدل / وررورسیدل او له ده یې وپوښتل، چې لېوه چیرته / چېرته دی / دي. دی / دې خپ خپ له خندا ورته شین شو او ورته ویې ویل، چې تاسو ټول وغولېدئ / وغولېدۍ او ما هسې / هسي تېر / تیراېستلئ.

څو ورځې / ورځي وروسته دغه شپون هلک دغه چل بیا تکرار کړ او د مرستې / مرستي غوښتو نارې یې / یي پیل کړې. کله چې کلیوال په چټکۍ / چټکئ سره ورته راورسېدل او ویې لیدل / لېدل، چې دغه هلک دوی / دوئ بیا وغولول، نو ډېر / ډیر ورته په غوسه شول. یو څه وخت وروسته یو لېوه د دغه هلک رمې / رمي ته ورګډ شو او دده پر میږو یې برید / برېد وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپون هلک له ډاره د کلي / کلی پر لوري منډې وکړې او د مرستې / مرستي چيغې يې ووهلې / ووهلي .
دا ځل يې کليوالو داسې انګېرل، دغه هلک به ورسره بيا د تېرو / تيرو دوو ځلو په څېر يو چل کوي / کوی، نو ورنغلل. کله چې هلک کلي / کلی ته راورسېد او کليوال يې سم خبر کړل، نو د رمې ژغورلو لپاره يې په ګډه ورمنډې کړي / کړې. هغوی / هغوئ چې ورسېدل، نو مېږې ټولې / ټولي مړې / مړی پرتې / پرتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دویمه کیسه

یوه ورځ یو ځوان سړی / سړي د ښار په منځ کې / کي ولاړ و او خلکو ته یې ویل، چې / چي دی په هغه سیمه کې / کي تر ټولو ښکلې / ښکلي زړه لري / لری. ډېر خلک ورته راټول شول او د هغه سړي / سړی زړه یې ستایه، ځکه چې بشپړ و. نه پکې / پکي ټکي ول او نه پکې / پکي تېروتنې/ تېروتني برېښېدې.
دوی / دوئ ټولو دده اند تایید کړ او دا یې ومنله، چې دومره ښکلې / ښکلي زړه یې تراوسه چېرته / چیرته نه و لیدلی.
نومړي / نومړی ځوان په دې / دي شېبه / شیبه ډېر / ډیر ویاړ وښود او ځان یې له ښایه. په ناڅاپي ډول په دې لارغه یو زوړ سړی / سړې په دې خلکو کې/ کي راښکاره شو او دې / دی ځوان سړي / سړی ته یې وویل، " ستاسو د زړه ښایست دومره نه دی / دي لکه زما د زړه. نومړي / نومړی ځوان او هغه نورو خلکو ددغه بوډا سړي زړه ته ځیر شول.

هغه، د زوړ سړي زړه، سخت ګړبېده، خو له داغونو ډک و، دا چې ځیني / ځینې ورې / وړي برخې / برخي یې لیرې شوې وې / وي او ځینې / ځیني نورې زړې / زړي تشې په نورو نویو پوښول شوي / شوې وې، خو هغوی / هغوئ سره سمون نه خوړ او ځینې / ځیني ګوټونه یا کونجونه یې شلېدلي / شلېدلی وو. همدا راز یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ځینې / ځیني دچې یا وړې کندې درلودې. خلکو په ځیر ځیر ورته کتل او له ځانونو سره یې دا اندل، چې دغه بوډا څنګه داسې انګېرلای شي، چې دده زړه د هغه ځوان سړي تر زړه ډېر ښکلی دی.

زوړ سړي ځواب ورکړ: هو ستاسو زړه روغ او بشپړ ښکاري، خو هېڅکله / هیڅکله به خپل زړه ستا پر زړه ورنکړم. زما د زړه هر داغ د یو انسان لپاره دی، چا ته چې ما مینه / مېنه ورکړې. زه مې / مي له زړه یوه ټوټه راغوڅوم او دوی / دوئ ته یې ورکوم او کله نا کله دوی / دوئ هم ماته د خپلو زړونو ټوټې / ټوټي راکوي، چې زما د زړه دا تشې ډکې / ډکي کړي. خو دا چې سم نه ورسره جوړېږي / جوړیږي، نو ځینې / ځیني څنډې یې ځیږې / ځیږي وي. زه هغه بیا هم ارزوم، ځکه چې ماته هغه مینه رایادوي، چې موږ به له یو بل سره وېشله / ویشله. کله نا کله به مې ځینو ته د زړه ټوټې ورکولې، بې له دې / دي چې دوی یې هم راکړي، نو همدا لامل دی، چې زړه مې / مي لږې / لږي کندې او دچې هم لري. مینه ورکول کله نا کله ځان په خطر کې د اچولو مانا هم وي.

که څه هم دغه پرهارونه لا تازه دي / دی او خوږېږي / خوږیږي، بیا هم ماته خپله مینه / مېنه رایادوي، چې هغو وګړو سره مې /

(c) ketabton.com: The Digital Library


مي لرله. زه هيله / هيله لرم، چې يوه ورځ به دوی / دوئ بېرته راشي / راشی او زما د زړه تولې تشې ډکې کړي. زاړه ورپسې / ورپسي زياته کړه، ښه نو اوس پوه شوې / شوی، چې اصلي ښکلا د يو زړه څه ته وايي / وايی؟
هغه ځوان سړی غلی ولاړ و او پر مخ يې اوښکې رابهېدې/ رابهېدي. هغه دې بوډا ته ورنژدې شو او له زړه يې يوه ټوټه راوشکوله او دې بوډا سړي ته يې ورکړه، چې لږ تر لږه يې يوه تشه ورډکه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## یو واو (و) که دوه واوونه (وو)؟

- هغه کړونه (فعلونه ) چې"ول" پای ته رسیږي، لکه کول خوښول، نیول او داسې نور – له هغوی راوتلي فاعلي نومونه په دوو 'و' لیکلی کیږي، لکه:

کوونکی، خوښوونکی، نیوونکی او داسې نور

- هغه کړونه، چې یوازې په "ل" پای ته رسیږي ( ویل، شنل لوستل ، او داسې نور) له دوی راوتلي فاعلي نومونه په یو "و" لیکل کیږي لکه:

ویونکی، شنونکی، لوستونکی او داسې نور

**تمرین:**

سمه بڼه پکې په نښه کړئ.

| | |
|---|---|
| نیوونکی/نیونکی | ښوونکی/ښونکی |
| شنوونکی/شنونکی | کوونکی/کونکی |
| لیږوونکی/لیږونکی | څېړوونکی/څېړونکې |
| منونکی/منوونکی | هېروونکی/هېرونکی |
| پلوروونکی/پلورونکی | پېرودوونکی/پېرودونکی |
| لوستوونکی/لوستونکی | اخیستونکی/اخیستوونکی |
| ځلوونکی/ځلونکی | کتونکی/کتوونکی |

(c) ketabton.com: The Digital Library


يځ، يز او ييز وروستاړي

نومونه لکه لنډيځ، بنديځ، وړانديځ، ختيځ او لوېديځ په "ځ" ليکل کېږي او ډېر خلک يې په "ز" ليکي، څه چې ناسمه ده. په "يز" يا "ييز" يوازې هغه ستاينومونه ليکل کېږي، چې له نومونو رغېدلي وي لکه: ټولنيز ( ټولنه + يز )، سوله ييز...

دلته بيا کله "يز" او کله "ييز" کاروو؟

نوم چې په خپلواک غږ (واول) "ه" پای ته رسېدلی وي، نو ستاينوم يې بيا " ييز" ليکل کېږي لکه: سوله ييز، سيمه ييز

که نوم په بېواک غږ ( کانسونېنټ ) پی ته رسېدلی وي، نو بيا يې ستاينوم په "يز" راځي لکه: اړخيز، دوديز، غږيز ...

**په دې برخه کې دوه ځانګړي توپيرونه:**

| نـــوم | ستاينوم |
|---|---|
| ختيځ (East) | ختيز (Eastern) |
| لوېديځ (West) | لوېديز (Western) |

**بيلګې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ددې هېواد په ختیځ کې ګرمي ده او په لویدیځ کې یې ساړه دي.
- ددې هېواد ختیزو سیمو کې ګرمي ده او په لویدیزو سیمو کې ساړه دي.

← ستاینوم سره تل نوم وي، چې د هغه حالت او ځرنګوالی ټاکي.

← سیمې پورتنۍ بیلګه کې نوم دی، چې ستاینوم "ختیز" یې ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مهالونه

په دې څپرکي کې تاسو ته د پښتو اړين مهالونه (زمانې) درپېژندل کيږي. خو يوه خبره د يادونې وړ ده چې د پښتو پر مهالونو ژوره او پوره بريالۍ څېړنه او شننه لا نه ده شوې او لا زيات کار ته اړتيا ليدل کيږي، نو له همدې کبله ما دغه تشه تر يو حده پورې ډکه کړې ده. د اوسمهال لپاره دا بسنه کوي چې زده کوونکي د پښتو بېلابېل مهالونه تر يوې اندازې پورې وپېژني او جوړښتونه يې وپېژني او له دې پرته له کړ اوړون سره اشنا شي.

په پښتو کې مهالونه په ټوليز ډول دوې ځانګړنې ښوولای شي چې هغه بشړتيا(مکملتوب) او نابشپړتيا دي.
مهالونه په ټوله کې په درېيو ډلو وېشل کيږي: اوس-، تېر- او راتلونکی مهال.
بشپړ اوس-، تېر- يا راتلونکی مهال يوځلتيا ښيي او نابشپړ يې بياځلتيا يا تکرار ښيي.
يوځلتيا په دې مانا چې چې کړنې يا پېښې يو ځل شتون مومي او بياځلتيا بلې خوا ته تکرار مومي. په نورو ټکو، کړنې يا پېښې بيا بيا منځته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوسمهال:

*کله چې زه کار وکړم، نو ستړی شم.

یوځلتیا څرګندوي - کله چې یو کار په یو ځانګړي صورت کې بشپړ کړم، نو ستړی شم.

*کله چې زه کار کوم، نو ستړی کیږم.

بیاځلتیا څرګندوي - هر ځل چې کار کوم، نو ستړی یم.

*دغه ډاکټر ته ځه.

بیاځلتیا ښیي - هر کله چې ډاکټر ته ځم، نو دغه ډاکټر ته دې ورځم یانې سپارښتنه ده.

*دغه ډاکټر ته لاړ شه.

یوځلتیا ښیي - هماغه مهال چې کله ډاکټر ته د تګ هوډ نیسم

تېرمهال:

*تا زما زنګ پورته نه کړ.

یوځلتیا ښیي - ما په یو ځانګړي مهال یو ځل زنګ وهلی دی، خو نه دی ځواب شوی.

*تا زما زنګ نه پورته کاوه.

بیاځلتیا ښیي - ما په یو ځانګړي مهال څو ځله د زنګ وهلو کوښښ کړی، خو هر ځل نه دی ځواب شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


*تا هغه مهال زما خبره ومنله.

یوځلتیا ښیي – ما په یو ځانګړي مهال یوه ځانګړې خبره وکړه چې ومنل شوه.

*تا هغه مهال زما خبره منله.

بیاځلتیا ښیي – ما چې به هغه مهال کله کومه خبره هم ورته کوله، نو هر ځل به منل کېده.

راتلونکی:

*زه به اړیکه ونیسم.

یوځلتیا ښیي – زه په یو ځانګړي مهال اړیکه ونیسم

*زه به اړیکه نیسم.

بیاځلتیا ښیي – زه به راتلونکي کې بیا بیا اړیکې نیسم

*هغه به بیا داسې ونه کړي.

یوځلتیا ښیي – په یو ځانګړي مهال یا ځای کې به داسې کار هغه ترسره نه کړي. (داسې مفهوم ترې اخیستل کېږي چې دغه کار یې تر اوسه یو ځل کړی دی)

*هغه به بیا داسې نه کوي. بیاځلتیا ښیي

هغه به نور په راتلونکي دغه کار نه تکراروي (داسې مفهوم ترې اخیستل کېږي چې دغه کار یې مخکې بیا بیا کاوه)

یادونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوځلتیا یا بشپړ مهالونه په دې جوتیږي چې ډېری (اکثر) د کړ (فعل) ستړه په 'و' ځایناستي (صرف) پیلیږي.

## د مهالونو ډولونه او د دوی جوړښتونه

### نابشپړ اوسمهال

۱: د حقایقو لپاره یا هغه څه چې رښتیا وي:

- اوبه په ۱۰۰ (څلزیوس) درجه کې ایشیږي.
- یوه اوونۍ اووه ورځې لري.

۲: هغه کړني / چارې یا حالات چې له عام ژوند ( ورځنی، باقاعده ، تکراري) سره تړلي وي.

- زه هره ورځ ښوونځي ته ځم.
- هغه درې ځله په اوونۍ تکړښت ( سپورټ) کوي.
- زه هر ګهیځ په ۷ بجو پاڅم.
- زه په یو لوی شرکت کې کار کوم.

۳: هغه مهالوېشونه او نېټې چې نژدې راتلونکي ته اشاره کوي.

- زما الوتنه په درې بجو ده.
- سبا ماسپشین زما اورګاډی رارسیږي.
- اورګاډی په اووو بجو روانیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: لیدنې یا ملاقتونه په نژدې راتلونکی کې:
- زه سبا له خپل ملګري سره وینم.
- په راتلونکې اوونۍ کې زه له ډاکټر سره یوه لیدنېته لرم.
- ولسمشر په راروانه اوونۍ کې له ټرمپ سره ګوري.

۵: هغه کړنو یا پېښنو لپاره راځي چې په تېرمهال کې پیل شوې وي او په اوسمهال کې دوام لري.
- زه له دوو ګړیو راهیسې تاته انتظار کوم. (انتظار دوې ګړۍ مخکې پیل شوی او تر اوسه دوام لري).
- څلور کاله کېږي چې زه په کابل کې ژوند کوم. ( په کابل کې ژوند کول څلور کاله مخکې پیل شوی او لا روان دی).
- یوه ګړۍ کېږي چې باران ورېږي.

**یادونه:**

د دا ډول کړنو څرګندولو لپاره باید دوه مهالي کړولونو (قیدونو) ورسره وي، یا " له ..... راهیسې" او وخت + کېږي چې".
" له + وخت + راهیسې + د کړ نابشپړ اوسمهالي بڼه یا وخت + کېږي چې + د کړ نابشپړ اوسمهالي بڼه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نابشپړ اوسمهال جوړښت:

د کړ (فعل) سته + م/ي/ې/و/ئ/ي تاړي.

کړ سته = له کړ وروستی توری (لام) لیرې کول او پورتني پایونه ورپسې تړل.

| | | |
|---|---|---|
| زه =>م | لکه | زه کوم |
| ته =>ې | لکه | ته کوې |
| هغه =>ي | لکه | هغه کوي |
| موږ =>و | لکه | موږ کوو |
| تاسو =>ئ | لکه | تاسو کوئ |
| هغوی =>ي | لکه | هغوي کوي |

## د ډېرو کارېدونکو کړونو ستې:

| کړ | سته | | کړ | سته |
|---|---|---|---|---|
| خوړل | خور- | | کول | کو- |
| ښودل | ښي- | | نیول | نیس- |
| لیدل | وین- | | وهل | وهـ- |
| لیږل | لیږ- | | ورکول | ورکو- |
| منل | من- | | کتل | ګور- |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اخيستل | اخل- | | بلل | بول- |
| ويل | واي- | | خندل | خاند- |
| غورځېدل | غورځېږ- | | لمبېدل | لمبېږ- |
| راتلل | راځ- | | تلل | ځ- |

## جاري نابشپړ اوسمهال

١ : هغه کړنې چې سړی يې دمګړۍ کوي او دوام لري، يا هغه پېښې چې دمګړۍ روانې وي.

- زه لګيا يم کار کوم. ( همدا شېبه يا دمګړۍ په کار بوخت يم)
- زما مور لګيا ده پخلی کوي. ( زما مور همدا ګړۍ په پخلي بوخته ده).
- اوس بازار ته مه ځه، بهر واوره لګيا ده ورېږي. ( واوره هغه شېبه، چې ويونکی غږېږي، ورېږي)

**يادونه:**

که وويل شي " دلته واوره ورېږي يا نه ورېږي"، نو بيا نابشپړ اوسمهال دی او دا مانا ورکوي چې ياد ځای کې واوره په عمومي ډول ورېږي يا نه ورېږي کله چې موسم يخ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**جوړښت:**

لګیا + د ول اوسمهالي بڼه + د عمومي کړ نابشپړ اوسمهالي بڼه:

زه لګیا یم کارکوم ← لګیا + یم ( د ول اوسمهالي بڼه) + کوم (کول اوسمهالي بڼه)

**د ول مرستیال کړ اوسمهالي بڼې ټولو کسانو لپاره:**

زه یم – ته یې – هغه دی/ده – موږ یو – تاسو یئ – هغوی دي

**ساده بشپړ تېرمهال**

۱: هغو کړنو او پېښنو لپاره چې په تېرمهال کې په یو " ټاکلي یا معلوم " وخت بشپړې ترسره شوې وي. د ټاکلي وخت بېلګې:

پرون، مخکې یا وړاندې، اګاهو، تېرکال، تېره اوونۍ، په + شمېره + کال کې لکه په ۱۹۶۰م کال کې، په + شمېره + بجو لکه په ۱۲ بجو او په اکثر هغه ناخپلواکو غونډلو کې چې "کله چې " پکې راغلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بېلګې:**

- پرون زه ښار ته لاړم.
- دوه کاله اګاهو مې هغه په پاريس کې وليده.
- ما څو دقيقې مخکې ډوډۍ وخوړه.
- احمد تېره اوونۍ ومړ.
- لومړۍ نړيواله جګړه په ۱۹۱۴م کال کې پيل شوه.
- زه په دوو بجو کور ته راغلم.
- پرون په ښار کې لويه چاودنه وشوه.
- څو ورځې مخکې ډېره ځمکه وښوېده.
- کله چې زنګ راغی، زه ژر راويښ شوم.

۲: هغه کړنې يا پېښې چې په ټاکلي وخت پرلپسې په تېرمهال کې ترسره شوې وي:

- پرون چې زه کور ته راغلم، لږه دمه مې وکړه، بيا مې ډوډۍ وخوړه او وروسته مې ولمبل.
- په ۲۰۰۲م کال کې هغه له پوهنتونه فارغ شو، بيا يې واده وکړ څو مياشتې وروسته يې يوه لور وزېږېده. (له پوهنتون او فارغېدل، واده کول او لور زېږېدل ټول په ۲۰۰۲م کال کې شوي دي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: د وخت هغه پېر یا موده چې په تېرمهال کې پیل شوې وي او په تېرمهال کې پایېدلې هم وي.

- ما په المان کې دوه کاله تېر کړل.
- هغې پنځه کال په جپانۍ ژبه کې زدکړې وکړې.
- مونږ دېرش دقیقې په ټلیفون وغږېدو.

**د ساده بشپړ تېرمهال جوړښت:**

د یاد مهال کړ اوړون اکثر په "و" تاړي پیلېږي لکه وکړ، وښود، ورغی، ورسېده او داسې نور

په هر تېرمهال کې کړ د مفعول له جنس او شمېر سره برابرېږي ، نو د نابشپړ اوسمهال غوندې یې پایونه یو شان نه پاتې کېږي.

**د لېږند کړونو اوړون:**

که مفعول نرینه یوګړی وي، بیا کړ یا په یو بېواک غږ ( لکه وکړ، وښود ، وکوت، وخوړ ....) یا په زورکي ( وواهه، ونیوه، ولیکه، ورغاوه....) پای ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بېلګې:**

- ما کار وکړ.
- ما هغه ته یو ځای وښود.
- ما یو خط ولیکه.

( کار، ځای او خط نرینه نومونه دي او مفرد)

← که مفعول نرینه ډېرګړی وي، بیا کړ تل په "**ل**" پایېږي.

لکه: وکړل، وښودل، وکتل، وخوړل ................

بېلګه: ما کارونه وکړل.

← که مفعول ښځینه یوګړی وي، بیا کړ تل په **زور** پایېږي

لکه: وکړه، وښوده، وکتله، وخوړه...

بېلګه: ما یوه لیکنه وکړه.

← که مفعول ښځینه ډېرګړی وي، بیا کړ تل په "**ې**" پایېږي

لکه:

وکړې، وښودې، وکتلې، وخوړې ...............

بېلګه: ما څو لیکنې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تر ټولو ډېرو کارېدونکو لېږند کړونو اوړون په ساده بشپړ تېرمهال کې:**

| نر - یوګړی | نر - ډېرګړی | ښځ - یوګړی | ښځ - ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| وخوړ | وخوړل | وخوړه | وخوړې |
| ونیوه | ونیول | ونیوله | ونیولې |
| وښود | وښودل | وښوده | وښودې |
| وواهه | ووهل | ووهله | ووهلې |
| ولید | ولیدل | ولیدله | ولیدلې |
| ورکړ | ورکړل | ورکړه | ورکړې |
| ولیږه | ولیږل | ولیږله | ولیږلې |
| وکوت | وکتل | وکته | وکتې |
| ومانه | ومنل | ومنله | ومنلې |
| وباله | وبلل | وبلله | وبللې |
| واخیست | واخیستل | واخیسته | واخیستې |

ځاني نومځري د مفعول په توکه:

که مفعول "زه" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې م (میم) تړل کیږي، لکه: هغه احمد زه ووهلم.

که مفعول "ته" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ې تړل کیږي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


احمد ته ووهلې؟
که مفعول "هغه (نرینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه تل مختلفه وي
- یانې کله په زورکي او کله په بېواک غبر، لکه:
احمد هغه وواهه. (ه زورکی)
احمد هغه ونه لید. (د بېواک غبر)
که مفعول "هغه (ښځینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ه (زور)
تړل کیږي، لکه: احمد هغه ووهله.
(ه په ووهله کې زور دی)
که مفعول "موږ" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې لنډ و تړل کیږي،
لکه: احمد موږ ووهلو.
که مفعول "تاسو" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ئ تړل کیږي،
لکه: احمد تاسو ووهلئ.
که مفعول "هغوی (نرینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ل تړل
کیږي، لکه: احمد هغوی ووهل.
که مفعول "هغوی (ښځینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ې تړل
کیږي، لکه: احمد هغوی ووهلې
یادونه: داسې جملو کې ته او هغوی (شځینه) یو شان اړول
کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د نالیږند کړونو اوړون:

| کس/نومځری | ستې + تاړی | | بېلګه |
|---|---|---|---|
| زه: | کړ ستې + م | لکه: | زه وغورځېدم |
| ته: | کړ ستې + ې | لکه: | ته وغورځېدې |
| هغه (نرینه): | کړ ستې + زورکی | لکه: | هغه وغورځېد |
| هغه (ښځینه): | کړ ستې + زور | لکه: | هغه وغورځېده |
| موږ: | کړ ستې + و | لکه: | موږ وغورځېدو |
| تاسو: | کړ ستې + ئ | لکه: | تاسو وغورځېدئ |
| هغوی (نرینه): | کړ ستې + ل | لکه: | وغورځېدل |
| هغوی (ښځینه): | کړ ستې + ې | لکه: | وغورځېدې |
| هغوی (نرینه یا ښځینه): | کړ ستې + ل | لکه: | وغورځېدل |

## ځینې لا زمي کړونه:

راتلل-تلل-وتل-لوېدل-شول-لمبېدل

زه، ته،هغه (ښځینه)، موږ، تاسو، هغوی، هغوی (ښځینه):

زه: راغلم/لاړم/ووتم/ولوېدم/شوم/ولمبېدم

ته: راغلې/لاړې/ووتې/ولوېدې/شوې/ولمبېدې

هغه نر: راغی/لاړ/ووت/ولوېد/شو/ولمبېد

هغه ښځه: راغله/لاړه/ووته/ولوېده/شوه/ولمبېده

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ: راغلو/لاړو/ووتو/ولوېدو/شوو/ولمبېدو

تاسو: راغلئ/لاړئ/ووتئ/ولوېدئ/شوئ/ولمبېدئ

هغوی نر: راغلل/لاړل/ووتل/ولوېدل/شول/ولمبېدل

هغوی ښځه: راغلې/لاړې/ووتې/ولوېدې/شوې/ولمبېدې

**د چارکړ اوړون:**

چار کړ بدلون نه مومي لکه: خندل، ژړل، ویل ..........

**بېلګې:**

- ما/تا/هغه/هغې/موږ/تاسو/هغوی وخندل.
- ما/تا/هغه/هغې/موږ/تاسو/هغوی وویل.

**يادونه:**

دا چې چار کړ څه ته وايي، د کړ په برخه کې يې وګورئ!

**ځينې چارکړونه:**

| | | |
|---|---|---|
| ما وژړل | ما وخندل | ما ولمبل |
| تا وژړل | تا وخندل | تا ولمبل |
| هغه وژړل | هغه وخندل | هغه ولمبل |
| هغې وژړل | هغې وخندل | هغې ولمبل |
| موږ وژړل | موږ وخندل | موږ ولمبل |
| تاسو وژړل | تاسو وخندل | تاسو ولمبل |
| هغوی وژړل | هغوی وخندل | هغوی ولمبل |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ډېر کارېدونکو کړونو ستې په ساده بشپړ تېرمهال کې:**

| کړ | بشپړ تېرمهال ستېه | |
|---|---|---|
| کول | وکړ- | |
| خوړل | وخوړ- | |
| نيول | ونيو- | |
| ښودل | وښود- | |
| وهل | ووهـ - | يوازې " نرينه مفعول " لپاره الف پکې راځي |
| ليدل | وليد - | |
| ورکول | ورکړ - | |
| لېږل | ولېږ - | |
| کتل | وکت - | يوازې " نرينه مفعول " لپاره وکوت راځي |
| منل | ومن - | يوازې " نرينه مفعول " لپاره ا ومانه راځي |
| بلل | وبلل - | يوازې " نرينه مفعول " لپاره وباله راځي |
| اخيستل | واخيست - | |
| خندل | وخندل | ټولو لپاره يو شان |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ویل | وویل | ټولو لپاره یو شان |
| لمبېدل | ولمبېد – | |
| غورځېدل | وغورځېد – | |
| تلل | لاړ – | |
| راتلل | راغل – | یوازې "هغه" نر لپاره راغی |

**نابشپړ تېرمهال:**

۱: هغه کړنه یا پېښنه څرګندوي چې په تېرمهال کې روانه وي یا په جریان کې وي.

**بېلګې:**

- زه لګیا وم لیکنه مې کوله.
- زه لګیا وم په بڼ کې مې کار کاوه.

**یادونه:**

په نابشپړ تېرمهال کې " لګیا + د ول" تېرمهال لوبډای هم شي، خو د جاري کړنې پېژندو لپاره يې پرېښودل اړین دي. لکه موږ ویلای شو چې " ما لیکنه کوله" د "زه لګیا وم لیکنه مې کوله" پر ځای.

۲: دوې کړنې چې په تېرمهال کې هممهال جاري یا رواني وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- پرون غرمه زه لګیا وم کالي مې اوتو کول او مېرمن مې پخلی کاوه. ( داسې هم ویلی شو: " پرون غرمه ما کالي اوتو کول او زما مېرمن پخلی کاوه").

۳: یوه په تېرمهال کې روانه کړنه چې د یوې کړنې لخوا په منځ کې غوڅه شوې وي. هغه هم اکثر په هغو غونډلو کې چې " کله چې " پکې راغلی وي.

زه لګیا وم ډوډۍ مې خوړله، کله چې زما د ملګري زنګ راغی (دلته روانه کړنه ډوډۍ خوړل ده او د نوې کړنې " زنګ راغی" لخوا غوڅه شوې ده. )

**یادونه:**

په داسې حالتونو کې نوې یا لنډې کړنې په ساده بشپړتېرمهال کې راځي او روانې کړنې په نابشپړ تېرمهال کې راځي.

۴: ورځنۍ چار یا روتین په تېرمهال کې:

- پخوا ما په یوه لویه کمپنۍ کې کار کاوه.

۵: یو وضیعت په تېرمهال کې:

- ما مخکې په دې کار کې ستونزې لرلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تر ټولو ډېر کارېدونکو لېږند کړونو اوړون په نابشپړ تېرمهال کې:**

| نر - يوګړى | نر - ډېرګړى | ښځ - يوګړى | ښځ - ډېرګړى |
|---|---|---|---|
| کاوه | کول | کوله | کولې |
| خوړ | خوړل | خوړله | خوړلې |
| نيو | نيول | نيوله | نيولې |
| ښود | ښودل | ښودله | ښودلې |
| واهه | وهل | وهله | وهلې |
| ليده | ليدل | ليدله | ليدلې |
| ورکاوه | ورکول | ورکوله | ورکولې |
| لېږه | لېږل | لېږله | لېږلې |
| کوت | کتل | کتله | کتلې |
| مانه | منل | منله | منلې |
| باله | بلل | بلله | بللې |
| اخيست | اخيستل | اخيسته | اخيستې |

ځاني نومځري د مفعول په توکه:
که مفعول "زه" وي، نو بيا د کړ سته پسې م (ميم) تړل کيږي، لکه: هغه احمد زه وهلم.
که مفعول "ته" وي، نو بيا د کړ سته پسې ې تړل کيږي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


احمد ته وهلې؟
که مفعول "هغه (نرينه)" وي، نو بيا د کړ ستېه تل مختلفه وي - ياني کله په زورکي او کله په بېواک غبږ، لکه:
احمد هغه واهه. (ه زورکی)
احمد هغه نه ليد. (د بېواک غبږ)
که مفعول "هغه (ښځينه)" وي، نو بيا د کړ ستېه پسې ه (زور) تړل کيږي، لکه: احمد هغه وهله. (ه په وهله کې زور دی)
که مفعول "موږ" وي، نو بيا د کړ ستېه پسې لنډ و تړل کيږي، لکه: احمد موږ وهلو.
که مفعول "تاسو" وي، نو بيا د کړ ستېه پسې ئ تړل کيږي، لکه: احمد تاسو وهلئ.
که مفعول "هغوی (نرينه)" وي، نو بيا د کړ ستېه پسې ل تړل کيږي، لکه: احمد هغوی وهل.
که مفعول "هغوی (ښځينه)" وي، نو بيا د کړ ستېه پسې ې تړل کيږي، لکه: احمد هغوی وهلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځینې لا زمي کړونه:**

راتلل-تلل-وتل-لوېدل-شول-لمبېدل

زه، ته،هغه (ښځینه)، موږ، تاسو، هغوی، هغوی (ښځینه):

زه: راتلم/تلم/وتم/لوېدم/کېدم/لمبېدم

ته: راتلې/تلې/وتې/لوېدې/کېدې/لمبېدې

هغه نر: راته/ته/ووت/لوېده/کېده/لمبېده (پښتونخوا کې په ۀ)

هغه ښځه: راتله/تله/وتله/لوېدله/کېدله/لمبېدله

موږ: راتلو/تلو/وتلو/لوېدو/کېدو/لمبېدو

تاسو: راتلئ/تلئ/وتلئ/لوېدئ/کېدئ/لمبېدئ

هغوی نر: راتلل/تلل/وتل/لوېدل/کېدل/لمبېدل

هغوی ښځه: راتلې/تلې/وتې/لوېدې/کېدې/لمبېدې

**ځینې چارکړونه:**

| | | |
|---|---|---|
| ما ویل | ما خندل | ما لمبل |
| تا ویل | تا خندل | تا لمبل |
| هغه ویل | هغه خندل | هغه لمبل |
| هغې ویل | هغې خندل | هغې لمبل |
| موږ ویل | موږ خندل | موږ لمبل |
| تاسو ویل | تاسو خندل | تاسو لمبل |
| هغوی ویل | هغوی خندل | هغوی لمبل |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نژدې بشپړ تېرمهال:

۱) هغه کړنې چې په تېرمهال کې ترسره شوې وي، خو اغېزې يې په اوسمهال کې ليدل کېږي.
* د نغمې پښه شنه ده، ځکه چې له کټ څخه غورځېدلې ده. ( له غورځدو راپدېخوا ډېر وخت نه دی تېر شوی، ځکه خو يې اغېز (شنه پښه) په اوسمهال کې ليدل کېږي. )
* زما خېټه خوږېږي، ځکه چې ډېره ډوډۍ مې خوړلې ده. (ډېر وخت نه کېږي چې ډوډۍ مې وخوړه او د خېټې خوږ يې په اوسمهال کې ليدل کېږي)

۲) هغه کړنې چې د وخت په هغه دوران کې ترسره شوې وي چې لا ختم نه وي :
* په دې اوونۍ کې هغه دوه ځله سينما ته تللې ده. (اوونۍ لا تېره نه ده)
* سږ کال ډېر باران شوی دی. (کال لا نه دی تېر)

۳) تکراري کړنې چې د تېر- او اوسمهال تر منځ دوره کې ترسره شوې وي
* مورږ درې ځله امريکا ته تللي يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* هغه تر اوسه دوه ځله کابل ته تللی دی.

۴) هغه کړنې چې د ترسره کېدو وخت يې اړين نه وي. يا هغه کړنې چې په يو نامعلوم وخت په تېرمهال کې ترسره شوې وي.
* هغه دوه کتابونه ليکلي دي. (دا نه ده مهمه چې کله يې ليکلي دي)
* يو چا د هغه موبايل پټ کړی دی.

جوړښت: څنګه چې په مخکېنيو څپرکيو کې ياده شوې ده، د تېرمهال په هره بڼه کې کړ د نوم (مفعول/فاعل) له جنس او شمېر سره برابرېږي.

**د لېږند کړونو اوړون په نژدې بشپړ تېرمهال کې:**
=> که مفعول نرينه او يوګړی وي: د کړ(فعل) ستېه + ی + دی
لکه: ما کار کړی دی.

=> که مفعول نرينه او ډېرګړی وي: د کړ ستېه + ي + دي
لکه: ما کارونه کړي دي.

=> که مفعول ښځينه او يوګړی وي: د کړ ستېه + ې + ده
لکه: ما يوه ليکنه کړې ده.
=> که مفعول ښځينه او ډېرګړی وي: د کړ ستېه + ې + دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه: ما څو ليکنې کړې دي
(يادونه: د فعل سټه په ټولو بېلګو کې "کړ" ده )

**ډېر کارېدونکي لېږند کړونه:**

| نر - يوګړی | نر - ډېرګړی | ښځ - يوګړی | ښځ - ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| کړی دی | کړي دي | کړې ده | کړې دي |
| خوړلی دی | خوړلي دي | خوړلې ده | خوړلې دي |
| نيولی دی | نيولي دي | نيولې ده | نيولې دي |
| ښودلی دی | ښودلي دي | ښودلې ده | ښودلې دي |
| وهلی دی | وهلي دي | وهلې ده | وهلې دي |
| ليدلی دی | ليدلي دي | ليدلې ده | ليدلې دي |
| ورکړی دی | ورکړي دي | ورکړې ده | ورکړې دي |
| لېږلی دی | لېږلي دي | لېږلې ده | لېږلې دي |
| کتلی دی | کتلي دي | کتلې ده | کتلې دي |
| منلی دی | منلي دي | منلې ده | منلې دي |
| بللی دی | بللي دي | بللې ده | بللې دي |
| اخيستلی دی | اخيستلي دي | اخيستلې ده | اخيستلې دي |

ځاني نومځري د مفعول په توکه:
که مفعول "زه" وي، نو بيا د کړ سټه پسې ی او + يم تړل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېږي، لکه: هغه احمد زه وهلی یم.
که مفعول "ته" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ی + یې تړل کېږي، لکه: احمد ته وهلی یې؟ (که دغه ته ښځینه کس وي بیا وهلې په ې راځي)
که مفعول "هغه (نرینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ی + دی تړل کېږي لکه: احمد هغه وهلی دی
که مفعول "هغه (ښځینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ې + ده تړل کېږي، لکه: احمد هغه وهلې ده.
که مفعول "موږ" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ي + یو تړل کېږي، لکه: احمد موږ وهلي یو.
که مفعول "تاسو" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ي + یئ تړل کېږي، لکه: احمد تاسو وهلي یئ.
که مفعول "هغوی (نرینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ي + دي تړل کېږي، لکه: احمد هغوی وهلي دي
که مفعول "هغوی (ښځینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ې + دي تړل کېږي، لکه: احمد هغوی وهلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د ناليږند کړونو اوړون په نژدې بشپړ تېرمهال کې:**

زه: کړ ستړه+ی + یم  لکه زه راغلی یم

ته: کړ ستړه+ی + یې  لکه ته راغلی یې

هغه نر: کړ ستړه+ی + دی  لکه هغه راغلی دی

هغه ښځه: کړ ستړه+ې + ده  لکه هغه راغلې ده

موږ: کړ ستړه+ي + یو  لکه موږ راغلي یو

تاسو: کړ ستړه+ي + یئ  لکه تاسو راغلي یئ

هغوی (نرينه): کړ ستړه+ي + دي  لکه هغوی راغلي دي

هغوی (ښځينه): کړ ستړه+ې + دي  لکه هغوی راغلې دي

**ډېر کارېدونکي ناليږند کړونه:**

زه، ته،هغه (ښځينه)، موږ، تاسو، هغوی، هغوی (ښځينه):

راتلل-تلل-وتل-لوېدل-شول-لمبېدل

زه: راغلی یم /تللی یم /وتلی یم /لوېدلی یم/شوی یم/لمبېدلی یم

ته: راغلی یې/تللی یې/وتلی یې /لوېدلی یې/شوی یې/لمبېدلی یې

هغه نر: راغلی دی /تللی دی/وتلی دی/لوېدلی دی/شوی دی/ لمبېدلی دی

هغه ښځه: راغلې ده /تللې ده /وتلې ده /لوېدلې ده /شوې ده/ لمبېدلې ده

موږ: راغلي یو /تللي یو /وتلي یو /لوېدلي یو/شوي یو/لمبېدلي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاسو:راغلي يئ/تللي يئ/وتلي يئ /لوېدلي يئ/شوي يئ/لمېدلي يئ

هغوی نر: راغلي دي /تللي دي/وتلي دي /لوېدلي دي/شوي دي / لمېدلی دي

هغوی ښځ.: راغلې دي/تللې دي /وتلې دي/لوېدلې دي/شوې دي/ لمېدلې دي

## ځينې چارکړونه:

ما، تا، هغه، هغې، موږ، تاسو، هغوی (ويل/خندل/لمبل)

| ويل / خندل / لمبېدل | | |
|---|---|---|
| ما ويلي دي | ما خندلي دي | ما لمبلي دي |
| تا ويلي دي | تا خندلي دي | تا لمبلي دي |
| هغه ويلي دي | هغه خندلي دي | هغه لمبلي دي |
| هغې ويلي دي | هغې خندلي دي | هغې لمبلي دي |
| موږ ويلي دي | موږ خندلي دي | موږ لمبلي دي |
| تاسو ويلي دي | تاسو خندلي دي | تاسو لمبلي دي |
| هغوی ويلي دي | هغوی خندلي دي | هغوی لمبلي دي |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لیرې بشپړ تېرمهال:

دغه مهال هغو کړنو یا پېښنو لپاره کاروو چې په تېرمهال کې له یو ټاکلي وخت مخکې یا په بله وینا، تر نورو کړنو مخکې په تېرمهال کې بشپړې شوې وي.

**بېلګې:**

- ما کورنۍ دنده کړې وه چې زه بهر لاړم. ( کورنۍ دنده کول لومړۍ ترسره شوې کړنه ده، نو په لیرې بشپړتېرمهال کې راځي).
- کله چې زه د اورګاډي اډې ته رسېدم، نو رېلګاډی رانه تللی و. ( د اورګاډي تګ زما تر رسېدو مخکې وشو، نو ځکه "تلل" په لیرې بشپړ تېرمهال کې راځي)
- زه دباندې تللی وم، نو ځکه ستا تلېفون رانه تېر شو. ( زما د دباندې تګ تر تلېفون زنګ مخکې و)

**جوړښت:**

د لیرې بشپړ تېرمهال جوړښت نژدې بشپړتېرمهال ته ډېر ورته دی. یوازې مرستیال کړ یې سره توپیرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لېږند کړونو اوړون:

← که مفعول نرینه او یوګړی وي: د کړ سټه + ی + و

لکه: ما کار کړی و.

← که مفعول نرینه او ډېرګړی وي: د کړ سټه + ي + ول/ وو.

لکه: ما کارونه کړي ول / وو.

← که مفعول ښځینه او یوګړی وي: د کړ سټه + ې + وه.

لکه: ما یوه لیکنه کړې وه.

← که مفعول ښځینه او ډېرګړی وي: د کړ سټه + ې + وې.

لکه: ما څو لیکنې کړې وې.

**د تر ټولو ډېر کارېدونکو لېږند کړونو اوړون په لیرې تېرمهال کې:**

| نر - یوګړی | نر - ډېرګړی | ښځ - یوګړی | ښځ - ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| کړی و | کړي وو | کړې وه | کړې وې |
| خوړلی و | خوړلي وو | خوړلې وه | خوړلې وې |
| نیولی و | نیولي وو | نیولې وه | نیولې وې |
| ښودلی و | ښودلي وو | ښودلې وه | ښودلې وې |
| وهلی و | وهلي وو | وهلې وه | وهلې وې |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| لیدلی و | لیدلي وو | لیدلې وه | لیدلې وې |
| ورکړی و | ورکړي وو | ورکړې وه | ورکړې وې |
| لیږلی و | لیږلي وو | لیږلې وه | لیږلې وې |
| کتلی و | کتلي وو | کتلې وه | کتلې وې |
| منلی و | منلي وو | منلې وه | منلې وې |
| بللی و | بللي وو | بللې وه | بللې وې |
| اخیستلی و | اخیستلي وو | اخیستلې وه | اخیستلې وې |

ځاني نومځري د مفعول په توکه
که مفعول "زه" وي، نو بیا د کړ ستهه پسې ی او + وم تړل * کیږي، لکه: هغه احمد زه وهلی وم.
که مفعول "ته" وي، نو بیا د کړ ستهه پسې ی + وې تړل کیږي، لکه: احمد ته وهلی وې؟ (که دغه ته ښځینه کس وي بیا وهلې وې راځي)
که مفعول "هغه (نرینه)" وي، نو بیا د کړ ستهه پسې ی + و تړل کیږي لکه: احمد هغه وهلی و.
که مفعول "هغه (ښځینه)" وي، نو بیا د کړ ستهه پسې ې + وه تړل کیږي، لکه: احمد هغه وهلې وه.
که مفعول "موږ" وي، نو بیا د کړ ستهه پسې ي + وو تړل کیږي، لکه: احمد موږ وهلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مفعول "تاسو" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ی + وئ تړل کیږي، لکه: احمد تاسو وهلي وئ.
که مفعول "هغوی (نرینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ي + وو تړل کیږي، لکه: احمد هغوی وهلي وو.
که مفعول "هغوی (ښځینه)" وي، نو بیا د کړ ستړه پسې ې + وې تړل کیږي، لکه: احمد هغوی وهلې وې.

**د لا زمي کړونو لپاره یې جوړښت داسې دی.**

زه: کړ ستړه+ی + وم لکه زه راغلی وم
ته: کړ ستړه+ی + وې لکه ته راغلی وې
هغه نر: کړ ستړه+ی + و لکه هغه راغلی و
هغه ښځه: کړ ستړه+ې + وه لکه هغه راغلې وه
موږ: کړ ستړه+ي + وو لکه موږ راغلي وو
تاسو: کړ ستړه+ي + وئ لکه تاسو راغلي وئ
هغوی (نرینه): کړ ستړه+ي + وو/ول لکه هغوی راغلي وو/ول
هغوی (ښځینه): کړ ستړه+ې + وې لکه هغوی راغلې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ډېر کارېدونکو نالېږند کړونو اوړون په لیرې بشپړ تېرمهال کې:**

زه، ته،هغه (ښځینه)، موږ، تاسو، هغوی، هغوی (ښځینه):
راتلل-تلل-وتل-لوېدل-شول-لمبېدل
زه: راغلی وم/تللی وم/وتلی وم /لوېدلی وم/شوی وم/لمبېدلی وم
ته: راغلی وې/تللی وې/وتلی وې/لوېدلی وې/شوی وې/لمبېدلی وې
هغه نر: راغلی و /تللی و/وتلی و/لوېدلی و/شوی و/ لمبېدلی و
هغه ښځ.: راغلې وه /تللې وه/وتلې وه/لوېدلې وه/شوې وه/ لمبېدلې وه
موږ: راغلي وو/تللي وو/وتلي وو/لوېدلي وو/شوي وو/لمبېدلي وو
تاسو:راغلي وئ/تللي وئ/وتلي وئ/لوېدلي وئ/شوي وئ/ لمبېدلي وئ
هغوی نر: راغلي وو/تللي وو/وتلي وو /لوېدلي وو/شوي وو / لمبېدلي وو
هغوی ښځ.: راغلې وې/تللې وې/وتلې وې/لوېدلې وې/شوې وې/ لمبېدلې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځینې چارکړونه:**

ما، تا، هغه، هغې، موږ، تاسو، هغوی (ویل/خندل/لمبل):

| | | |
|---|---|---|
| ما ویلي وو | ما خندلي وو | ما لمبلي وو |
| تا ویلي وو | تا خندلي وو | تا لمبلي وو |
| هغه ویلي وو | هغه خندلي وو | هغه لمبلي وو |
| هغې ویلي وو | هغې خندلي وو | هغې لمبلي وو |
| موږ ویلي وو | موږ خندلي وو | موږ لمبلي وو |
| تاسو ویلي وو | تاسو خندلي وو | تاسو لمبلي وو |
| هغوی ویلي وو | هغوی خندلي وو | هغوی لمبلي وو |

**روږدنی (اعتیادي) نابشپړ تېرمهال:**

۱: هغو روږدتیاوو یا عادتونو لپاره چې په تېرمهال کې په یو ځانګړي دوران کې سرته رسېدل.

- زه چې کله ماشوم وم، نو ما به ملګرو سره ډېرې لوبې کولې.
( یانې د ماشومتوب په دوره کې ډېرې لوبې کول زما یو عادت و)
- څو کاله مخکې به ما لس سیګرټونه په ورځ کې څکول.
( د لسو سیګرټو څکولو عادت مې څو کاله مخکې لاره)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- مخکي به خلک ساده وو او پر افسانوي شیزونو به یې باور کاوه.
- پخوا به خلکو له یو بل سره ډېره راشه درشه کوله، خو د انټرنېټ له راتګ سره هر څه بدل شول.

**د روږدني نابشپړ تېرمهال جوړښت:**

به + نابشپړتېرمهال ← لکه په لومړۍ بېلګه کې کولې په جاري تېرمهال کې راغلی.

**د تر ټولو ډېر کارېدونکو لېږند کړونو اوړون په روږدني تېرمهال کې:**

| نر - یوګړی | نر - ډېرګړی | ښځ - یوګړی | ښځ - ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| به کاوه | به کول | به کوله | به کولې |
| به خوړ | به خوړل | به خوړله | به خوړلې |
| نه نیو | به نیول | به نیوله | به نیولې |
| به ښود | به ښودل | به ښوده | به ښودې |
| به واهه | به وهل | به وهله | به وهلې |
| به لیده | به لیدل | به لیدله | به لیدلې |
| به ورکاوه | به ورکول | به ورکوله | به ورکولې |
| به لېږه | به لېږل | به لېږله | به لېږلې |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| به کوت | به کتل | به کته | به کتې |
| به مانه | به منل | به منله | به منلې |
| به باله | به بلل | به بلله | به بللې |
| به اخیست | به اخیستل | به اخیسته | به اخیستې |

**ځينې لا زمي کړونه:**

زه، ته،هغه (ښځينه)، موږ، تاسو، هغوی، هغوی (ښځينه):

راتلل-تلل-وتل-لوېدل-شول-لمبېدل

زه: به+ راتلم/تلم/وتم/لوېدم/کېدم/لمبېدم

ته: به+ راتلې/تلې/وتې/لوېدې/کېدې/لمبېدې

هغه نر: به+ راته/ته/ووت/لوېده/کېده/لمبېده (پښتونخوا کې په ۀ)

هغه ښځه: به+ راتله/تله/وتله/لوېدله/کېدله/لمبېدله

موږ: به+ راتلو/تلو/وتلو/لوېدو/کېدو/لمبېدو

تاسو:به+ راتلئ/تلئ/وتلئ/لوېدئ/کېدئ/لمبېدئ

هغوی نر: به+ راتلل/تلل/وتل/لوېدل/کېدل/لمبېدل

هغوی ښځه: + راتلې/تلې/وتې/لوېدې/کېدې/لمبېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځينې چارکړونه:**

| ويل/خندل/لمبل | | |
|---|---|---|
| ما به ويل | ما به خندل | ما به لمبل |
| تا به ويل | تا به خندل | تا به لمبل |
| هغه به ويل | هغه به خندل | هغه به لمبل |
| هغې به ويل | هغې به خندل | هغې به لمبل |
| موږ به ويل | موږ به خندل | موږ به لمبل |
| تاسو به ويل | تاسو به خندل | تاسو به لمبل |
| هغوی به ويل | هغوی به خندل | هغوی به لمبل |

**ساده بشپړ راتلونکی مهال:**

ياد مهال موږ په پښتو کې د راروان وخت بېلابېلو حالتونو لپاره کاروو او تل يې د مرستيال کړ "به" په مرسته څرګندوو.

۱: نيتونه يا هوډونه څرګندوي چې راتلونکي کې وي. هغه يوه پرېکړه، ژمنه، وړانديځ، غوښتنه، نټه (انکار) کېدای .نيت شي

- زه به سبا ښار ته لاړ شم. (پرېکړه، اراده)
- زه به بيا پر چا باور ونه کړم. (ځاني ژمنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- زه به بیا ته کله هم خفه نه کړم. ( له چا سره ژمنه)
- راځه، زه به درسره په دې کار کې مرسته وکړم. (وړاندیځ)
- له ما سره به مرسته وکړې؟ (غوښتنه)
- زه به ستا ونه منم. (نټه)

۲: هغو پرېکړو لپاره چې سم له لاسه یې کوو او ډېر نژدې راتلونکي ته اشاره کوو.

- زما ساړه کېږي، نو دا کړکۍ به بنده کړم.
- څوک ور ټکوي، نو زه به یې وګورم چې څوک دی.

۳: ګومان د راتلونکي لپاره:

- دا ټول کار به ته په یوه ورځ کې ختم نه کړې.

۴: وړاندوینې د راتلونکي په اړه:

- په راروان وخت کې به د تېلو بیه ډېره لوړه شي.
- د یوې نوې څېړنې له مخې به په ۲۰۵۰ کال کې د مسلمانانو شمېره تر غیر مسلمانانو پورته شي.

۵: د هیلو لپاره په راتلونکي کې:

- هر څه به سم شي، اندېښنه مه کوه.
- هغه به بېرته راشي، خدای خو لوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶: شرطونه د راتلونکي مهال لپاره:

- که سبا باران نه وي، نو زه به خپل ملګري ته ورشم. ( شرط: که سبا باران نه وي)

**جوړښت:**

به + و + د اصلي کړ ستېه + د ساده اوسمهال پایونه (م/ې/ي/و/ئ/ي)

**بېلګه:**

- زه به کار وکړم.

که په غونډله کې اصلي کړ نه وي، خو یو مرستیال کړ وي، نو هغه اکثر د "شول" اوړون اخلي او په همدې پایونو:

| شم / شې / شي/ شو / شئ / شي | |
|---|---|
| زه به خوښ شم. | ته به خوښ شې. |
| هغه به خوښ / خوښه شي. | موږ به خوښ شو. |
| تاسو به خوښ شئ. | هغوی به خوښ شي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نژدې بشپړ راتلونکی:

د هغو کړونو یا حالتونو لپاره چې په راتلونکي کې تر یو ټاکلي وخت مخکې بشپړې شوې وي.

- ما به دغه کار ستا تر راتلو مخکې ختم کړی وي.
- د اورګاډي له رارسېدو مخکې به زه اډې (سټېشن) ته رسېدلی یم.
- ما به تر ۲۰۱۹ پورې واده کړی وي.
- رښتیا چې راځي نو دروغو به کلي ړنګ کړي وي.

## د تر ټولو ډېر کارېدونکو لېږند کړونو اوړون په نژدې بشپړ راتلونکی:

| نر - یوګړی | نر - ډېرګړی | ښځ - یوګړی | ښځ - ډېرګړی |
|---|---|---|---|
| به کړی وي | به کړي وي | به کړې وي | به کړې وي |
| به خوړلی وي | به خوړلي وي | به خوړلې وي | به خوړلې وي |
| به ښودلی وي | به ښودلي وي | به ښودلې وي | به ښودلې وي |
| به وهلی وي | به وهلي وي | به وهلې وي | به وهلې وي |
| به لیدلی وي | به لیدلي وي | به لیدلې وي | به لیدلې وي |
| به ورکړی وي | به ورکړي وي | به ورکړې وي | به ورکړې وي |
| به لېږلی وي | به لېږلي وي | به لېږلې وي | به لېږلې وي |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | |
|---|---|---|---|
| به کتلی وي | به کتلي وي | به کتلې وي | به کتلې وي |
| به منلی وي | به منلي وي | به منلې وي | به منلې وي |
| به بللی وي | به بللي وي | به بللې وي | به بللې وي |

**د لازمي کړونو اوړون په نږدې بشپړ راتلونکې کې :**

زه: به کړ ستړه+ی + یم لکه زه راغلی یم

ته: به کړ ستړه+ی + یې لکه ته راغلی یې

هغه نر: به کړ ستړه+ی + دی لکه هغه راغلی دی

هغه ښځه: به کړ ستړه+ې + ده لکه هغه راغلې ده

موږ: به کړ ستړه+ي + یو لکه موږ راغلي یو

تاسو: به کړ ستړه+ي + یئ لکه تاسو راغلي یئ

هغوی (نرینه): به کړ ستړه+ي + دي لکه هغوی راغلي دي

**ډېر کارېدونکي نالېږند کړونه:**

راتلل-تلل-وتل-لوېدل-شول-لمبېدل

زه: به + راغلی یم /تللی یم /وتلی یم /لوېدلی یم/شوی یم/لمبېدلی یم

ته: به +راغلی یې/تللی یې/وتلی یې /لوېدلی یې/شوی یې/لمبېدلی یې۔

هغه نر: به + راغلی وي/تللی وي/وتلی وي/لوېدلی وي/شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي/ لمېدلی وي

هغه ښځه: به +راغلې وي/تللې وي/وتلې وي/لوېدلې وي /شوې وي/ لمېدلې وي

موږ: به + راغلي يو /تللي يو /وتلي يو /لوېدلي يو/شوي يو/لمېدلي يو

تاسو: به + راغلي يئ/تللي يئ/وتلي يئ /لوېدلي يئ/شوي يئ/لمېدلي يئ

هغوی نر: به + راغلي وي /تللي وي/وتلي وي/لوېدلي وي/شوي وي / لمېدلی وي

هغوی ښځ.:به + راغلې وي/تللې وي /وتلې وي/لوېدلې وي/ شوې وي/ لمېدلې وي

**ځینې چارکړونه: ویل/خندل/لمبل**

| | | |
|---|---|---|
| ما به ویلي وي | ما به خندلي وي | ما به لمبلي وي |
| تا به ویلي وي | تا به خندلي وي | تا به لمبلي وي |
| هغه به ویلي وي | هغه به خندلي وي | هغه به لمبلي وي |
| هغې به ویلي وي | هغې به خندلي وي | هغې به لمبلي وي |
| موږ به ویلي وي | موږ به خندلي وي | موږ به لمبلي وي |
| تاسو به ویلي وي | تاسو به خندلي وي | تاسو به لمبلي وي |
| هغوی به ویلي وي | هغوی به خندلي وي | هغوی به لمبلي وي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نابشپړ راتلونکی مهال:**

۱: هغه کړنې چې په راتلونکي کې پیلیږي او تر یو وخته پورې دوام لري.

- تر څو چې رارسېدلې نه وي، ته به هغې ته انتظار کوې.
- سبا دا مهال به زه کار کوم.

۲ : د راتلونکي په اړه تصور او اټکل:

- یو وخت به ګاډي د ځمکې پرځای په هوا الوځي.
- یوه ورځ به ته ډېر نومیالی یې او خلک به دې پوښتنو ته راځي.
- یوه ورځ به نه یم او ته به راپسې ژاړې

۳: تکراري کړنې په راتلونکي کې:

- څو کاله وروسته به زه په ښوونځي کې درس ورکوم.
- کله چې مې زوی شپږ کلن شي، نو هره ورځ به یې وړکتون ته بوځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ناخبري وجه

يو کړ دی چې په اوس او تېرمهالونو کې ډول ډول حالتونه څرګندوي لکه: ارمان، هيله، ولوله، شونتيا، سپارښتنه، ليد(نظر)، توان، ټينګار او داسې نور.

په پښتو ژبه کې د ناخبري وجې څرګندولو لپاره کله نا کله د کړ سته پسې " الف " او "ی" تړل کيږي

## د ناخبري وجې حالتونه په تېرمهال کې:

## ارماني تېر مهال:

دناپوره کېدونکو ارمانونو څرګندولو لپاره ار کړ (اصلي فعل) پسې " ای " تړل کيږي.

که چېرې په جمله کې له ار کړ سره مرستيال کړ راشي، نو بيا يوازې هغه کې يو زيات "الف" راځي.

## بېلګې:

* کاش تا زه نازولای ← نازول ار کړ دی، نو يو "الف" پکې زياتيږي.

* کاش ته راغلی وای. ← دلته له ار کړ "راغلی"سره مرستيال کړ "وی" ، نو يوازې "وای" الف خپلوي او ار کړه په خپله بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاتې کیږي. په لنډه، "کاش ته راغلای وای" غوندېله ناسمه ده.

**شرطي تېرمهال:**

دا دارماني تېرمهال غوندې د ناپوره کېدونکو شرطونو څرګندولو لپاره هم کړ (فعل) یو "الف" خپلوي.

**بېلګه:**

* که ته راغلی وای ...← یوازې مرستیال کړ "الف" خپلوي.

**ټینګاري تېرمهال:**

د هغو کړنو څرګندولو لپاره چې په تېرمهال کې ترسره کېدای شوې یا پکار وه چې ترسره شوې وای، ارکړ "الف" خپلوي او که مرستیال کړ ورسره وي، بیا یوازې هغه.

**بېلګې:**

* زه به راغلی وای، خو شونې نه وه.
* ما به درکتلای او تا به راکتلای.
* ته باید راغلی وای.
* هغه باید کار کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**تواني تېرمهال:**

د ناپوره کېدونکو کړنو څرګندولو لپاره چې په تېرمهال کې ترسره کېدای شوې.

خو دلته بیا د پورتنیو حالتونو په شان یوازې ار کړ "الف" خپلوي اومرستیال کړ نه.

په لاندېینیو بېلګو کې "شول/شو" مرستیال کړونه دي.

**بېلګې:**

* هغه وکړای شول چې هلته لاړ شي.
* هغه راتلای شو، خو رانغی.
* هغوی کولای شول چې راشي.

**ګوماني تېرمهال:**

د تېر حالت په اړه ګومانونه څرګندوي. دلته بیا د کړ په سټه کې "الف" نه ورزیاتېږي. د شونتیا یا امکاني کړولونو (ښایي، ګوندې) او مرستیال کړ به په مرسته یې څرګندوو.

* دا ځمکه ډېره لنده ده، د شپې به ډېر باران ورېدلی وي.
* اوس دولس بجې دي. هغه ښایي اوس رارسېدلی وي.
* پر سړک ډېر پولیس ولاړ دي. ګوندې کومه ټرافیکي پېښه رامنځته شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**سپارښتي تېرمهال:**

تا باید دغه فلم کتلی وای، ډېر خوندور و.

**د ناخبري وجې حالتونه په نابشپړ اوسمهال کې:**

دلته اکثر د تېرمهالونو غوندې "ای" په کړ کې نه راځي. یوازې په توانې او ارماني حالت کې راځي.

**اړوتی یا شرطي:**

* که ته یې غواړې، نو دروایې خله.
* کله چې تا وینم، نو زړه مې خوشاله وي.
* که ډوډۍ خورې، نو راشه کېنه.

**تواني:**

* زه دا کار کولای شم

**سپارښتني:**

* دغه ډاکټر تل ورځه. ډېر ازمېښت (تجربه) لري.

**ټینګاري:**

* زه دې خفه یم، خو چې ته خفه نه شې.

**دعایي او غوښتني:**

* تا دې خدای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**امري او جريان ښيي:**

* لوبې کوئ، خو شور مه کوئ.
* ډوډۍ دې خوره، پورته ښکته مه ګوره.

**ارماني:**

* کاشکې چې تا اوس دلته وای.
* کاش ما ډېره ډوډۍ خوړلای.

**يادونه:** د دغه مهال کړ جوړښت له ارماني نابشپړ تېرمهال سره توپير نه لري.

**د ناخبري وجې حالتونه په بشپړ اوسمهال کې:**

**اړوتي يا شرطي:**

* که دا کر ورکړې ، بيا به ستا خبره ومنم.
* که ډېره ډوډۍ وخورې، بيا دې خېټه درد کوي.

**تواني:**

* دا کار چې وکړای شې، بيا پر نورو پيل وکړه.

**سپارښتي:**

* ته بايد دغه کتاب ولولې. ډېر په زړه پورې دی.

**ټينګاري:**

* زه دې خفه شم، خو ته خوشاله اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**امري:**

* دلته لوبې ونکړې.

**ارماني:**

* کاش چې دلته راشې.

په نا بشپړ اوسمهال کې کړنې یا حالتونه بشپړ نه وي او بشپړ اوسمهال کې بشپړ وي.

دا یو څو بېلګې وګورئ.

| نا بشپړ اوسمهال | بشپړ اوسمهال |
|---|---|
| زه کوم | (که) زه وکړم |
| زه وینم | زه ووینم |
| زه کولای شم | زه وکړای شم |
| زه ځم | زه لاړ شم |
| زه راځم | زه راشم |
| زه اخلم | زه واخلم |

**یادونه:**

په بشپړ اوسمهال کې اکثر تر کړ مخته "و" وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بېچار غږ:

بېچار غږ یا مجهول غږ د یوې غونډلې هغه بڼه ده چې موږ پکې تر کړند (فاعل) کړونې یا مفعول ته ډېر ارزښت ورکوو. په بله مانا، کړند یا هغه څوک، چې کړنه ترسره کوي، دومره اړین نه دی لکه پخپله هغه چار یا کړنه چې دی یې ترسره کوي، یا دا مانا لري چې موږ کړند ببخي پېژنو هم نه. په بېچار غږ کې د چارندې یا فعالې غونډلې مفعول پر کړند بدلیږي او جملې اصلي کړند "ډېری" غورځیږي. چارنده غونډله هغه جمله ده چې لږ تر لږه یوه فاعل او یو مفعول لري.

### یوه بېلګه د رڼاوي لپاره:

- **چارنده غونډله:**

کارګران یو لوی سړک پخوي.

- **بېچاره غونډله:**

یو لوی سړک پخیږي. یا یو لوی سړک د کارګرانو لخوا پخیږي دغې بېلګې ته له کتو وروسته دا جوتیږي چې کارګران په بېچاره جمله کې خپل ارزښت له لاسه ورکوي او کړنې "سړک پخول " ته اهمیت ورکول کیږي.

په اکثرو مهالونو ( اوس، تېر او راتلونکی مهال) کې بېچار کړ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



"شول" یا "کېدل" په مرسته اړول کیږي.

**یوه بېلګه:**

- چارنده غونډله:

هغوی ډوډۍ وخوړه.

- **بېچاره غونډله:**

ډوډۍ وخوړل شوه. یا ډوډۍ د هغوی لخوا وخوړل شوه.

له دې بېلګې څرګندیږي چې په بېچاره جمله کې کړ یا فعل له دوو برخو جوړ وي چې یو یې ارکړ (اصلي فعل) دی او یو یې مرستیال کړ "شول" دی.

**یادونه:**

کوم لوستونکی چې د ار او مرستیال کړ توپیر نه شي کولای، هغه دې د کړ ډولونو مخ وګوري.

اوس دې ته راځو چې په نورو مهالونو کې بېچار کړ څنګه ګردانیږي. لاندېنی جدول په پښتو کې د ډېر کاربېدونکو مهالونو یا زمانو بېلګې روښانوي.

**چارند نابشپړ اوسمهال:** (Active)

- زه یوه لیکنه کوم.

**بېچار نابشپړ اوسمهال:** (Passive)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- زما لخوا یوه لیکنه کېږي.

**چارند ساده بشپړ تېرمهال:** (Active)

- ما یوه لیکنه وکړه.

**بېچار ساده بشپړ تېرمهال:** (Passive)

- زما لخوا یوه لیکنه وشوه.

**چارند نابشپړ تېرمهال:** (Active)

- ما یوه لیکنه کوله.

**بېچار نابشپړ تېرمهال:** (Passive)

- زما لخوا یوه لیکنه کېده.

**چارند نژدې بشپړ تېرمهال:** (Active)

- ما یوه لیکنه کړې ده.

**بېچار نژدې بشپړ تېرمهال:** (Passive)

- زما لخوا یوه لیکنه شوې ده.

**چارند لیرې بشپړ تېرمهال:** (Active)

- ما یوه لیکنه کړې وه.

**بېچار لیرې بشپړ تېرمهال:** (Passive)

- زما لخوا یوه لیکنه شوې وه.

**چارند ساده بشپړ راتلونکی مهال:** (Active)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- زه به یوه لیکنه وکړم.

**ببچار ساده بشپړ راتلونکی مهال:** (Passive)

- زما لخوا به یوه لیکنه وشي.

**چارند نابشپړ راتلونکی مهال:** (Active)

- زه به یوه لیکنه کوم.

**ببچار نابشپړ راتلونکی مهال:** (Passive)

- زما له خوا به یوه لیکنه کیږي.

**چارند نژدې بشپړ راتلونکی:** (Active)

- ما به یوه لیکنه کړې وي.

**ببچار نژدې بشپړ راتلونکی:** (Passive)

- زما لخوا به یوه لیکنه شوې وي.

**اړینه یادونه:** په نابشپړ مهالونو کې کېدل د مرستیال کړ په توګه کارېږي او د بشپړو مهالونو کې شول.

**کله باید ببچار غبر وکارول شي؟**

په لاندېنیو حالتونو کې ببچار یا مجهول غبر کارول غوره دی:
← کله چې کړند یا فاعل څرګند نه وي:
بېلګه: د پلانکي ګاډی پرون غرمه تښتول شوی.
(موږ نه پوهېږو چې چا د پلانکي ګاډی تښتولی)

(c) ketabton.com: The Digital Library


← کله چې کړند اړین نه وي:
بېلګه: دغه ودانۍ په ۱۹۸۰ کال کې جوړه شوې ده.
( دا نه ده مهمه چې چا دغه ودانۍ جوړه کړې ده)
← کله چې یوه غوښتنه یا اشاره په ناسیده توګه ( غیر مستقیم) کول غواړي- هغه هم د دې لپاره چې سیده غوښتنه یا اشاره د مقابل لوري د خوابدۍ لامل ونه ګرځي.
بېلګه: دا کار باید ژر ترسره وشي، احمده.
(که وویل شي چې احمده ته باید دغه کار ژر ترسره کړې، نو بیا ښایي احمد دغه غوښتنه د یو سخت امر په توګه واخلي)
← په ساینسي یا اکاډمیکي مقالو کې کله چې موږ ونه غواړو چې له ځانه ارزونې ورکړو. هر څه باید د حقایقو او څېړنو پر بنسټ ولیکل شي.

## بېلګې:

ټولیزه بڼه ( چارند غږ):
موږ باید د "موضوع" کتنې او تاوانونه وتلو چې یوې پایلې ته ورسېږو.
غوره بڼه (بېچار غږ): یوې پایلې ته د رسېدو لپاره باید د "موضوع" کتنې او تاوانونه وتلل شي.
غوره بڼه (بېچار غږ): یوې پایلې ته د رسېدو لپاره باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library


"موضوع" ګڼي او تاوانونه وتلل شي.

ټولیزه بڼه (چارند غږ):
سړی له دغه لښتیلیکه (ډیاګرام) دا معلومات راخیستلای شي چې ...
غوره بڼه (بېچار غږ):
له دغه لښتیلیکه دا معلومات راخیستل کېدای شي چې ....

ټولیزه بڼه (چارند غږ):
زه د کتاب په څلورم څپرکي کې د "موضوع" ټولنیز اړخونه شنم.
غوره بڼه (بېچار غږ):
د کتاب په څلورم څپرکي د "موضوع" ټولنیز اړخونه شنل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ناسیده وینا

پر ناسیده وینا د پوهېدو لپاره موږ باید لومړی سیده وینا مانا کړو.

سیده وینا، چې مستقیم بیان هم ورته ویل کېږي، هغه وینا ده چې کله یو لیکوال یا اورېدونکی د بل چا خبره ټکي پر ټکي راولېږدوي. سیده وینا د " " ترمنځ لیکل کېږي.

د سیدې وینا بېلګې:

- احمد وویل: " زه پرون هلته لاړم".
- هغه وویل: " احمده، دلته مه راځه؟"

ناسیده وینا، چې غیرمستقیم بیان هم بلل کېږي، هغه وینا ده چې کله یو لیکوال یا اورېدونکی د بل چا خبره د "چې" اړیکوییکي په مرسته په خپله وینا بدله کړي، خو مفهوم یې پکې بدل نه شي.

که چېرې لومړنۍ دوې بېلګې ناسیدې وینا ته واړوو، نو په دې بڼه راځي.

- احمد وویل چې دی تېره ورځ هلته تللی و.
- هغه احمد ته وویل چې هغه دې هلته نه ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که چېرې دغو بېلګو ته وګورو، نو راجوتېږي چې په ناسیده وینا کې ځینې مهالونه، ځینې ځانګړي مهالي او ځايي کړولونه او نومځري بدلېږي. لومړۍ بېلګه کې "زه" پر "دی"، "پرون" پر "ورمه ورځ"،" لاړم" پر "تللی و" بدل شوی دی.
په بله بېلګه کې "دلته" پر "هلته" او "مه راځه" پر "دې نه ځي"بدل شوی دی.

کوم مهال پر کوم مهال بدلېږي؟

١: اوسمهال پر بشپړ تېرمهال بدلېږي:

- سیده وینا: هغه وویل:"زه دلته یم".
- ناسیدو وینا: هغه وویل چې دی هلته و.

**یادونه:**

که چېرې حقایق وي یا عمومي رښتیا وي، نو بیا اوسمهال پر ساده بشپړ تېرمهال نه بدلېږي.

**بېلګې:**

- سیده وینا: هغه وویل: "زه شل کلن یم".
- ناسیده وینا: هغه وویل چې دی شل کلن دی.

( ناسم: .... چې دی شل کلن و، ځکه چې لا هم شل کلن دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲: ساده بشپړ تېرمهال بڼې نه بدلیږي:

- سیده وینا: هغه وویل: " یو سورلنډي زموږ چرګه وخوړه".
- ناسیده وینا: هغه وویل چې یو سورلنډي د هغوی چرګه وخوړه.

۳: نژدې بشپړ تېرمهال بڼې نه بدلیږي:

- سیده وینا: هغه وویل: "له ما بکس ورک شوی دی".
- ناسیده وینا: هغه وویل چې بکس ترې ورک شوی دی.

۴: لیرې بشپړ تېرمهال همدا لیرې بشپړتېرمهال پاتې کیږي:

- سیده وینا: هغه وویل: " له ما دا خبره هېره شوې وه".
- ناسیده وینا: هغه وویل چې له ده دا خبره هېره شوې وه.

د راتلونکو مهالونو بڼې نه بدلیږي:

۵: ساده بشپړ راتلونکی

- سیده وینا: هغه وویل: " زه به ښار ته لاړ شم".
- ناسیده وینا: هغه وویل چې هغه به ښار ته لاړ شي.

۶: نابشپړ راتلونکی:

- سیده وینا: هغه وویل: " زه به کار کوم".
- ناسیده وینا: هغه وویل چې دی به کار کوي. او داسې نور

فرضي او شرطي مهالونه هم نه بدلیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- سیده وینا: هغه وویل: " ته باید دغه فلم وګورې"!
- ناسیده وینا: هغه وویل چې زه باید هاغه فلم وګورم.
- سیده وینا: هغه وویل: " که هغه راغلی وي، نو ماته دې زنګ ووهي".
- ناسیده وینا: هغه وویل چې که هغه راغلی وي، نو زنګ دې ورته ووهي.

کوم مهالي او ځایي کړولونه او نومځري په ناسیده وینا کې بدلیږي؟

√ دغه پر هغه بدلیږي
"دغه فلم وګوره" ← چې هغه فلم دې وګورم.

√ دلته پر هلته بدلیږي.
"دلته راشه" ← چي هلته ورشم.

√ نن په هغه ورځ بدلیږي.
" زه نن چیرې روان یم" ← چې دی هغه ورځ چېرې روان و.

√ پرون پر تېره/وړمه ورځ بدلیږي:
" هغه پرون هلته و" ←... چې هغه تېره ورځ هلته و.
√ تېر (ه) اوونۍ / کال پر یو(ه) اوونۍ / کال مخکې بدلیږي.
" احمد تېره اوونۍ کابل ته لاړ" ← چې احمد یوه اوونۍ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې ته تللی و.

√ سبا پر راتلونکې یا راروانه ورځ بدلیږي.

" زه سبا ښار ته ځم" ← چې هغه به په راروانه ورځ ښار ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د پښتو ژبدودیز پېرونه
# (Grammatical Cases of Pashto)

**کړندپېر:** (Nomiantive Case)

هغه ژبدویز حالت دی چې د " څوک یا څه کومه کړنه ترسره کوي؟" پوښتنې ځواب وايي. د کړنې تر سروونکي ته کړند یا فاعل ویل کیږي.

کړند یو نوم، نومځری یا یو څیز کېدای شي.

**بېلګې:**

۱: زه ښار ته ځم. ← زه: کړند؛ ځم: کړ

۲: ما ډوډۍ وخوړه. ← ما: کړند؛ وخوړه: کړ

۳: سپي توپ پسې منډه کړه. ← سپي: کړند؛ منډه کړه: کړ

یو کړند یا فاعل یوازې نوم یا نومځری نه، بلکې یو اوږد هم عبارت کېدای شي.

**بېلګې:**

۱: د هغه مرګ زه خفه کړم. ← د هغه مرګ: کړند: خفه کړم: کړ ( ځکه چې د کړند پوښتنه دا ده چې زه چا خفه کړم)

۲: هغه سړي، چې توري جامې یې اغوستې، ۵۰ تنه وژلي.

=>هغه سړی چې توري جامې یې اغوستې: کړند؛ وژلي: کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


( د کړند پوښتنه دا ده چې چا ۵۰ تنه وژلي)

**د دې تر څنګ یو بل ډول کړند هم شته:**

دا هغه کړند دی چې کړ یې په جمله کې بیا نوموي یا نښه اړیکه ورسره ښیي او د یو ستاینوم غوندې کړند تشریح کوي. دغه کړند د "څوک څه دی؟ " یا " څوک یا څه څنګه دی / دې؟ پوښتنې ځوابوي.

هغه کړونه، چې کړند په مستقیم ډول بیا نوموي یا نژدې تشریح کوي، تړکړونه ( د روابط کړونه) نومیږي. په پښتو کې تر ټولو ډېر کارېدونکی تړکړ "ول" دی چې یو شتون یا موجودیت څرګندوي. اوسمهالي بڼې یې یم / یې / دی / ده / یو / یئ /دي دي او د تېرمهال بڼې یې وم / وې / و/ وه/ وو/ وئ / وو دي. نور تړکړونه پېښېدل، ښکارېدل، محسوسول، پاتې کېدل، کېدل + شول او داسې نور.

**بېلګې:**

۱: هغه ښکلې برېښي. ( څوک څنګه برېښې؟)

۲: احمد ډاکټر دی. ( څوک څه دی؟)

۳: زه خوشاله یم.

۴: دا خبره درسره ښه نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوښتی یا مغیره پېر (Oblique Case):**

اوښتی حالت هغه ژبدودیز حالت دی چې په ی، ي او ه (زور) پایېدلي نومونه په څو حالتونو کې خپله بڼه بدلوي، که هغه یوګړی یا ډېرګړی وي.

**یوګړی (مفرد):**

"ی" پر "ي" اوړي لکه: سړی ← سړي

"ي" پر "ۍ" اوړي لکه: خوشالي ← خوشالۍ

"ه " پر "ې" اوړي لکه: ونه ← ونې

**یادونه:**

په "ې" او "ۍ" پایېدلي نومونه نه بدلېږي.

**ډېرګړی (جمع):**

ي، ې او ۍ پر اوږد "و" اوړي لکه سړیو، خوشالیو، ونو

**لومړی حالت:** تولپېر( Genetive)

په پښتو کې "د" ادات تول یا ملکیت څرګندوي چې تر یو نوم مخکې راشي.

**بېلګې:**

۱: د ژمي ساړه هر څوک نه شي زغملای. ( دلته" ژمی" پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


"ژمي"بدل شوی، دا چې "د" ادات یې مخته ولاړ دی)

۲: د دغې ونې پاڼې لا شنې شوې نه دي. ( دلته "ونه" پر "ونې" بدل شوی، دا چې "د" ادات یې مخته ولاړ دی)

۳: د هغې ښایست بېسارې دی. ( دلته "هغه"، چې ښځینه نومځری دی، پر "هغې" بدل شوی، دا چې مخته یې "د" ولاړ دی)

۴: د ډېرو سړیو په اند ښځې کم ارزښته دي. ( دلته "سړي"، چې د سړی جمع ده، پر "سړیو" بدل شوی، دا چې "د" ادات یې مخته ولاړ دی)

۵: نن د مورنیو ژبو نړیواله ورځ ده. ( دلته "مورنۍ ژبې" پر "مورنیو ژبو" بدل شوی، دا چې "د" ادات یې مخته ولاړ دی)

همدارنګه کمزوري ځاني نومځري ( مې، یې، دې، مو) هم د تول یا ملکیت نومځرو په توګه کارېدای شي.

**د کمزورو ځاني نومځرو بېلګې:**

۱: هغې مې زړه مات کړ. دلته "مې" زما مانا ورکوي.

۲: زما له ملګري مرسته وغواړه. زه یې تاته شمېره درکوم.

← دلته "یې " د ملګري مانا ورکوي، یانې د هغه شمېره.

په پښتو کې ځینې کړونه هم په تولپېر کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه کړونه د تولنومځري یا تولنوم ( د + نوم) په مرسته کارېږي.

**بېلګې:**

۱: د چا څه زده ول/کېدل:

لکه: زما انګرېزي زده ده / زما انګرېزي نه زده کېږي.

۲: د چا څه ول / شول:

لکه: د هغه تبه ده. / د هغې زوی پیدا شو.

۳: د چا څه یا څوک خوښېدل:

لکه: دا سندره زما نه خوښېږي.

۴: د چا له چا / څه بد راتلل:

لکه: زما له هغه بد راځي.

۵: د چا پر چا څه لورېدل / پېرزو کېدل:

لکه: د پلوشې پر خپل ورور ښه نه لورېږي.

۶: د چا څوک یا څه یادېدل:

لکه: زما وطن ډېر یادېږي.

۷: د چا څه له یاده وتل:

لکه: دا خبره زما له یاده ووته.

۸: د چا څه ته زړه کېدل:

لکه: زما ایس کریمو ته زړه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۹: د چا ساړه / ګرمي کېدل:
لکه: د اتل نن ډېر ساړه / ډېره ګرمي کیږي.
۱۰: د چا خوا بدېدل:
په ټوکو کې د احمد خوا بده شوه.
۱۱: د چا له چا / څه زړه تورېدل:
لکه: د توریالي له خپل ملګري نور زړه تور شو.

**دویم حالت:** سربلپېر (Prepositional Case)

کله چې یو سربل یا وستربل له نوم سره راشي، نو نوم خپله بڼه بدلوي. سربل او وستربل د بېلودونکو ګړونو یا مورفیمونو جوړه ده، چې په ګډه سره په یوه غونډله کې د یو نوم یا نومځري بدرګه کوي او له هغوی سره د یوې ځانګړې ژبدودیزې (ګرامري) اړیکې په موخه کارول کیږي. سربل او وستربل په ټولیز ډول یو ځای، لوری ، واټن، مهال او یوه پرتله/مقایسه څرګندولای شي.
**بېلګې:**
۱: ننګیالي ته مې وویل چې راشي. ( دلته ننګیالی پر ننګیالي بدل شوی، دا چې " ته" وستربل یې شاته ولاړ دی.
۲: پر منګي اوبه تېرې کړه. ( دلته منګی پر منګي بدل شوی، داچې "پر" سربل یې مخته ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳: دلته په اوړي کې هم ساړه وي. ( دلته اوړی پر اوړي بدل شوی، دا چې سربل په او وستربل کې ترې تاو دي).
۴: نجيبه له ځانګې سره ښار ته لاړه. ( دلته ځانګه پر ځانګې بدله شوه، دا چې سربل له او وستربل سره ترې تاو دي).

**درېيم حالت** : بلنپېر (Vocative)

په پښتو کې د نرينه او ښځينه وګړو د نومونو بڼې بدلېږي، کله چې غږ ورته وکړي يا په نورو ټکو، چې نومونه يې په لوړ غږ د رابللو، پوښتنې کولو او يا څه ته د پام کولو په موخه اخلي.
که د نرينه وګړي نوم په يو بېواک غږ (کانسو نېنټ) پايېدلی وي، نو زور (ه) ورپسې د غږ اخيستو پر مهال تړل کيږي.

**بېلګې:**

احمد ...... احمده لکه: احمده دلته راشه!
اتل ........ اتله لکه: اتله چېرې تللی وې؟
ننګيال ...... ننګياله لکه: ننګياله پام کوه چې ونه غورځيږې!
که چېرې د نرينه وګړي نوم په يو خپلواک غږ (واول) پايېدلی وي، نو بياد نوم اخيستو پرمهال زور (ه) نه ورزياتيږي. لکه ولي، عبدالله يا احمد شا. "ي" په ولي کې، "ه" په الله کې او "ا" په شا کې خپلواک غږونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځينه وګړي په نوم پسې د نوم اخيستو پرمهال اوږده "ې" تړل کيږي.

بېلګې:

نجيبه ..... نجيبې لکه: نجيبې دلته راشه!

ثانګه .... ثانګې لکه: ثانګې څه ويل غواړې؟

که چېرې د ښځينه وګړي نوم په "ۍ" (لکه سپوږمۍ)، په "ي" (لکه زروري، ګل بيبي)، په اوږد "و" ( لکه ارزو، ښارو) يا په يو بېواک غږ ( لکه نارګس) پايېدلی وي، نو بيا يې نوم پسې اوږده "ې" نه تړل کيږي.

**څلورم حالت**: تېرمهال (Past Tense)

په تېرمهال کې هم په ی/ ي/ او ه پايېدلي نومونه بدلېږي، کله چې په غونډله کې لېږند کړ راشي.

کړونه لکه: خوړل، څښل، نيول، وهل ... لېږند فعلونه دي

زه خورم، نو دا يوه بې مفهومه غونډله ده، خو "چېرې که ووايم که چېرې ووايم، نو زه ډوډۍ/ منه/ ... خورم، بيا بشپړ مفهوم ترې اخيستل کيږي، ځکه چې ډوډۍ، منه، ... يې مفعولونه دي

**بېلګې:**

اوسمهال: زمری غرڅنۍ خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تېرمهال: زمري غرڅنۍ وخوړه.
(دلته زمرى په زمري بدل شوى)
اوسمهال: نجيبه كالي مينځي.
تېرمهال: نجيبې كالي ومينځل. ( دلته نجيبه پر نجيبې بدل شوى)
اوسمهال: هغه ( ښځينه وګړى) اوبه څښي.
تېرمهال: هغې اوبه وڅښې. ( دلته هغه پر هغې بدل شوى)

**مفعول پېر** – Objective Case:
په پښتو كې لېږند كړ تل په جمله كې له يو مفعول سرهراوړل كيږي. هغه مفعول يو نوم، نومځرى يا كوم عبارت كېداى شي. كړونه لكه خوړل، نيول، وهل، څښل، اغوستل ... لېږند كړونه دي.

**بېلګې:**
۱: زه اوبه څښم. ( دلته كړ "څښم" دى او مفعول يې "اوبه" دي).
۲: هغه كبان نيسي. ( دلته كړ "نيسي" دى او مفعول يې "كبان دى)
۳: احمد زه ووهلم. ( دلته كړ "ووهلم" دى او مفعول يې "زه" دى).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: زه ډېرې خبرې نه شم کولای. ( دلته کړ " نه شم کولای" دی او ډېرې خبرې مفعول).

او مفعول دوه ډوله دی، چې دواړه له لېږند کړ سره په جمله کې راوړل کېږي. یو ډول یې سیده (Direct Object) بل یې ناسیده مفعول (Indirect Object)مفعول دی

سیده مفعول هغه دی چې ار کړ ( اصلي فعل) یې په مستقیمه توګه اغېزمنوي.

که لومړۍ بېلګه ( زه اوبه څښم) د شننې لپاره بیا راواخلو، نو اوبه سیده مفعول دی او څښنل ار یا کړ (Main Verb)دی.

ناسیده مفعول هغه دی، چې په غونډله کې له سیده مفعول سره اړیکه لري.

**بېلګې:**

۱: هغه ماته یوه ډالۍ راکړه. ( دلته "ماته" ناسیده مفعول دی او "یوه ډالۍ" سیده مفعول دی؛ او "راکړه" تولیز کړ دی.)

۲: احمد ملګري ته د خپل ټولګي انځور وښود. (دلته "خپل ملګري ته" ناسیده مفعول دی او " خپل ټولګي انځور" سیده مفعول).

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غونډله او ډولونه یې

## د غونډلې پېژندون:

غونډله یا جمله د وییونو ( لغتونو) هغه جوړښت دی چې یوه بشپړه وینا، اند یا پوښتنه څرګندوي. یوه مکمله غونډله باید لږ تر لږه یو کړ او یو کړند ولري، ګنې یوه غونډله نه بلل کېږي.

## بېلګه د رڼاوي لپاره:

• هغه ښار ته ځي. ← دلته کړند" هغه" دی او کړ "ځي" دی. که چېرې ولیکو چې "ښار ته ځي" یا " هغه ښار ته" نو بشپړ جاج (مفهوم) نه ترې اخیستل کېږي.

## ډولونه:

یوه غونډله خپلواکه کېدای شي چې اره (اصلي) غونډله هم ورته ویل کېږي او ناخپلواکه کېدای شي. اره غونډله هغه ده چې یواځې درېدای شي او بشپړ مفهوم لري. له همدې کبله ورته خپلواکه غونډله وایي.

ناخپلواکه غونډله، بلې خوا ته، هغه ده چې یواځې نه شي درېدای او نه بشپړ مفهوم ترې اخیستل کېږي چې کله یواځې راشي. پوهاند دوکتور زیار دغه غونډله پر څېرمه غونډله نوموي؛ په انګرېزۍ کې ورتهSubordinate Clauseوایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ټولیز ډول یوه غونډله له یوې ارې او له یوې څېرمې غونډلې جوړه وي. ډېرى یوه څېرمه غونډله د یو اړیکوییکي (ادات)په مرسته ارې غونډلې پسې تړل کېږي.
په پښتو ژبه کې د اړیکتورو بېلګې چې ، نو، کله چې، ځکه چې،چېرته چې، سره له دې چې او داسې نور دي.

## د ارو (اصلي) او څېرمو جملو بېلګې:

۱: ما یو سړی ولید چې کور ته ننوت.
" ما یو سړی ولید" اره غونډله ده او یواځې درېدای شي. "چې کور ته ننوت" څېرمه غونډله ده او یواځې نه شي درېدای.
۲: کله چې ډوډۍ وخورم، زه بهر ځم.
"کله چې ډوډۍ وخورم" څېرمه او " زه بهر ځم" اره غونډله ده.
۳: هغه خفه دی، ځکه چې له خپل ملګري سره یې جنګ کړی دی.
" هغه خفه دی" اره او " ځکه چې هغه ...." څېرمه غونډله ده.
۴: احمد هغه ځای ته لاړ چې د ده ژوند په خطر کې دی.
"احمد هغه ځای ته لاړ" اره او " چې د ده....." څېرمه غونډله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵: هغه سړی، چې هلته ولاړ دی، زما تره دی.
دلته "هغه سړی زما تره دی" اره غونډله ده چې یوې څېرمې غونډلې ( چې هلته ولاړ دی) وېشلې ده. په دې ډول جملو کې باید څېرمه غونډله له ارې غونډلې دیوې دمکۍ (کامې ،) په مرسته بېله شي چې اره غونډله سمه معلومه شي.

څېرمه غونډله په څو ډلو وېشل کیږي چې په هغو کې نومغونډله ستاینوم یا اړیکغونډله او کړولغونډله راځي.
نومغونډله هغه ناخپلواکه غونډله ده چې د یو نوم په توګه کوم کار ادا کوي. هغه نوم یا یو کړند کېدای شي (کړندغونډله) یا مفعول (مفعولغونډله).
په یوه کړندغونډله کې ټوله جمله د یو فاعل ځای نیسي.

**بېلګې:**

۱: له هغه سره ستا بد چلند زه خواشینی کړم.
دلته " له هغه سره ستا بد چلند" کړند یا فاعل دی چې کړنه یې "خواشینی کړم" ده.
۲: څوک چې زیار باسي بریالی کیږي.
دلته " څوک چې زیار باسي" کړند (فاعل) دی او کړنه یې "بریالی کیږي" ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په یوه مفعولغونډله کې ټوله جمله د یو مفعول ځای نیسي.

**بېلګې:**

۱: زه د بل چا زړه خفه کول نه غواړم.

دلته "زه" فاعل دی، "نه غواړم" کړ او " د بل چا زړه خفه کول" مفعول دی. غوښتل یو لېږند "کړ" دی او سیده مفعول ورسره راځي.

۲: زه نه پوهېږم چې ته څه غواړې.

دلته "زه" کړند دی، "پوهېږم" کړ دی او " چې ته څه غواړې" مفعول دی. پوښتنه دا ده چې زه په څه نه پوهېږم؟

ځواب: چې ته څه غواړې.

**ستاینومغونډله:**

ستاینومغونډله، چې اړیکغونډله هم بلل کېږي، هغه ناخپلواکه غونډله ده چې د یو ستاینوم غوندې یو نوم یا نومځری نژدې تشریحوي یا په اړه یې زیات معلومات ورکوي.

اړیکغونډله په یو اړیکنومځري پیلېږي.

اړیکغونډله له اړیکنومځرو سره:

۱: دا هغه کتاب دی چې ما تاته هر وخت یاداوه.

"چې" دلته اړیکنومځری دی چې کتاب نژدې تشریح کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲: زه هغو خلکو لپاره نه ژاړم چې زما اوښکې ورته ارزښت نه لري. دلته " چې" اړیکنومځری دی چې " هغه خلک" نژدې تشریح کوي.
۳: د هغو ماشومانو لاسنیوی وکړئ چې مور او پلار یې نه وي. دلته "چې" اړیکنومځری دی چې "هغه ماشومان" نژدې تشریح کوي.

**کړولغونډله:**

کړولغونډله هغه ناخپلواکه غونډله ده چې دکله، چېرته، ولې، په کوم شرط، څنګه پوښتنو ځوابونه وایي. کړولغونډله د یو کړول (قید) په مرسته معلومېږي. هغه کړول ځایي، مهالي، لاملي، شرطي، هدفي، پایلیز او د څرنګوالي کړول کېدای شي.
"چې" په پښتو ژبه کې نه یوازې د یو اړیکنومځري په توګه کارېدای شي بلکې د یوې موخې او یوې پایلې لپاره هم راتلای شي.
* "چېرته چې" یو ځایي کړول هم کېدای شي.
* کله چې، مخکې له دې چې "یا" وروسته له دې چې " مهالي کړولونه دي.
* لاملي کړول "دا چې" او " څکه چې" دي.
* شرطي کړول "که یا که چېرې" دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* ځانګړي کړولونه: سره له دې چې، ان دا چې، که څه هم ...
← دا کړولونه هغه پايلې ښيي چې تمه يې نه کېږي.

د پايلې کړول (چې):

- هغه دومره ډېره ډوډۍ وخوړه چې اوس يې خېټه خوږېږي.

د موخې يا هدف کړول ( چې):

- هغه ته غوږ ونيسه چې په ټولو خبرو پوه شې.

ځايي کړول ( چېرته چې):

- چېرته چې خوښ وې هلته پاتې شه.

مهالي کړول ( کله چې، مخکې له دې چې):

- کله چې دې زړه وغواړي، نو راشه.
- مخکې له دې چې نيوکه وکړې، فکر کوه.

لاملي کړول ( دا / ځکه چې):

- دا ماشوم خفه دی، ځکه چې لوبتکه ترې ورکه ده.

شرطي کړول ( که / که چېرې):

- که دغه پتلون دې خوښېږي، وايېخله.

ځانګړي کړولونه ( سره له دې چې/ ان دا چې):

- هغه ښوونځي ته ځي، سره له دې چې ناروغ دی.
- هغه په ازموينه کې بريالی نه شو، ان دا چې ډېر درس يې ورته ويلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مهم لیکدودیز توپیرونه

په دې څپرکي کې تاسو ته مهم لیکدودیز توپیرونه درپېژندل کېږي.

**زدکړه او زده کړه توپیر:**

زدکړه: دا د نوم په توګه کارول کېږي او د تعلیم مانا ورکوي.

زده کړه: دا د زده کولو، چې کړ دی، امري بڼه ده او هم یو تن ته د امر کولو مانا لري.

یوازې – یواځې:

یوازې: فقط / صرف Only

یواځې:

تنها/ګوښی

کلیځه ـ کالیځه:

کلیځه: جنتري /Calendar

کالیځه: سالروز Anniversary

پیل - پېل:

پیل: شروع/Start

پېل: دقیقه/Minute

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښيي – ښايي:

**ښيي:** د ښوولو اوړون دی په اوسمهال کې د درېيم کس لپاره (هغه ښيي).

**ښايي:** يول کړول (قيد) دی، چې د "کېدای شي" يا ګوندې مانا ورکوي ( ښايي زه دا کار وکړم).

اوس ـ وس:

اوس: همدامهال/Now

وس: توان/Ability

زه ـ ځه:

**زه:** لومړی تن يوګړی/I, me

**ځه:** د " تلل" امري بڼه ده يوه کس ته ( ځه، هلته لاړ شه)

پرخه ـ پرښه:

**پرخه:** شبنم / Dew

**پرښه:** خورا لويه ډبره

پښه ـ پخه:

**پښه:** د بدن هغه لاندېنۍ برخه چې ورون پرې ولاړ وي او پنځه ګوتې لري.

**پخه:** د پوخ ښځينه بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورونه ـ وروڼه:

**ورونه:** د ور دېرګړی (دروازې)

**وروڼه:** د ورور ډېرګړی

**پر او په توپیر:**

دا دواړه سربلونه (حرف پشین/Prepositions) دي، چې بېلو ځایونو کې له بېلو ماناوو سره کارول کیږي.

د 'پر' د کارونې حالتونه:

* لومړی حالت: یو سرمخ څرګندوي

**بېلګې:**

زما کتاب پر مېز (باندې) پروت دی.

هغه خپل شخولی ( بکس) د توښۍ پر سر اېښی دی.

* دویم حالت: د نېټو څرګندولو لپاره راځي.

**بېلګه:** هغه د کب میاشتې پر ۱۸ مه زیږېدلی دی.

* درېیم حالت: لاملونو څرګندولو لپاره راځي.

**بېلګه:** احمد یې پر څه وواهه؟

* څلورم حالت: تړاو یا اړوندتوب څرګندوي

**بېلګه:** زه د پښتو پر پنځه ییګانو یوه لیکنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**"پر" په ځينو لنډو ويناګيو کې راځي لکه:**

د ..... پر بنسټ، پر مهال، ورځ پر ورځ، ګام پر ګام، پر چا وياړل، پر چا مينېدل/ ګرانېدل، پرڅه بوختېدل، پر څه اخته کېدل.

**د 'په' د کاروني حالتونه:**

**لومړی حالت:** د "کې" وستربل په ملتيا ځای څرګندوي.

**بېلګې:**

زه په کور کې يم.

ننګيال په ښار کې اوسېږي.

**دويم حالت:** مهال يا وخت څرګندوي

**بېلګې:**

* زه په ۲۰۰۲ کال کې کابل ته راغلم.
* په تېره مياشت کې هغه کور ته لاړ.
* زه په درې بجو کور ته ځم.

**درېيم حالت:** له "کې" وستربل" سره د يو کتاب ، ليکنې، ورځپاڼې، خبرونو، لوست، سکالو يا منځپانګې لپاره

**بېلګې:**

* ما په دې کتاب کې ډېر انځورونه وليدل.
* په دې ليکنه کې ډېر نومونه راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په خبرونو کې مې واورېدل چې د بهرنیو چارو وزیر له دندې ګوښه شوی دی.

**څلورم حالت:** وسیله څرګندوي که تر څېزنومونو مخکې راشي.

**بېلګې:**

زه په بایسکل کور ته ځم.

دا سړی د ونې ښخ په برېښنانیي اره وهي.

**پنځم حالت:** څرنګوالي کړول (قید) په توګه کارېږي.

**بېلګې:**

* په تېزۍ سره
* په نرمه
* په سړه سینه
* په خوښۍ / خواشینۍ سره

"په" په ځینو لنډو ویناګیو کې راځي لکه:

په دې اړه، په دې ډول، د چا په اند/نظر

"پر" او "په" تمرین: سمه بڼه په نښه کړئ

۱: د بام په / پر سر یې کاشمالي کرلي دي.

۲: هغه په / پر دې اړه له چا سره نه غږېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳: په/پر دې موضوع ستا اند څه دې؟
۴: په / پر راتلونکې اوونۍ کې راشه.
۵: د راروانې میاشت په / پر ۲۶ مه به درشم.
۶: تاسو په / پر څه له ما خوابدي یاست؟
۷: خپل شخولی (بکس) دې په /پر ځمکه باندې مه پرېږده.
۸: زه د لغمان په / پر لوري ځمه.

**په کې / پکې توپیر:**

**په ... کې:**

په کې وحدت یو ځای څرګندوي، چې د "چېرته" پوښتنې ځواب " ځواب وايي. په سربل دی او کې وستربل دی چې بېلېدونکي ګړونه دي.

**بېلګې:**

- زه په کور کې یم.
- احمد په ښوونځي کې دی.
- ننګیال په ښار کې ژوند کوي.

**پکې:**

"پکې" یو ځايي کړول دی، چې درې بېلابېلو حالتونو کې راځي.
۱: یو ځای څرګندوي او له یو ځای سره د اړیکې په توګه کارول کېږي. دغه ویی د انګرېزۍ له insideسره سمون خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**بیلګې:**

- ماته هغه کلی خوند راکوي، څکه چې جانان مې پکې اوسیږي.
- هغه کوټه، چې زه پکې ناست وم، ډېره لویه وه.

۲: پکې یوې کړنې ته د نغوتې (اشارې) کړول په توګه کارول کیږي.

**بیلګې:**

- احمد په انګریزۍ کې تکړه دی، خو ورور یې پکې ستونزې لري.
- هغه څه، چې زه پکې کمزوری یم، سوکوهنه ده.

۳: پکې کله نا کله د "په اړه" مانا ورکوي.

**په خپله / پخپله توپیر:**

په خپله یو نومځری دی چې ځښتنوالی / تول ځرګندوي او د ځیز / شي ښځینه بڼې لپاره راځي لکه:

- په خپله خاوره سوله غواړم.
- احمد په خپله کوټه کې ناست دی.

پخپله هم یو نومځری دی، چې د یو کړند / فاعل په توګه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


کارول کېږي. دغه ویی د انګرېزۍ له oneself سمون خوري.

**بېلګې:**

- زه دغه کار پخپله کوم.
- احمد پخپله دلته راغی.

**تمرین:**

- په خپله / پخپله مورنۍ ژبه کې زدکړه کول د هر وګړي حق او ربښته ده.
- هغه له ما څکه غوښتنه وکړه، دا چې په خپله / پخپله یې نه غوښتل.
- هغه په خپله / پخپله کورنۍ کې له خپلې مور او خور سره ډېره مینه کوي.
- په خپله / پخپله خوله دې وویل، بل چا نه.
- په خپله / پخپله یې دغه کار هم کولای شو، خو د لټوالي له کبله یې په خپل ورور وکړ.
- دغه ستونزه یوازې ته په خپله / پخپله حلولای شې.
- که په خپله / پخپله خوښه دلته راشې، نو غوره به وي.
- څوک چې په خپله / پخپله ژبه نه شي غږېدای، نو داسې دی لکه یو بې اروا بدن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لومړی یې څه نه ویل، خو بیا یې پخپله / په خپله اقرار وکړ، چې دا کار ده کړی دی.
- هغه ماته وویل، چې زه درپسې درځم، خو زه پخپله / په خپله ورغلم.

**په خوا / پخوا توپیر:**

په خوا یو ځایي کړول دی، چې یو لوری یا ځای ښکاره کوي.

- زه د خپل ملګري په خوا کې ناست یم.
- که په دې خوا راغلې، نو ښه به وي.

پخوا یو مهالیز کړول دی، چې تېر شوی وخت ښکاره کوي د پارسي"قبلا " او د انګریزي له In the back days سره سمون خوري.

- پخوا به خلکو دغه کار نه کاوه.
- د پخوا په څېر ښه کار نه کوي.

**تمرین:**

- دا خبره یې ماته پخوا / په خوا کړې وه.
- زه د خپل ملګري په خوا / پخوا کې کېناستم.
- پخوا / په خوا به خلکو داسې کول، خو اوس یې دغه کار پرېښی دی.
- هغه تل د خپلې مینې په خوا / پخوا کې اوسېدل غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- که په خوا / پخوا دې ویلي وای، نو وژلی به یې وای.
- دا ښار ډېر بدل شوی دی، د په خوا / پخوا په څېر نه دی پاتې شوی.

**له خوا / لخوا توپیر:**

د ډېرو په اند خو به دواړه کوم مانیز توپیر ونه لري، خو د ژبدودیز / ګرامري لیدلوري له پلوه دواړه بېلې ماناوې لري.

له خوا: "له" سربل د خوا / لوري بدرګه کوي.

یاد سربل لوری څرګندوي، نو له دې جوتېږي، چې " له خوا" د لاندېنیو وییونو هممانیزونه دي.

له اړخه / له پلوه / له لوري

**بېلګې:**

له دغې خوا ډېر باد راځي.

زما له خوا ورته مبارکي ووایه.

**یادونه:** له .. خوا بېلېږي او تر نومونو چاپېرېږي.

**لخوا:** دا یو سربل دی، چې په مجهوله بڼه کې راځي او د یوې ترسره شوې کړنې کړند / فاعل څرګندوي،

چې په انګلیسي کې ورته by وایي.

**بېلګې:**

ګڼ شمېر ګټورې پروژې د نوي وزیر لخوا لګیا دي تر سره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


* دا کار د هغه لخوا وشو.

**تمرین:**

۱: که زما له خوا / لخوا مرستې ته اړتیا وي، نو چمتو یم.
۲: زما له خوا / لخوا دې تاسې ټولو ته مبارک وي.
۳ُ دا زما له خوا / لخوا یوه تېروتنه شوې وه.
۴: دا پرېکړه د ولسمشر له خوا / لخوا شوې وه.
۵: په ښوونځي کې د مدیر له خوا / لخوا د موبایل بندیځ یوه اندیپوښتنه تر سره شوه.
۶: باد له دغې خوا / دغې لخوا راغی.
۷: دا له یوې خوا / یوې لخوا ډېرې ګټې لري.
۸: دا زما له خوا / لخوا تاته ډالۍ.

**هم داسې / همداسې توپیر:**

**همداسې:**

یو کړولیز عبارت دی چې د یو حالت یا کړنې د څرنګوالي په پار کارول کیږي. کېدای شي په هره غونډله کې یوه ځانګړې مانا رامنځ ته کړي.

• ته همداسې ښه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- دا همداسې سم دی.
- هغه همداسې لګیا و کار یې کاوه.
- هو، همداسې ده.

له دغه غونډلو دې پایلې ته رسیږو "The way it is/ was" چې د همداسې ژباړه ده.

Yor are good the way you are.

It is correct / right the way it is.

He was working the way he was.

Yes, it's so / indeed!

**هم داسې:**

هم یو کړولیز عبارت دی چې د همغږۍ په خاطر کارول کیږي

**بېلګې:**

- ما ته هم داسې ښکاري چې هغه ښه سړی دی.
- ته هم داسې نااشنا خبرې کوې سړی پرې نه پوهیږي.

له دغو غونډلو دې پایلې ته رسیږو چې د هم داسې As well / too ژباړه ده.

**هم داسې او همداسې تمرین:**

- ماته یې هم داسې / همداسې یوه خبره وکړه.
- هغه ته یې هم داسې / همداسې یو کارټ ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- همداسې / هم داسې نه ده. تاته چا ناسم معلومات درکړي دي.
- ما لومړی هم داسې / همداسې فکر کاوه.
- ما چې کله خپل اند ورسره ګډ کړ، نو ده وویل، چې بلکل همداسې / هم داسې ده.
- دا ته هم داسې / همداسې غږېږې، شرمېږې نه ؟
- همداسې / هم داسې تبا بښه دی، چې موږ ته غوږ نه نیسي.

**که نه او کنه توپیر:**

**که نه:**

که نه د هغو پښتنو په پای کې راځي، چې ځوابونه یې ځرګند، یاني هو/ نه وي.

دا د انګرېزۍ له Whether … or not سره سمون خوري.

- ته زما خبره منې او که نه؟
- هغه کار دې وکړ او که نه؟
- هغه راغلی و او که نه؟

**کنه:**

دغه د تاکید یا ټینګار ویی دی چې په لاندېنیو حالتونو کې کارول کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱: د همغږۍ او تاييدولو لپاره لکه:

- هو کنه! ته رښتيا وايې.

۲: د يوې وينا موخه او مفهوم غښتلی او پياوړی کوي:

- همدا خو غم دی کنه!
- ما خو درته ويلي وو کنه!

۳: د مقابل لوري موافقې او د ځان ډاډمنولو په پار کارول کيږي.

**لکه:**

- همداسې ده، کنه؟
- ورځو به، کنه؟
- دا ګرانه ده، کنه؟

۴: پوښتنو او مثبت غونډلو کې:

- ته به ما ته ووايې چې ويې کړم، کنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تړوييونه او د دوی ارزښت په ليکنه کې:

د يوې اغېزمنې منځپانګې (محتوی) لپاره په يوه ليکنه يا مقاله کې له تړوييونو ګټه اخيستل دا جوتوي چې ليکوال يا ليکواله يو/ه لوستی / ې کس دی.
تړوييونه، چې په انګرېزۍ کې ورته لينکينګ وورډ وايي، هغو وييونو يا لفظونو ته ويل کېږي چې په يوه دليلي مقاله کې مفکورې سره تړي او ووبونه (کانټېکسټونه) ځلوي چې لوستونکي يې په اسانۍ سره ولوستلای شي چې موضوع څه ده او کومه خبره له کومې سره تړلې ده.

## مهم ټکي روښانول:

| | |
|---|---|
| دا يو ناردوونکی حقيقت دی چې | It's an undeniable fact that |
| بېلګه: دا يو ناردوونکی حقيقت دی چې ترهګري کوم مذهب نه لري. | |
| دا بې اړنګه خبره ده چې | it's without doubt that |
| بېلګه: دا بې اړنګه خبره ده چې ننګيال يو ډېر رښتينی سړی دی. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| Obviously | په څرګند ډول |
| بېلګه: دی په څرګند ډول نه پوهېږي چې په چاپېریال کې یې څه روان دي. | |
| Especially | په ځانګړې توګه /په ځانګړي ډول |
| بېلګه: ماته مرغۍ ډېر خوند راکوي، په ځانګړې توګه/په ځانګړي ډول کونګ. | |
| more importantly | لا اړینه دا ده چې |
| بېلګه: لا اړینه دا ده، چې موږ تر پېښېدو مخکې د دې مخنیوی وکړو. | |
| It has to be mentioned | دا باید یاده شي چې |
| بېلګه: دا باید یاده شي چې په پای کې دا موږ پورې اړه لري چې له ټولنیزو رسنیو څه ډول ګټه پورته کوو. | |
| It's worth mentioning | دا د یادونې وړ خبره /دا یادونړ خبره ده چې |
| بېلګه: دا یادونړ خبره ده چې د تېر کال په پرتله په ښوونیز سیستم کې ډېر مثبت بدلون راغلی دی. | |
| The point is worth to be mentioned and shouldn't be forgotten | یو یادونړ ټکی چې باید هېر نه شي دا دی چې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بېلګه: یو یادنوړ ټکی چې باید هېر نه شي دا دی چې ښځو ته دې په دغه ډګر کې حق ورکړل شي | |
| It has to be taken into account. | دا باید په غور/پام کې ونیول شي |
| بېلګه: دا باید په غور/پام کې ونیول شي چې د زده کوونکي د کورنۍ مالي وس څومره قوي دی. | |
| More essential is that | خورا اړینه دا ده چې |
| بېلګه: خورا اړینه دا ده، چې د دې ستونزې حلولو لپاره باید یو پلان په مخکیا کې طرحه کړو | |

## زیات معلومات یا دلیلونه ورکول یا زیاتې بېلګې راوړل:

| | |
|---|---|
| Another significant point is | یو بل د پام وړ ټکی |
| بېلګه: یو بل د پام وړ ټکی دا دی چې په ټولنیزو رسنیو کې ستا ځاني معلومات ناخوندي دي. | |
| Another important aspect that has to be mentioned | بل اړین اړخ چې باید یاد شي |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| بېلګه: د یوټوب یو بل اړین اړخ چې باید یاد شي دا دی چې سړی پکې پیسې ګټلای شي. | |
| سربېره پر دې | additionally /furthermore |
| بېلګه: موږ ته پکار ده چې پښتانه د مورنۍ ژبې پر ارزښت وپوهوو. سربېره پر دې، باید د ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه کې د زدکړې زمینه برابره شي. | |
| دې ته په زیاتو (باید وویل شي) | in addition to that |
| بېلګه: په اسلام کې د ښځو پر تعلیم ټینګار کېږي. دې ته په زیاتو باید وویل چې ښځینه وګړي د ټولنې نیمه برخه جوړوي. | |
| له دې پرته | besides |
| بېلګه: د ټولنیزو رسنیو یوه ګټه دا ده چې د نړۍ خلک یو بل ته نژدې کوي. له دې پرته،د فېسبوک کاروونکي هر ډول معلومات ترلاسه کولای شي. | |
| همداراز /همدارنګه | likwise |
| بېلګه: له ټولنیزو رسنیوسړی ښوونیز، کلتوري او پوهنیز معلومات بودلای (حاصلولای) شي. همدراز/همدارنګه خلک پخپله پانې او ډلې د بېلابېلو موخو لپاره جوړولای شي. | |
| بله دا چې | what's more |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بېلګه: ډېر انټرنېټ کارول سړی له ټولنیز ژوند لیرې ساتي. بله دا چې، انسان لټ کوي. | |
| له دې نه علاوه | furthermore |
| بېلګه: ډېر انټرنېټ کارول سړی له ټولنیز ژوند لیرې ساتي. له دې نه علاوه، انسان لټ کوي. | |
| یو بل مثبت/منفي اړخ دا دی | Another positive / negative aspect |
| بېلګه: د ټولنیزو رسنیو یو بل منفي اړخ دا دی چې سړی د خپل چاپېریال له خلکو لیرې ساتي. | |

**کله چې د یو څه منفي او مثبت اړخونه هممهال رڼول غواړو:**

| | |
|---|---|
| له یوې خوا ... له بلې خوا | on the one hand ... on the other hand |
| بېلګه: له یوې خوا فېسبوک ډېرې ګټې لري، له بلې خوا ډېر تاوانونه هم. | |
| له یو پلوه ... له بل پلوه | on the one hand .. on the other hand |
| بېلګه: له یو پلوه فېسبوک ډېرې ګټې لري، له بل پلوه ډېر تاوانونه هم. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| یوخوا ... بلخوا | on the one hand .. on the other hand |
| بېلګه: یوخوا فېسبوک ډېرې ګټې لري، بلخوا ډېر تاوانونه هم. | |

**بېلګې ورکول :**

| | |
|---|---|
| لکه | Like / such as |
| بېلګه: ډېرې بررګرې خوړل ډول ډول ناروغۍ زېږوي لکه ډیابېټ. | |
| د بېلګې/ساري/مثال په توګه | for example / instance |
| بېلګه: ډېرې بررګرې خوړل ډول ډول ناروغۍ زېږوي د بېلګې/ساري په توګه ډیابېټ. | |
| د یوې بېلګې پر بنسټ | on the basis of an example |
| بېلګه: ښوونکي زده کوونکي ته دغه فارمول د یوې بېلګې پر بنسټ توضیح کړ. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لاملونه او پایلې څرګندول:

| | |
|---|---|
| thus/hence | نو |
| بېلګه: که چېرې داسې وي، نو غواړم یې. | |
| that's why | نو ځکه |
| بېلګه: هغه ناجوړ و، نو ځکه ډاکټر ته لاړ | |
| for this reason / due to | له همدې کبله/لامله |
| بېلګه: خوشال له احمد سره ډېر بد چلند کاوه. له همدې کبله/لامله احمد له هغه سره ټولې اړیکې پرې کړې | |
| as a result of this | د دې په پایله کې |
| بېلګه: باتور په ښوونیز ډګر کې سپېڅلې مبارزه کوي. د دې زیار په پایله کې دولت هغه ته یو ستاینلیک ورکړ. | |
| the reason of .. is | د ... لامل /کبل دا دی |
| بېلګه: له خوشال سره د احمد د اړیکو پرېکولو لامل/کبل دا دی چې هغه به ورسره بد چلند کاوه. | |
| because | دا/ځکه چې |
| بېلګه: هغه وختې ډاکټر ته لاړ، دا/ځکه چې ډېر ناجوړ و. | |

## د شته حقیقتونو په شتون مخالف حالتونه روښانول:

| | |
|---|---|
| Although | سره له دې چې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بېلګه: اباسين نن ښوونځي ته ځي، سره له دې چې ناروغ دی. | |
| even though | ان دا چې |
| بېلګه: پاڅون هره ورځ کار ته ځي، ان دا چې يوه پښه يې ماته ده. | |
| even if | که څه هم |
| بېلګه: که څه هم ربښتين ډېرې ربړې او ستونزې لري، دی تل له نورو سره مرسته کوي. | |
| despite the fact | په داسې حال کې چې |
| بېلګه: ربښتين تل له نورو سره مرسته کوي، په داسې حال کې چې پخپله ډېرې ربړې او ستونزې لري | |

**بډ (مخالف) دليلونه راوړل:**

| | |
|---|---|
| but | خو/مګر |
| بېلګه: بهاند ډېر ځله نکام شوی دی، خو بيا هم تل هڅه کوي | |
| inversely | په اوښتې توګه (برعکس) |
| بېلګه: اتل ډېر سست او لټ زده کوونکی. د ده ورور په اوښتې توګه ډېر تکړه دی. | |
| in contrast to that | د دې پرخلاف |
| بېلګه: د زوړ سيستم پرخلاف ، دغه نوی سيستم ډېر پرمختګ کړی دی. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې شوې ټکي یا دلیلونه په بدله بڼه د ژر پوهېدنې لپاره بیا تکرارول:

| | |
|---|---|
| په بله وینا | in other words |
| بېلګه: مخالفې لوبډلې هېڅ ګول نه شو ویشتلای. په بله وینا، موږ سخته ماتې وركړه. | |
| په نورو ټکو | in other words |
| بېلګه: مخالفې لوبډلې هېڅ ګول نه شو ویشتلای. په نورو ټکو، موږ سخته ماتې وركړه. | |
| یانې | namely |
| بېلګه: مخالفې لوبډلې هېڅ ګول نه شو ویشتلای. یانې، موږ سخته ماتې وركړه. | |

**په پای کې تر ټولو مهم ټکي بیا راغونډول:**

| | |
|---|---|
| په ټوله کې باید وویل شي | in general it has to be said |
| بېلګه: په ټوله کې باید وویل چې دا موږ پورې اړه لري چې د رسنیو پر خبرونو څومره باور کوو. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| له پورتنیو دلیلونو /بېلګو دا روښانيږي چې | The examples / arguments given above make it clear that |
| بېلګه: له پورتنیو دلیلونو دا روښانيږي چې په علمي ډګر کې باید لا ډېرې څېړنې وشي | |
| په پای کې دا ویلای شو چې | eventually we can say |
| بېلګه: په پای کې دا ویلای شو چې له دغو ستونزو سره باید سړی همت له لاسه ورنکړي. | |
| په لنډو ټکو | in brief |
| بېلګه: کله موږ قانون ته درناوی کوو، ځینې نور ترې سرغړونه کوي. په لنډو ټکو، موږ قانون جوړوو او نور یې ماتول غواړي څه چې زموږ راتلونکي ګواښناک پرېوتلای شي. | |

| | |
|---|---|
| له هر څه په پام/غور کې نیولو سره | all things considered |
| بېلګه: له هر څه په پام/غور کې نیولو سره باید وویل شي چې د ځینو ربړو په شتون باید موږ همت له لاسه ورنکړو. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې په ليکنه يا مقاله کې د بل چا ليد ته اخځ ورکول غواړو

| | |
|---|---|
| د پلانکي په اند | in X opinion |
| بېلګه: د انديال په اند تاريخ تر جغرافيې ډېر غوره مضمون دی. | |
| پلانکی په دې/بل اند دی | X opines |
| بېلګه: لوراند په دې اند دی چې امريکا پر ايران بريد نه شي کولای. | |
| د پلانکي د نيز /اند/ليد له مخې | in X view |
| بېلګه: د زرلښتي د نيز/اند/ليد له مخې د تېر کال په پرتله سږ کال په خلکو کې ډېر شعور راغلی دی. | |
| د پلانکي د ليدلوري له پلوه | from x perspective |
| بېلګه: د ګلڅانګې د ليدلوري له پلوه منظور پښتين کولای شي چې خلک سره يو کړي. | |
| په دې اړه پلانکی يو بدل ليد لري | X has different opinion about that |
| بېلګه: په دې اړه پتيال يو بدل ليد لري او وايي چې په دې کې بايد موږ د يو بل ملاتړ وکړو او يواځې يې نه شو ترسره کولای. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| According to X's recent analysis/researches | د پلانکي د وروستيو شننو /څېړنې له مخې |
| بېلګه: د زلمي وروستيو شننو له مخې افغانستان په راتلونکي کال کې د ملي پانګې د زياتولو توان لري | |
| After his research, X has come to the conclusion that | - پلانکی له څېړنې وروسته دې پايلې ته راورسېد |
| بېلګه: ډاکټر بېګ له څېړنو ووسته دې پايلې ته راورسېد چې د سراطان ناروغۍ رغېدنې لپاره نورې اسانې لارې هم شته. | |

| | |
|---|---|
| X supposes that | پلانکی داسې انګېري/داسې ګومان کوي |
| بېلګه: ميرزا داسې انګېري چې داوود خان د افغانستان لومړنی ولسمشر و. | |
| X claims that | پلانکی دا ادعا کوي |
| بېلګه: ځلا دا ادعا کوي چې ورور يې خپل حق نه ورکوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| X brings his suggestion forward as followed | - پلانکی خپل وړاندیځ په لاندېني شکل رامخته کوي |
| بېلګه: لونګ خپل وړاندیځ په لاندېني شکل رامخته کوي: تر هر څه لومړی باید یوه فابریکه جوړه شي او بیا یو مارکېټ جوړ شي. | |
| X emphasizes that | پلانکی دا روښانوي /څرګندوي |
| بېلګه: میرویس دا روښانوي/څرګندوي چې د هلمند سنند اوبه راګرځول به د هېواد کرنیزه وده لا زیاته کړي. | |
| X necessitate that | پلانکی دا اړینوي چې |
| بېلګه: امېد دا اړینوي چې د جرګې لخوا دې پر ولور بندیځ ولګول شي. | |

| | |
|---|---|
| X makes it clear | پلانکی دا اوښاروي چې |
| بېلګه: زرغون دا اوښاروي چې په ښوونیز سیستم کې دغه بدلنونه ولې اړین دي. | |
| X shows the importance of ... in the following manner | پلانکی د ... ارزښت په لاندېنۍ بڼه څلوي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: باچاخان بابا  مورنیو ژبو کې د زدکړې ارزښت په لاندېنۍ بڼه ځلوي: "کوم قام ته چې خپله ژبه سپکه شي، نو هغه قام سپک شي، او له کوم قامه چې خپله ژبه ورکه شي، نو هغه قام ورک شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د تمرین سم ځوابونه

نرمه "ی" او که اوږده "ې":

۱: ننګیال یو ډاکټر دی او ددهٔ ښځه یوه "ښوونکې" ده.

۲: نن له زموږ کره "پاتې" شه.

۳: اباسینه "ژوندی اوسې".

۴: ته ولې دلته "راغلې"؟

۵: اجمل دلته نه "دی راغلی".

۶: "ښاغلی" ځلاند په ښوونځي کې یو "ښوونکی" دی.

۷: نجیب یو غښتلی سړی" دی.

۸: هغه ډېرې "خبرې کړې" دي.

۹: اوږده "ې" هغه یا ده، چې "لاندې باندې" ټکي لري.

۱۰: هغه موږ ته غوږ نه و "نیولی".

۱۱: "پسرلی" هغه ښکلی "دی"، چې ګلان "پکې" راشنه کیږي.

۱۲: زرین په روژه کې ډېر" تږی" کیږي او خور یې ډېره "وږې" کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نرمه "ی" او که لکۍ واله "ۍ":**

۱: "ښوونځی" د رڼا کور دی.
۲: هغه "لومړۍ" خبره بیا تکرار کړه!
۳: تا د لوړو زدکړو لپاره کوم" پوهنځی" غوره "کړی" دی.
۴: راځئ، چې "ډوډۍ" وخورو!
۵: هغه ډېر "خواشینی" شو.
۶: هغه ډېر خوابدی شو، چې کله یې د "خواشینۍ" خبر ترلاسه کړ.
۷: "ګلالۍ" ښکلې " نجلۍ" ده.
۸: دا یوه سپینه "زمرۍ" ده. ( یوه او ده ښځینه نومونو ته اشاره
کوي).
۹: پسرلی "هغه څېرکی دی چې ګلان پکې راشنه کېږي.
۱۰: ما ته لږه "پسرلنۍ" مېوه راوړه. (مېوه ښځینه نوم دی).
۱۱: "پورتنی " کتاب او "پورتنۍ" کتابچه راکړه.
* (کتاب نرینه او کتابچه ښځینه نوم دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اوږده "ې" او که لکۍ واله "ۍ":**

۱: نغمه ډېره "خواشینې" له ښوونځي راغله.
۲: د "خواشینۍ" پرمهال د قرآن تلاوت کول زړه ته سکون ورکوي.
۳: هغه "وروستۍ" خبره بیا تکرار کړه.
۴: هغه ماته "درې" منې راکړې.
۵: "بریالۍ" ښځې تل د خپلو بچو په روزنه کې پراخه ونډه اخلي.
۶: په "پورتنۍ" غونډله کې یوه تېروتنه ده. هغه باید سمه "کړې".
۷: "ملالۍ" دلته "راغلې" ده.
۸: د هغې "جینۍ" سترګې ډېرې "غلچکۍ" دي.
۹: راځئ، چې "ډوډۍ" وخورو!
۱۰: په عراق کې داعش ډلې یوه ښځینه "جنګیالۍ" نیول شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لکۍ واله "ۍ" او که همزواله "ئ":

۱: "راشئ"، چې "مړۍ" وخورو.

۲: تاسو دلته څه "کوئ"؟

۳: په "نړۍ" کې ډول ډول پښتونه (نژادونه) ژوند کوي.

۴: زما په "بېخبرۍ" کې يې دغه کار وکړ.

۵: دا ليکنه بايد تاسو ټول "ولولئ"!

۶: مهرباني "وکړئ"، دلته "کېنئ"!

۷: د ده د کور په هره کوټه کې يوه ستره "غالۍ" پرته ده.

۸: پر دې وړوکي سړک دومره ستره "لارۍ" نه شي تللای.

۹: د هغه لور لکه چې ناروغه ده. ډېره "نرۍ" برېښي.

۱۰: د هغې کشره خور کله هم په ازموينو کې نه "پاتيالۍ" کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لومړی کیسه

یو وخت یو هلک و، چې شپون و او د میږو رمه یې بووله او څارله. یوه ورځ دغه هلک له ډېرو څارلو ستړی شو او زړه یې تنګ شو. نو یوه انده یې ذهن ته ورغله، چې راځه، دا کلیوال د یوې ټوکې په موخه په یو چل وغولوم. ده په لوړ غږ دا چیغې وهلې: " اې خلکو مرسته "وکړئ"، لېوه"راپسې" دی، لېوه راپسې دی". کله چې یې کلیوالو غږ واورېد، نو په بېړه یې هلک ته ورمنډې کړې. کلیوال چې وروړسېدل او له ده یې وپوښتل، چې لېوه چېرته دی. دی خټ خټ له خندا ورته شین شو او ورته ویې ویل، چې تاسو ټول وغولېدئ او ما هسې تېرایستلئ.

څو ورځې وروسته دغه شپون هلک دغه چل بیا تکرار کړ او د مرستې غوښتو نارې یې پیل کړې. کله چې کلیوال په چټکۍ سره ورته راورسېدل او ویې لیدل، چې دغه هلک دوی بیا وغولول، نو ډېر ورته په غوسه شول. یو څو وخت وروسته یو لېوه ددغه هلک رمې ته راګډ شو او دده پر میږو یې برید وکړ. شپون هلک له ډاره د کلي پر لوري منډې وکړې او د مرستې چیغې یې ووهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ځل يې کليوالو داسې انګېرل، دغه هلک به ورسره بيا د تېرو دوو ځلو په څېر يو چل کوي، نو ورنغلل. کله چې هلک کلي ته راورسېد او کليوال يې سم خبر کړل، نو د رمې ژغورلو لپاره يې په ګډه ورمنډې "کړې. هغوی چې ورسېدل، نو مېږې ټولې مړې پرتې وې.

## دويمه کيسه

يوه ورځ يو ځوان سړی د ښار په منځ کې ولاړ و او خلکو ته يې ويل، چې دی په دغه سيمه کې تر ټولو ښکلی زړه لري ډېر خلک ورته راټول شول او ددغه سړي زړه يې ستايه، ځکه چې بشپړ و. نه پکې ټکي وو او نه پکې تېروتنې برېښېدې. دوی ټولو دده اند تاييد کړ او دا يې ومنله، چې دومره ښکلی زړه يې تراوسه چېرته نه و ليدلی. نوموړي ځوان په دې شېبه ډېر وياړ وښود او ځان يې لا ښايه.

په ناڅاپه ډول په دې لارغه يو زوړ سړی په دې خلکو کې رانښکاره شو او دې ځوان سړي ته يې وويل، " ستاسو د زړه ښايست دومره نه دی لکه زما د زړه چې ښومره دی". نوموړي ځوان او هغه نورو خلکو ددغه بوډا سړي زړه ته ځير شول.

هغه (د زوړ سړي زړه) سخت ګړبېده، خو له داغونو ډک و، دا چې ځينې وړې برخې يې ليرې شوې وې او ځينې نورې زړې

(c) ketabton.com: The Digital Library


تشې په نورو نویو پوښول شوې وې. خو هغوی سره سمون نه خوړ او ځینې ګوټونه (کونجونه) یې شلېدلي وو. همدا راز یې زړه ځینې دچې (وړې کندې) درلودې. خلکو په ځیر ځیر ورته کتل او له ځانونو سره یې دا اندل چې دغه بوډا څنګه داسې انګېرلای شي، چې دده زړه د هغه ځوان سړي تر زړه ډېر ښکلی دی.

زاړه سړي ځواب ورکړ: هو ستاسو زړه روغ او بشپړ ښکاري، خو هېڅکله به خپل زړه ستا پر زړه ورنکړم. زما د زړه هر داغ د یوه انسان لپاره دی، چا ته چې ما مینه ورکړې. زه مې له زړه یوه ټوټه راغوځوم او دوی ته یې ورکوم او کله نا کله دوی هم ماته د خپلو زړونو ټوټې راکوي، چې زما د زړه دا تشې ډکې کړي. خو دا چې سم نه ورسره "جوړېږي"، نو ځینې څنډې یې ځیږې وي. زه هغه بیا هم ارزوم. ځکه چې ماته هغه مینه رایادوي، چې موږ به له یو بل سره وېشله. کله نا کله مې ځینو ته د زړه ټوټې ورکولې، بې له دې چې دوی یې هم راکړي، نو همدا لامل دی، چې زړه مې لږې کندې او دچې هم لري. مینه ورکول کله نا کله ځان په خطر کې د اچولو مانا هم وي. که څه هم دغه پرهارونه لا تازه دي او خوږیږي، بیا هم ماته خپله مینه رایادوي، چې هغو وګړو سره مې لرله. زه هیله لرم، چې یوه ورځ به دوی بېرته راشي"ږ او زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ټولې تشې ډکې کړي. زاړه وریسې زیاته کړه، بنه نو اوس پوه شوې، چې اصلي ښکلا د یو

زړه څه ته وایي ؟

هغه ځوان سړی غلی ولاړ و او پر مخ یې اوښکې رابهېدې. هغه دې بوډا ته ورنژدې شو او له زړه یې یوه ټوټه راوشکوله او دې بوډا سړي ته یې ورکړه، چې لږ تر لږه یې یوه تشه ورډکه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کړ اوړون تمرین:

| | | |
|---|---|---|
| **کول** | | |
| زه کوم | ته کوې | هغه کوي |
| موږ کوو | تاسو کوئ | هغوی کوي |
| **نیول** | | |
| زه نیسم | ته نیسې | هغه نیسي |
| موږ نیسو | تاسو نیسئ | هغوی نیسي |
| **تلل** | | |
| زه ځم | ته ځې | هغه ځي |
| موږ ځو | تاسو ځئ | هغوی ځي |
| **رسېدل** | | |
| زه رسېږم | ته رسېږې | هغه رسېږي |
| موږ رسېږو | تاسو رسېږئ | هغوی رسېږي |
| **مینځل** | | |
| زه مینځم | ته مینځې | هغه مینځي |
| موږ مینځو | تاسو مینځئ | هغوی مینځي |
| **لرل** | | |
| زه لرم | ته لرې | هغه لري |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| موږ لرو | تاسو لرئ | هغوی لري |

**د یو واو او دوو واوونو تمرین:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| کوونکی | ښوونکی | څېړونکی | منونکی |
| لېږونکی | شنونکی | نیوونکی | پلورونکی |
| لوستونکی | اورېدونکی | پېرودونکی | هېروونکی |

**لاندېني کړونه نومونو ته واړوئ:**

**پر او په تمرین:**

۱: د بام پر سر يې کاشمالي کرلي دي.

۳: هغه په دې اړه له چا سره نه غږېږي.

۴: پر دې موضوع ستا اند څه دی؟

۵: په راتلونکې اوونۍ کې راشه.

۶: د راروانې میاشت پر ۲۶ یمه به درشم.

۷: تاسو پر څه له ما خوابدي یاست؟

۸: خپل بکس دې پر څمکه باندې مه پرېږده.

۹: زه د لغمان پر لوري ځمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**په خپله او پخپله تمرین:**

۱: په خپله مورنۍ ژبه کې زدکړه کول د هر وګړي حق او ربښته ده.

۲: هغه له ما ځکه غوښتنه وکړه، دا چې پخپله یې نه غوښتل.

۳: هغه په خپله کورنۍ کې له خپلې مور او خور سره ډېره مینه کوي.

۴: په خپله خوله دې وویل، بل چا نه.

۵: پخپله یې دغه کار هم کولی شو، خو د لټوالي له کبله یې پر خپل ورور وکړ.

۶: دغه ستونزه یوازې ته پخپله حلولای شې.

۷: که په خپله خوښه دلته راشې، نو غوره به وي.

۸: څوک چې په خپله ژبه نه شي غږېدای، نو داسې دی لکه یو بې اروا بدن.

۹: لومړی یې څه نه ویل، خو بیا یې پخپله اقرار وکړ، چې دا کار ده کړی دی.

۱۰: هغه ماته وویل، چې زه درپسې درځم، خو زه پخپله ورغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


**په خوا او پخوا تمرين:**

۱: دا خبره يې ماته پخوا کړې وه.

۲: زه د خپل ملګري په خوا کې کېناستم.

۳: پخوا به خلکو داسې کول، خو اوس يې دغه کار پرېښی دی.

۴: دا ډېر پخوانی انځور دی.

۵: هغه تل د خپلې مينې په حوا کې اوسېدل غواړي.

۶: که پخوا دې ويله وای، نو وژلی به يې وای.

۷: دا ښار ډېر بدل شوی دی. د پخوا په څېر نه دی پاتې شوی.

۹: که زموږ په خوا راغلې، نو د يو سلام لپاره راشه.

۱۰: پخوانۍ کيسې پرېږده. نوې خبرې وکړه!

۱۱: دا کار يې پخوا کړی که اوس؟

**له خوا او لخوا تمرين:**

۱: که زما له خوا څه مرستې ته اړتيا وي، نو چمتو يم.

۲: زما له خوا دې تاسو ټولو ته اختر مبارک وي،

۳: دا پرېکړه د ولسمشر لخوا وشوه.

۴: زما لخوا يوه تېروتنه شوې ده.

۵: په ښوونځي کې د مدير لخوا د موبايل بنديځ يوه اندپوښتنه ترسره شوه.

۶: باد له دغې خوا راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۷: له يوې خوا ډېرې ګټې لري او له بلې خوا زيانونه هم.

**چېرې او چېرته تمرين:**

۱: بلاله ته اوس چېرته اوسېږې؟
۲: ته چېرې تللی وې، زه درپسې ګرځېدم.
۳: چېرې روان يې؟ که ښار ته ځې، نو زه هم درسره ځم.
۴: هر چېرته چې وې، خوشاله اوسې.
۵: زه چې هر چېرې تلل وغواړم، نو ځم.
۶: زويه وګوره، چې ستا پنډوسکی چېرته پروت دی. ځو به يې درنه پټ کړي.
۸: زه په کټ کې ځملم او ته چېرته ځملې، په کټ کې يا پر ځمکه.
۹: هغه چېرې لاړ؟ ماته يې هېڅ ونه ويل.
۱۰: تاسو چېرته پاتې کېږئ؟
۱۱: خدای خبر، چې هغه به چېرته پټ وي. هېڅ يې نه شم پيدا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**هم داسې او همداسې توپیرونه:**

۱: ماته یې هم داسې یوه خبره وکړه.

۲: هغه ته یې هم داسې یو کارټ ورکړ.

۳: همداسې نه ده. تاته چا ناسم معلومات درکړي دي.

۴: ما لومړی هم داسې فکر کاوه.

۵: ما چې کله خپل اند ورسره ګډ کړ، نو ده وویل، چې بلکل همداسې ده.

۶: دا ته هم داسې غرېږې، شرمېږې نه؟

۷: همداسې تبا ښه دی، چې موږ ته غوږ نه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## وییپانګه

Word: وی wajai

words: وییونه wajuna

sentence: غونډله ɣwanɖəla

language: ژبه ʒəba

singular: یوګړی jawgaɻai

plural: ډېرګړی ɖergaɻai

gender: نوږی noʝai

male: نرینه narina

female: ښځینه çadzina

letter: توری torai

letters: توري tori

obejct: مفعول maf'uːl

subject: کړند kaɻənd

end: پای paːi

ebdings: پایونه paːjuna

form/shape: بڼه baɳa

prevention: مخنیوی məxniwai

week: اوونۍ ownəi

(c) ketabton.com: The Digital Library


example: بېلګه belga

use: کارول kaːrawəl

usage: کارونه kaːrawəna

representation: استازيتوب aːstaːzitob

contents: منځپانګه məndzpaːnga

training: تمرين tamrin

relation or contact: اړيکه aːɻika

except: له... پرته

reason: لامل /کبل laːmel/ kabəl

difference: توپير tawpir

translation: ژباړه ʒbaːɹa

agreement: همغږي həmɣəʝai

rule: قاعده kaːida

obvious: جوت / ځرګند dʒawət/ tsargənd

dependant: خپلواک xpəlwaːk

independant: ناخپلواک naːxpəlwaːk

modus: ځرنګوالی tsarəngwaːlai

reference: اخځ aːxədz

derivation: بېلښت beləçt

(c) ketabton.com: The Digital Library


compound: ترښت taɭəçt

subordinate clause: څېرمه غونډله tserma ɣwanɖəla

main clause: اره غونډله aːra ɣwanɖəla

adverbial clause: کړولغونډله laɹwəlɣwanɖəla

particle : وییکی wajikai

morphology: ګړپوهنه gəɭpohəna

phonology: غږپوهنه ɣəʝpohəna

adjective clause: ستاینومغونډله staːinom ɣwanɖəla

noun clause: نومغونډله nom ɣwanɖəla

object clause: مفعولغونډله maf'uːl ɣwanɖəla

subject clause: کړندغونډله kəɭ ɣwanɖəla

relative clause: اړیکغونډله aːɭik ɣwanɖəla

grammatical case: ژبدودیز پېر ʒabdodiz per

passive voice: بیچار غږ betʃaːr ɣəʝ

active voice: چازند غږ tʃaːrənd ɣəʝ

subjunctive: ناخبري وجه naːxabri wədʒa

morpheme: ګړ gəɭ

(c) ketabton.com: The Digital Library


bound morpheme: ناخپلواک ګړ na:xpəlwa:k gəɻ

free morpheme: خپلواک ګړ xpəlwa:k gəɻ

nominativ: کړندپېر kaɻəndper]

genetiv: تولپېر tolper

dativ: ناسیده مفعولپېر na:sida maf'u:lper

accusative: سیده مغعولپېر sida maf'u:lper

oblique case: اوښتی پېر a:wəçtai per

local: ځايي dza:ji

temporal: مهالي məha:li

causal: لاملي la:meli

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اخځليکونه

* پښتو پښويه - پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار – ۲۰۰۵
* پښتو ليکنی سمون - پوهاند اسمعيل يون
* پښتو ويیپوهنې او غږپوهنې - پوهنوال محمد صابر خويشکي – ۲۰۰۱

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library